بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی باب- جزائې دعوی

لومړی فصل

## هغه کسان چه د جزائې دعوی سورولو صلاحیت لري

## د غوښتنې په موجب د دعوی سورولو موارد

لومړی ماده: د جزائي دعوي سورولو او تعقیبولو صلاحیت یواځي څارنوالي لري، بل څوك نه شي کولای چه هغه سوره یا تعقیب کړي، مگر د هغو حالاتو نه پرته چه قانون ښودلي وي.

د جزائي دعویې پریښودنه او ځنډونه یې د هغو حالاتو نه چه قانون ښودلي وي جواز نلري.

دوهمه ماده: لوي څارنوال پخپله یا د څارنوالي د غړي په لاس جزائي دعوي سوروي او د قانون د احکامو مطابق یې تعقیبوي .

دریمه ماده: که چېرې جزائي د عوي د یو جرم د ارتکاب له کبله د خارجي دولتونو د مشرانو یا د افغانستان د دولت په وړاندې د هغو د سیاسي نمایندگانو خلاف را ولاړه شوی وي نو د هغې سورونه د عدلیې وزیر د لیکلي غوښتنې نه پرته جواز نلري.

څلورمه ماده: د شورې، محکمو، حکومت، اردو، او د دولت د ادارو د سپکاوي د جرمونو په باب تحقیق او دجزائي دعوي سورول او هر قسم تکل کول د دغو موسسو او ادارو د واکمنو مقاماتو د لیکلي غوښتني نه پرته جواز نه لري.

پنځمه ماده: په پورتنۍ ماده کښې راغلي غوښتنوال د حکم د صادریدلو نه لومړی په هره موحله کښې چه وغواړي دعوي ترك کولای شي.

جزائي دعوی په ترك ساقطیږي. دعوي که د یو نفر تورن په باب هم ترك کړی شي دا د نورو ترونو په باب هم ترك گڼل کیږي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم فصل
## د سترې محکمې یا جنایاتو د محکمې په امر د جزائې دعوې سررونو

شپږمه ماده: که چېرې د جنایاتو محکمه په هغه دعوې باندې د غور کولو په وخت کښې چه د هغې په وړاندې دائره ده تشخیص وکړي چه په یوشمیر تورنو کسانو باندې دعوې نه ده سوره شوې یا په دعوې کښې داسې پیښې شته دې چه توریې په چا پورې نه دي تړل شوي یا داسې جنایت او جنحه وجود لري چه په تورنو کسانو باندې د پورې شوي تور سره تړون لري محکمه کولاى شي چه په دغسې کسانو باندې یا د دغسې پیښو او جرمونو له کبله دعوې سوره کړي. او محکمه کولاى شي چه ددغسې جرمونو او تازه پیښو په تحقیق لاس پورې کړي او د خپلو غړوله منځه یوتن د تحقیق په اجرا کولو مکلف کړي.

په دې صورت کښې په تحقیق باندې د موظف شوي شخص په باب د تحقیق د قاضې ټول احکام تطبیق کیږي، بیا د جنایاتو محکمه د دې قانون د احکامو مطابق د موضوع د پریکړون اقدام کوي.

اوومه ماده: ستره محکمه کولاى شي په هغه اعتراض باندې د غور کولو په وخت کښې چه دیوې لاندینې محکمې د فیصلې خلاف ورته په دوهم ځل وړاندې شوي وي د جزائې دعوې د سورولو په باب د پورتنۍ مادې مطابق اقدام و کړي.

اتمه ماده ; که چېرې په ستره محکمه یا د جنایاتو په محکمه کښې په یوه موضوع باندې د غور کولو په وخت کښې داسې جرم پیښ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د دعوي په جريان، د محکمې په اوامرو يا حيثيت او احترام کښي خلل واچوي يا د محکمې په قضاوت يا د شاهدانو په شاهدئ تاثير وکړي دغه محکمې کولای شي چه د دې قانون د شپږمي مادي په حکم برابر د جزايي دعوي د سورولو اقدام وکړي.

## دريم فصل
## د حق العبد مدعي له خوا د دعوي سورونه او تعقيب

نهمه ماده: د حق العبد مدعي کولای شي چه د قباحتونو او جنحـــو په باب پخپله د تورن خلاف د دې قانون د ۲۰۹ – ۲۱۰ – ۲۱۱ مادو د احکامو له مراعات سره سره دعوي سوره کړي مگر هله نه چه:
اول: د دعوي په عدم سمع باندې غوڅ پريکړي حکم صادر شوی وي.
دوهم: دعوي د دولت د يو مامور، يا مستخدم او يا د قضائي ضبط د يو مامور خلاف وي او د داسي جرم نه راولاړه شوی وي چه وظيفي د په ځاي کولو په وخت يائي د وظيفي په سبب دده له خوا ارتکاب شوی وي.

## څلورم فصل
## د جزائي دعوي سقوط

لسمه ماده: جزائي دعوي د تورن په مرگ ساقطيږي، که چيرې تورن په دعوي باندې دغور په دوران کښي مړوي، دامړينه دهغو شيانو د مصادره کولو د حکم نه مانع کيږي چه جوړول، په کارول، ساتـل، پلـورل او د خرڅلاو بازار ته ويستل ئي په خپل جرم گڼه شي.

يوولسمه ماده: که چيرې جزائي دعوي په جنائي موادو کښي دپېښي له نيټې نه ترلسو کلونو، د جنحي په موادو کښي دپېښي له نيټې نه تردرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو او د قباحت په موادو کښي د پېښي له نیټې نه تر یوکال
پورې تعقیب نه کړی شي ساقطیږي، مګر هله نه چه قانون ئي
په عکس تصریح کړي وي.

دولسمه ماده: د هغو مواردو نه پرته چه قانون په صراحت حکم کړي وي هیڅ
سبب د هغي مودي په امتداد کښي خلل نه شي پریویستلي چه د
جزائي دعوي د سقوط د پاره ټاکل شوي ده.

دیار لسمه ماده: د جزائي دعوي د سقوط موده د تحقیق، پوښتیدلو، محاکمي
او دلیلونو په ټولونه قطع کیږي خوپه دي شرط چه دغه اجراآت د
تورن په مخکښي شوي یاور ته په رسمي صورت ابلاغ شوي
وي، دغه موده د قطع کیدوله ورځي څخه سمدستي بیا شروع
کیږي.
که چیرې د دعوي د سقوط د مودې جریان ځوواري قطع شوي
وي نو بیاد کیدو روستي ورځي له نیټې څخه شروع کیږي.

څوار لسمه ماده: د تورنو د تعدد په صورت کښې دیو په باب د دعوي د سقوط
د مودي قطع کیدنه د نورو په باب هم حسابیږي که څه هم د
دعوي د سقوط د مودې د قطع کیدو اجراآت د دوي خلاف نه
وي شوي.

## دوهم باب
## د دلایلو ټولونه او د دعوي سورونه
## لمړي فصل
### د قضایي ضبط مامورین او د هغوي ذمه واري

پنځلسمه ماده: د قضائي ضبط مامورین د خپلو صلاحیتونو په ونډونوکښي
داکسان دي:
۱: د ځارنوالي غړي.
۲: د پولیسو ضابطان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عدليي وزير د مربوط آمر په موافقه يوشمير مامورينو ته د
هغو جرائمو په باب چه ددوي د ماموريت په ونډ کښي واقع
کيږي او ددوي په وظيفه پورې تړون لري د قضائي ضبط د
مامورينو حيثيت ورکولي شي.

شپاړسمه ماده:د قضائي ضبط مامورين په دي وظيفه پورې د تړلو چارو د
اجراء کولو په باب دلوي څارنوال د امرونو تابع دي. څارنوال
کولي شي يو واکمن مقام د دې وظيفي په اجرا کښي د هغه پل
غلطۍ او بې پروائی په موضوع باندې د غور کولو دپاره موظف
کړي چه د قضائي ضبط ديو مامورله خوا واقع کيږي. همدغه
شان دي ددغه مامور خلاف د تاديبي دعوي د سوررولو غوښتنه
کولي شي. دا ټول اجراآت د جزايي دعوي دسوررولو مخه نه
نيسي.

اوولسمه ماده: د قضائي ضبط مامورين د جرمونو او د هغو د مرتکبينو د
موندلو او دهغو دليلونه د راټولوپه باب چه د جرم د تحقيق او د
جزائي دعوي د سوررولو د پاره لازم دي اقدام کوي.

اتلسمه ماده: د قضائي ضبط مامورين مکلف دي چه جزائي اطلاعيې او په
جرمونو پورې مربوطي استغاثي واخلي او ډيرې ژرئي څارنوال
ته وليږي . دغه شان د قضائي ضبط مامورين او د هغونه لاندي
کسان مکلف دي چه ټول ضروري توضيحات لاس ته راولي او
هغه کتني وکړي چه دوي ته په اطلاعاتو کښي د رسيدلو يا د
هغو پيښو د تحقيق په کار کښي چه دوي ته په اطلاعاتو کښي د
رسيدلو يا د هغو پيښو د تحقيق په کار کښي چه دوي ته
ابلاغيږي آسانتيا راولي.

دوي په دې هم مکلف دي چه د جرمونو د نښو نښانو د ساتلو د
پاره لازم ترتيبات ونيسي.

نولسمه ماده: د قضائي ضبط مامورين د دلايلو د راغونډولو په دوران کښي
اختيار لري چه د جزائي پيښو او د هغو مرتکبينو په باب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوماتو د خاوندانو بیانو نه واوري او د هغو په باب له تورنو کسانو څخه پوښتني وکړي.
دغه شان د قضائي ضبط مامورین کولي شي چه د طبیبانو او نور پوهانو څخه کوم وغواړي او د هغوي رائي په ژبه یابه قلم حاصلي کړي.

شلمه ماده: د قضایي ضبط مامورین مکلف دي چه خپل اجراآت دوخت او ځاي د ښودلو سره ولیکي، امضائي کړي او د تحقیق په محضر کښي ئي ثبت کړي، دغه شان ضروري ده چه په محضر کښي پوهان او هغه شاهدان چه شهادت ئي ویلي دي امضا و کړي.
دا محضرونه، ټولې پاڼې او ضبط شوي شیونه څارنوال ته لیږل کیږي.

یویشتمه ماده: د قضائي ضبط مامورین کولي شي چه د وظیفي د اجراء په حالت کښي مستقیماً د امنیه قوي نه کومك و غواړي او د امنیه قوي واکدران مکلف دي چه دغه غوښتنه په ځاي کړي.

دوه ویشتمه ماده: هر څوك چه د یوداسي جرم په کیدو خبر شي چه څارنوال د هغه په اثر بي له درخواسته د جزائي دعوي د سورولو حق لري سمدستي څارنوال یا د پولیسو ترټولو نږدي اداري ته خبر ورکولي شي.

درویشتمه ماده: هر څوك چه د یو جرم په اثر د تاون د جبیري دعوي لري په هغه عریضه کښي چه د قضائي ضبط یو مامورته ئي وړاندې کوي خپل ځان د حق العبد د مدعي په حیث معرفي کولي شي.

څلیرویشتمه ماده: که چیرې عارض په خپله عریضه کښي د حق العبد دعوي نه وي کړي نو عریضه یوه جزائي اطلاع ګڼل کیږي، ځو پورې چه مدعي په عریضه کښي یا د عریضي له وړاندې کولونه وروسته په یوه بله باڼه کښي یا په یو شان له شانونو د تاوان د جبیره کولو غوښتنه نه وي څرګنده کړي د حق العبد مودي نه ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم فصل
## مشهود جرم

پنځو یشتمه ماده: جرم د ارتکاب په حالت کښي یا له هغه نه لږ وروسته مشهود بلل کیږي.

جرم په دي مواردو کښي مشهود ګڼل کیږي:

الف: په هغه صورت کښي چه مرتکب سمدستي د جرم له پیښندو وروسته د مجني علیه یا د خلکو له خوا تعقیب شي.

ب: په هغه صورت کښي چه د تورن څخه وسله یا داسي څیزونه او نښي نښانې لاس ته راوستلي شي چه دده له خوا د جرم په ارتکاب یا به جرم کښي د ده په ګډون دلالت وکړي.

شپږویشتمه ماده: د دي د پاره چه د قضائي ضبط مامور له هغه صلاحیت څخه چه قانون د مشهود جرم د تحقیق په باب ده ته ورکړي دي استفاده و کړاي شي دا ضروري ده چه ده به جرم په پورتۍ ماده کښي د ذکر شویو حالتونو له جملې څخه په یوه حالت کښي پخپله لیدلي وي .

اووه ویشتمه ماده: که چېرې مشهود جرم جنایت یا جنحه وي نو د قضایي ضبط مامور مکلف دي چه پخپله د پیښي ځاي ته لارشې او دپیښي نښې نښاني وګوري اووئي ساتي، د اشخاصو او ځایو نو وضع او هر هغه څه چه د حقیقت په موندلو کښي تاثیر لري تثبیت کړي او د هغو خلکو خبري چه د پیښي یا د پېښي د مرتکب په باب د توضیحاتو اخستلو تصور کیدي شي واوري، د قضائي ضبط مامورمکلف دي چه د پیښي ځاي ته د خپل تګ خبر ډیر ژر څارنوال ته ور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتمه ماده: په مشهودو جرمونو کښې د قضائي ضبط مامور دا کوالي
شي چه د رسیدو سره سم د پېښې په ځاي کښې حاضر کسان د
رپوټ لیکلو تر تمامیدو پورې له دغه ځایه څخه د تللو نه منع
کړي او داهم کولي شي چه د کومو خلکو نه د پېښې په باب د
توضیحاتو اخستل ممکن وي هغوي سمدستي راوغواړي .

نه ویشتمه ماده: که چېرې د حاضرو کسانو له جملې څخه یوکس د قضائي
ضبط د مامور له داسي امر څخه چه دپورتنۍ مادي مطابق
صادر شوی وي غاړه وغړوي او یا د پیښې ځاي ته دراتلو نه
ځان ځنګ کړي دا خبره په رپوټ کښي لیکله کیږي او ځنګوال
(متخلف) د بند په یوه داسي جزا چه موده به ئي له یوي هفتي
زیاته نه وي او په نقدي جریمي چه اندازه به ئي له سلوافغانیو
زیاته نه وي او یا د دغو دواړو و له جملې څخه په یوه جزا
محکومیږي. دا حکم د ابتدائیه محکمې له خوا د قضائي ضبط
د مامور د لیکلي رپوټ له مخه صادریږي.

## دریم فصل

## د تورن نیونه

دیرشمه ماده: که چېرې د قضائي ضبط له مامورسره د حاضر تورن د تور په
باب کافي دلیلونه موجود وي نو په دي لاندنیو مواردو کښې د
ده د نیولو امر صادرولي شي:

الف: په جنایاتو کښې.

ب: په مشهود و جنحو کښې.

ج: په هغه جنحه کښې چه جزائي له یوې هفتي حبس څخه زیاته
وي.

یو دیرشمه ماده: که چېرې تورن په پورتنو حالاتو کښې حاضرنه وي د قضائي
ضبط مامورکولي شي چه د ده د نیولو امر صادر او د اخبره په
رپوټ کښي ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسي امر د شپږو میاشتو له مودې تیریدو وروسته نه چلیږي، مگر هله چلیږي چه د قضائي ضبط ماموریي د یوي بلې مودي د پاره اوږده کړي.

د نیولو او رواوستلو امر د امنیه افرادو په لاس عملي کیږي.

دوه دیرشمه ماده: د قضائي ضبط مامور مکلف دي چه ډیر ژر د نیول شوی تورن بیان واوروي، که چېرې تورن د خپلي بیگناهی سببونه ونه ښودلي شي نو دي په څلیرویشتو ساعتونو کښي مربوطي څارنوالی ته لیزل کیږي، څارنوالي مکلفه ده چه په اتو څلویښتو ساعتونو کښي دي و گوري، بیا وروسته د حالت د څر نگوالي له مخه یا دي خوشي کوي او یائي د توقیف د پاره د مربوطې ابتدائیه محکمې نه د اجازي اخستلو اقدام کوي.

دري دیر شمه ماده: هر څوك دا کولي شي چه یو څوك د جنایت یا جنحي په ارتکاب باندې د لیدلو په صورت کښي بې له دي چه دده د نیولو امر حاصل کړي د امنیه قوې تر ټولو نږدې اداري ته وسپاري.

څلوردیر شمه ماده: امنیه افراد په مشهودو جرمونو کښي کولي شي چه تورن راولي او تر ټولو نږدي د قضائي ضبط مامورته ئي وسپاري دغه ډول دا صلاحیت له دغه حالت څخه پرته هم لري خو دا په دي شرط چه جرم جنایت یا جنحه وي او د تورن د شخصیت پیژندنه ممکنه نه شي.

پنځه دیرشمه ماده: د بنیادم نیونه جواز نه لري مگر د هغه مقام په امر چه قانون ورته صلاحیت ورکړي وي د تورن توقیف د مربوطي ابتدائیه محکمې د قاضي په امر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم فصل

## د اشخاصو تلاشي اخستنه، کورته ننوتل او پلتنه ئي، د شيونو ضبط

شپږ دير شمه ماده: په هغو حالاتو کښي چه د تورن نيول جواز لري د قضائي ضبط مامور دا کولي شي چه د تورن نيول جواز لري د قضائي ضبط مامور داکولي شي چه دي تلاشي کړي.

اووه ديرشمه ماده: که چېرې تورن ښځه وي د هغي تلاشي هم د هغي ښځي په لاس کيږي چه د قضائي ضبط د مامورله خواو رته وظيفه ورکړشوي وي.

اته ديرشمه ماده: امنيه افراد شخصي کورونو ته د ننوتلو حق نه لري مګر هله چه د کاله هستوګن يا د مربوطي محکمې قاضي ورته اجازه ورکړي او يا دا چه د کاله د داخل له پلوه تري کومك وغوښتي شي، يا اور لګيدلي وي، يا زلزله يا سيلاب او يا د دې امثال پيښ وي.

نه دير شمه ماده: د قضائي ضبط مامور د مشهور د جرم په حالت کښي جنايت وي که جنحه د تورن کورته په پورتنۍ ماده کښي د راغلو شرطونو له مراعاته پرته ننوتلي او هغه لټولي شي او هغه شيونه او پاڼي چه د قضائي ضبط مامور ته د حقيقت موندلو د پاره د هغو ښو ښانو له مخي چه پکښي دي مفيد ښکاره شي اخستلاي شي.

د مشهور جرم په حالت کښي د څارنوالي غړي کاله ته د ننوتلو اولټولو نه پس په يوه مياشت کښي د ننه د دغه اقدام د صحت په باب د ابتدائيه قضاي حکم حاصلوي.

څلويښتمه ماده: که چېرې د تورن د تفتيش په ضمن کښي چا خلاف چه په دغه کورکښي موجود وي ددې خبري قوي علامې پيداشي چه ده له ځانه سره داسي څه پټ کړي دي چه د حقيقت په موندلو کښي فايده لري د قضائي ضبط مامور دده د تفتيش اقدام کولي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوڅلو ېښتمه ماده: د کور پلټنه يواځې په هغه جرم پورې د مختصو شيونو د لټولو د پاره جواز لري چه د هغه تحقيق يائي د نښو نښانو او دليلونو د راغونډولو کارجاري وي. که چېرې مفتش د پلټنې په دوران کښې په داسې شيونو پيښ شي چه ساتل ئي جرم ګڼل کيږي، يا د غه شيونه د يو بل جرم په موندلو کښې تاثير لري د قضائي ضبط مامور د غه شيونه اخستلاي شي.

دوه څلويښتمه ماده: د کور پلټنه حتي الامکان د تورن يا د هغه د قايم مقام په مخکښې کيږي.

که چېرې د تورن يا د هغه د قائم مقام حضور ممکن نه وي نو دکور پلټنه د دوه تنو شاهدانو په مخکښې کيږي او تر ممکن حده پورې په کار دي چه شاهدان د تورن خپلوان، يا د تورن سره ديوه کاله هستوګن او يا ګاونديان وي د دې موضوع جريان په رپوټ کښې ثبتيږي.

دري څلويښتمه ماده: که چېرې د تورن په کاله کښې مهر شوي يا په بل ترتيب سر تړلي پاڼې وليدلې شي قضائي مامور هغه نه شي بيرته کولاې.

څلور څلويښتمه ماده: د قضائي ضبط مامور هغه ځايونه چه پکښې د حقيقت د موندلو دپاره فايده مني نښې نښانې يا شيونه وي مهر ولاك کولي او پرې څوکيدارو درولي شي. د قضائي ضبط مامور مکلف دي چه د دې خبرې اطلاع سمدستي څارنوال ته ورکړي که چېرې څارنوال دا اقدام لازم وګڼې نو موضوع د مربوطې ابتدائيه محکې قاضي ته وړاندې کړي، قاضي کولي شي چه په خپل امر باندې له نوي سره غور وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ځلوېښتمه ماده: د قضائي ضبط مامور کولي شي چه وسله، سامان، پاڼي
او ټول هغه شيونه چه د جرم په ارتکاب کښې ئي د استعمال
احتمال موجود وي او يا د جرم د ارتکاب د نتيجي په حيث
موجود شوی وي او يا د جرم د پيښدو هدف شوی وي او همدغه
شان ټول هغه شيونه چه د حقيقت په موندلو کښې مرسته کوي
واخلي.
دا قسم ټول شيونه د تورن له نظره تيرول کيږي او د هغو په باب
ددغه نظريه غوښتله شي، موضوع په رپوټ کښې ثبتيږي او
پري د تورن امضاء اخستله شي. که چېري تورن د امضاء کولو نه
انکار وکړي دا خبره په پاڼو کښې ذکر کيږي.
اووه ځلوېښتمه ماده: ټول اخستل شوی شيونه او پاڼې په يوه سر تړلي کځوړه
کښې اچول کيږي او که کيدي شول نو مزي تري چا پيريږي او
مهر ولاك کيږي. د مزي د پاسه د مهر دننه داخستني نيټه او
موجبه اسبابو د يادونې ليکل کيږي.
اته ځلوېښتمه ماده: د پورتنۍ مادې مطابق د لګول شوي مهر ولاك ماتول جواز
نه لري مګر د تورن يا د هغه د وکيل په حضور يا دعوت او يا د
هغه شخص په حضور يا دعوت چه دغه شيونه له هغه څخه لاس
ته راوستل شوی وي.
نه ځلوېښتمه ماده: څوك چه دپلټنې په وسيله د پاڼو له مضمون ياله شيونو
څخه خبرشي او هغه بل چاته فاش کړي او يا په يوشان له شانونو
تري استفاده وکړي د قانون د احکامو مطابق ورته جزا ورکول
کيږي.
پنځوسمه ماده: که چېرې څوك هغو پاڼو ته چه له ده څخه اخستل شوي دي
فوري او سملاسي اړتيا ولري نو د هغو يو تصديق شوی نقل د
قضائي مامورله خوا ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم فصل
## د دلایلو د ټولونوي نه وروسته د څارنوالۍ وظيفي

يوپنځوسمه ماده: که چيرې څارنوالي په يوه موضوع کښې د دعوي سورونه لازمه ونه گني دپاټو د حفظيدلوامر ورکوي.
څارنوالي چه د پاټو د حفظ امر ورکړي په دي خبره مجني عليه او د حق العبد مدعي خبروي.
که چيرې مجني عليه يا د حق العبد مدعي مړ وي نو خبر دده په هستوگن ځاي کښې د ده ورثه ووته ورکول کيږي.
دوه پنځوسمه ماده: که چيرې څارنوال د جنحو او قباحتونو په مواردو کښې د دعوي سورولو د پاره د دليلونو له مخه لاز اواره ووينې نو تورن مربوطي ابتدائيه محكمې ته په حاضريدلو مكلفي.
څارنوالي كولي شي چه د جنايتونو او جنحو په مواردو كښې د دې قانون د څلور پنځوسمي مادي او د وروسته مادو به حكم برابر پخپله د تحقيق په كولو لاس پورې كړي او يا د دي قانون د يوسل و اويايمي مادي په حكم برابر د تحقيق دپاره د يو قاضي د ټاكلو غوښتنه وكړي.
درې پنځوسمه ماده: د هغه جرم نه د راپور ته شوي جزائي دعوي سورونه او تعقيب چه د وظيفي د اجرا په وخت كښې يا د وظيفي د اجرا په علت ئې د دولت د مامورينو او مستخدمينو له خوا ارتكاب شوي دي يوائې د لوي څارنوال، د هغه د مرستيال او څارنپال له خواكيدي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم باب
## د څارنوالي په لاس تحقیق
## لومړي فصل
## د تحقیق اجراء په تحقیق کښې د حق العبد د مدعي او دحق العبد د مسئول مداخله

څلور پنځو سمه ماده: څارنوالي ددې قانون د پنځه پنځوسمي مادي نه تریوسل و دري څلویښتمي مادې پورې احکامو مطابق د جنایاتو او جنحو په باب د تحقیق د اجراء اقدام کوي.

پنځه پنځو سمه ماده: که چېرې د څارنوالي یوغړي پخپله د تحقیق په کولو بوخت وي کولي شي چه د قضائي ضبط هر مامور د یوي معیني وظیفي یا په تحقیق پورې د تورن د استنطاق نه پرته د مربوطو وظیفه په اجرا موظف کړي.

څوك چه په دغسي وظیفي ماموریږي پخپله معینه وظیفه کښې د څارنوالي دغړي صلاحیت لري.

شپږپنځو سمه ماده: کله چه د څارنوالي غړي یو بل شخص د یو سلسله تحقیقاتو په اجراء موظفوي مکلف دي چه ټولي هغه مسئلي د کومو تحقیق چه لاژم دي او هم ټول هغه اجراآت چه دغه شخصي ئي په کولو مکلف دي څرګند او بیان کړي.

دغه موظف شخص دوخت تیریدو د اندیښني له کیله کولي شي د تورن د تحقیق او استنطاق په باب د هر قسم اجراآتو کولو ته اقدام وکړي خوپه دي شرط چه دغه اجراآت دده په وظیفه او د حقیقت په موندلو پورې ربط ولري.

اوه پنځوسمه ماده: که چېرې د څارنوالي غړي د حالاتو د ضرورت له مخي د خپل صلاحیت د کرښي نه بهر اجرااتوته اړشي کولي شي چه د څارنوالي یو بل داسي غړي چه دغه اجراآت دهغه د صلاحیت په کرښې کښې د ننه وي موظف کړي چه پخپله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو د اجراء دپاره اقدام وکـــړي پــه دي شـرط چه د تحقیق د
جریان له مخي د هغو اجراء ضروري وي.

اته پنځوسمه ماده: د څارنوالي غړي د تحقیق په ټولو اجراآتو کښې یوتن کاتب
له ځانه سره اخلي او دغه کاتب له ده سره امضاء کوي
محضرونه، امرونه او ټولې مربوطې پاڼي د تحریراتو په دفتر
کښې قیدیږي.

نه پنځوسمه ماده: د تحقیق ټول اجراآت او حاصلي شوي نتیجې اسرار ګڼل
کیږي او د څارنوالي غړي، ددوي معاونان لکه کاتبان، اهل
خبره او ټول هغه کسان چه د تحقیق د اجراء سره تماس لري یا د
کار او وظیفي له مخه تحقیق ته حاضریږي په دي مکلف دي چه
د هغو له فاش کولو نه ځان وساتي پل غلط ته د قانون مطابق
جزاور کول کیږي.

شپیتمه ماده: چاته چه له یوه جرمه تاوان واوړي د تحقیق په دوران کښې خپله
حق العبدي ادعا وړاندې کولي شي. څارنوال زیات نه زیات د
ادعاء له وړاندې کولو نه وروسته په پنځو ورځو کښې د ننه د
د هغي د منلو په باب خپل تصمیم نیسي.

یوشپیتمه ماده: تورن، مجني علیه، د حق مدعي، د حق العبد مسئول او
ددوي وکیلان هر یو داکولي شي چه د تحقیق په ټولو اجراآتو
کښې حاضرشي. څارنوالي که د حقیقت موندلو د پاره مناسب و
ګڼي ددوي په شا د تحقیق د اجرا کولو اقدام کولي شي، د دې
ضرورت له رفع کیدلو نه پس د تحقیق په جریان باندې د دوي
خبرول باك نه لري. په هر حال څارنوالي د دي صلاحیت لري چه
په مستعجلو حالاتو کښې د تحقیق یو څه اجراآت د خصومو په
شا وکړي او خصوم حق لري چه د دغي اجراآتو د پاڼو د کتلو
غوښته وکړي خصوم حق لري چه د تحقیق په جریان ښي خپل و
کیلان د ځان سره ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه شپیتمه ماده: څارنوالي د تحقیق د شروع کیدو ورځې او د تحقیق د اجراکیدو د ځاي خبر مځکښې له مخکښې خصوموته ورکوي.

دري شپیتمه ماده: تورن، مجني علیه، د حق العبد مدعي او د حق العبد مسئول کولي شي چه د تحقیق په جریان پروې د هر قسم مربوطو پاڼو یو یو نقل په خپل لښت وغواړي. مگر هله نه چه تحقیق ددوي په غیاب کي د هغه قرار مطابق چه قانوناً صادر شوی وي اجرا شوی وي.

## دوهم فصل

### محلي کتني – د کورنو پلټنه – په جرم پورې د تړلو شیانو ضبط

څلورشپتمه ماده: د څارنوالي غړي په مشهود د جنایت باندې د خبریدو سره سمدستي مکلف دي چه ډیر ژر د پیښي ځاي ته لاړشي.

د څارنوالي غړي کولي شي هر ځاي ته چه و غواړي د ځایونو اشخاصو، د جرم د ضروري شکل او د هر شي د وضعي د تثبیت د پاره چه لازم وي لاړشي.

پنځه شپیتمه ماده: د څارنوالي غړي کولي شي چه د جنایت او جنحي تورن ولټوي او دغه شان هر کله چه په قوي علامو او نښو نښانو ده ته څرگنده شي چه یو بل سړي د ځانه سره داسي څخه پټ کړي دي چه د حقیقت په موندلو کښې فایده لري دي کولي شي چه د غه سړي ولټوي، د پلټني په وخت کښې د دې قانون د اووه دیرشمي مادي د حکم مراعات کیږي.

شپږ شپیتمه ماده: د کورنو پلټنه د تحقیق د اجراآتو برخه ده او اجرائي یواځې هغه و خت جواز لري چه تور د جنایت او جنحي د ارتکاب یا گډون نه راپور ته شوی وي او هغه سړي ته چه په دغه کورکښې اوسي منسوب وي او پلټنه ئي لازمه وي یا دا چه داسي نښې نښاني موجودي وي چه داښیي چه د کور اوسیدونکي په جرم پورې مربوط شیونه له ځانه سره ساتلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه شپتمه ماده: پلټنه حتي الامکان د تورن یا د هغه د قائم مقام په مخکښې اجرا کیږي.

اته شپتمه ماده: د څارنوالي غړي کولای شي چه د ابتدائیه قاضي نه له اجازي اخستلو وروسته ټول مکتوبونه او هر قسم پستي مراسلات د پست په اداره کښې او هر قسم تیلګرامونه په مربوطه اداره کښې و څنډوي او هر قسم سیمي او بیسیمه مرکې کنترول کړي خو په دي شرط چه په تورن او د تحقیق لاندي جرم پورې ربط ولري او د اجراء نه یې د حقیقت په موندلو کښې فایده متصوره وي. دا اجراآت په عاجلو حالاتو کښې د ابتدائیه قاضي له اجازي پرته کیدي شي خود د اجراء نه پس په دیر شوو رځو کښې د ننه د ننه باید ددغو اجراآتو د صحت په باب د محکمې حکم واخستي شي.

نه شپیتمه ماده: د څارنوالي غړي حق نه لري چه هغه پاڼې او سندونه چه تورن ئي مدافع وکیل یا یوبل اهل خبره ته د مشوري د پاره سپاري یا هغه مراسلات چه د اهل خبره او تورن منځ کښې ردو بدل کیږي واخلي.

اویایمه ماده: د څارنوالي غړي اخستل شوي پاڼې یواځې او حتي الامکان د تورن په مخکښې ګوري او خپل نظریات د هغو په باب څرګندوي.

که چېرې ضروري و ګڼل شي د څارنوالي غړي کولي شي چه یو مامور د دغو پاڼو په ساتنه موظف کړي دغه شان دي کولي شي چه که لازمه وګڼې د پیشي سره د پانو د یو ځاي کولو یا خپل خاوند یا مرسل ته ئي د سپارلو امر وکړي .

یو اویایمه ماده: د هغو شیونو په باب چه د څارنوالي له پلوه اخستل کیږي د دې قانون د اووه څلو یښتمي مادي حکم تطبیقیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه اويايمه ماده: د څارنوالي غړي کولي شي د هغه شي خاوند ته چه اخستل يا پري ځان خبرول لاژم وګني امر وکړي چه هغه څارنوالي ته تقديم کړي.
ددې امر پر متخلفينو ته هغو کسانو پرته چه قانون ورته په يوشان له شانونو د شاهدي ويلو نه د ډډې کولو حق ورکړي وي د دې قانون ددوه سوه پنځه ديرشمي مادي مطابق جزا ورکوله کيږي.
دري او يايمه ماده: اخستل شوي اصل مکتوبونه او ټلګرامونه او يائي نقلونه ډير ژر تورن يا د هغو مرسل اليه ته ليږل کيږي، مګر هله نه چه د تحقيق جريان ته تري ضرر متصور وي.

دريم فصل

د تحقيق د شاهدانو اوريدنه

څلوراويايمه ماده: د څارنوالي غړي د هغو شاهدانو شاهدي چه خصوم ئي داوريدو غوښتنه کوي که چېرې دغو اوريدنه مفيده و ګڼي اوري.

دڅارنوالي غړي کولي شي چه د هغو شاهدانو شاهدي واوري چه شهادت ئي د هغو پيښو په باب فايده من وي چه جرم ثابتوي يا د جرم اثبات، يا په جرم پورې د مربوطو اوضاعو يا تورن ته د جرم نسبت يا د جرم نه د هغه برائت ته منجريږي.
پنځه او يايمه ماده: د څارنوالي غړي کولي شي چه څوك په خپله رضا د شاهدي ويلو د پاره حاضريږي د هغه شاهدي واوري.
دا اجراآت د تحقيق په محضر کښې درج کيږي.
شپږ او يايمه ماده: هغه شاهدان چه د څارنوالي غړي د هغو د شهادت اوريد لو حکم کوي د امنيه افرادو په لاس جلبيږي اور اوستل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه او یا یمه ماده: د څارنوالي غړي له هر نفر نه د نامه، لقب، عمر، کسب، هستوګن ځاي او له تورن سره د رابطي دبیانولو غوښتنه کوي، دا ټولي خبري د تحقیق په محضر کښې درج کیږي.

اته او یایمه ماده: په شاهداتو او شاهدي پورې مختص اظهارات لیکل کیږي او بي له زیات و کمه او د ټکو د وهلو او توږلو د تحقیق ته محضرونو کښې ثبتیږي او څو پورې چه د څارنوالي د غړي او د هغه د کاتب له خوا تصدیق نه شي د اعتبار وړ نه ګڼل کیږي.

د ځارنوالي غړي او کاتب دواړه مکلف دي چه شاهدي امضاء کړي.

د غه شان شاهد پس له دي چه شاهدي دده په مخکښې ولوسته شوه او ده تائید کړه نو امضاء به پري کوي.

که چیرې شاهد د شهادت د امضاء یا مهرولو نه انکار وکړي یائي امکان موجود نه وي موضوع د هغي د موجبه اسبابو سره په محضر کښې ثبتیږي.

د څارنوالي غړي او کاتبب د هر څه نه اول هره پاڼه د نښه کولو په غرض امضاء کوي

نه او یایمه ماده: د څارنوالي غړي د هر شاهدي شاهدي یواځي او په ځانګړي صورت د څارنوالي غړي کولي شي چه ځیني شاهدان د ځینو نورو سره او یا له تورن سره مخامخ کړي.

اتیایمه ماده: خصوم د شاهد د بیاناتو د اوریدني په دوران کښې کولای شي چه په د غه باب خپل ملاحظات څرګند کړي دوي د څارنوالي له غړي غوښتنه کولای شي چه شاهدي له هغه بل نقطه نظره څخه چه د دوي له خوا پیشنهادیږي واوري.

د څارنوالي غړي په ټولو حالاتو کښې صلاحیت لري چه د هري داسي پوښتني د مخکښې کولو مخه ونیسي چه په دعوي پورې تعلق نه لري او یائي الفاظ په بل چا پورې نښلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواتيايمه ماده: د شاهدانو په باب د دې قانون ددوه سوه ځلورديرشمي، دوه سو شپږ دير شمي، دوه سوه اووه ديرشمي، دوه سواته دير شمي او دوه سوه نه ديرشمي مادي حکمونه تطبيقيږي.

دوه اتيايمه ماده: هر څوک چه د شهادت د ويلو د پاره څـــارنوالي ته جـــلـــب شي، په کار دي چه دليکلي جلب په اساس حاضر شي. که چېرې داسي ونه کړي نو په يوه نقدي جزا چه مبلغ ئي له زورو افغانيو زيات نه وي محکوميدلي شي، او يا د څارنوالي غړي کولای شي چه د هغه د جلب يا احضار امر دده په خپل لګښت صادر کړي اويائي تحت الحفظ د را ليږلو امر صادر کړي.

دري اتيايمه ماده: کله چه شاهد څارنوالي ته حاضر شي او بې له هغو حالاتو چه قانون اجازه ورکړي وي د شاهدۍ ويلونه انکار وکړي په جناياتونو او جنحو کښې د حبس په يوه موده چه ميعادئي له دوو ميشاتو زيات نه وي او ياد نقدي جريمي په ور کولوه چه مپلغ ئي له څلور وزرو افغانيو زيات نه وي محکوميدلي شي.

څلوراتيايمه ماده: که چېرې شاهد د ناروغي له کبله يا دب ل قانوني عذز له مخه دتحقيق ځاي ته حاضرنه شي شاهدي ئي په هستوګن ځاي کښې او ريدل کيږي.

که چېرې د څارنوالي غړي پخپله د شاهدۍ او ريدلو د پاره د شاهد ځاي ته لاړشي او د هغه د عذر غلطي څر ګندي شي د غه شاهد د حبس په يوه داسي موده چه ميعاد يي له يوي مياشتي زيات نه وي او يا په داسي نقدي جريمه چه مبلغ ئي له دوه زرو افغانيو زيات نه وي محکوميدلي شي.

پنځه اتيايمه ماده: د هغه شاهد د پاره چه څارنوالي ته د حاضريدلو نه ئي انکار کړي وي يا د هغه شاهد دپاره چه حاضر شوي وي خو د شاهدي ويلونه ئي انکار کړي وي يا د هغه شاهد د پاره چه عذرئي څرګند کړي وي او بيائي غلطي ثابته شوي وي د حکم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صادریدلو واکمنه مرجع د هغه قاضي قضائي ونډ دي چه د
شاهد حاضر یدل ورته غوښتل شوي دي.
په دي د عوي باندې د غور کولو، حل و فصل کولو او پري د
اعتراض په باب هغه قواعد او شرایط تطبیقیږي چه په قانون
کښې ذکر شویدي.
شپږاتیایمه ماده: د هغو شاهدانو د سفر د لګښتونو او حق الزحمي اندازه چه د
شهادت ویلو د پاره د هغو د حاضریدلو په سبب ئي مستحق
کیږي د څارنوالي د غړي له پلوه سنجش او ټاکل کیږي

## څلورم فصل

### دپوهانو نه استفاده

اووه اتیایمه ماده: د څارنوالي غړي کولي شي چه د حالت د تثبیت په لاره کښې
د طبیب او بل هر اهل خبره او اهل تخصص نه استفاده وکړي.
د اهل خبره نه د استفادي په وخت کښې باید د څارنوالي غړي
پخپله حاضروي.
که چیرې دا لازمه وي چه د ځینو تمهیدي چارو ي اد مکررو
تجربو یا د کوم بل علت له مخه د حالت تثبیت د څارنوالي د
غړي په شا وشي د څارنوالي غړي مکلف دي چه د اهل خیره نه
پخپله غوښتنه کښې د تحقیقاتو انواع او هر هغه څه چه د حالت
تثبیت تثبیت ئي مطلوپ وي په وضاحت بیان کړي.
اهل خبره په هر حالت کښې دا کولي شي چه خپله وظیفه
ددعوي د دواړو خوا وي شا سرته ورسوي.
اته اتیایمه ماده: که چیرې اهل خبره د هغو کسانو له جملي څخه نه وي چه نوم
ئي د اهل خبره وو په جدول کښې قید وي او په وظیفه باندې
دلاس پورې کولو په وخت کښې ئي سوګند کړي وي دوي مکلف
دي چه په فعالیت باندې دلاس پورې کولوته اول د څارنوالي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړي په مخکښې سوګند وکړي چه خپله وظیفه به په پاکي او
راستیۍ سرته رسوي.

نه اتیایمه ماده: اهل خبره خپله رایه لیکلي وړاندې کوي.
د څارنوالي غړي هغه موده چه اهل خبره باید خپله رایه په هغې
کښې وړاندې کړي ټاکي.
که چېرې یو اهل خبره په هغه موده کښې چه ورته ټاکلي شوی ده
خپله وظیفه سرته ونه رسولي شي د څارنوالي غړي کولي شي
چه دده په ځاي یوبل څوك وټاکي او موظف ئي کړي .
نوي یمه ماده: تورن کولي شي چه د اهل خبره نه مشورتي کومك او په هغو پاڼو
او نورو هغو شیونو باندې دده د اطلاع غوښتنه وکړي چه د
څارنوالي د غړي له خوا اهل خبره ورته ورکړی شوی دي خوپه
دي شرط چه دغه کار دعوي په جریان کښې د ځند پیښیدو
سبب نه وي.
یونوي یمه ماده: د دعوي دواړه خواوي حق لري چه د موجبه اسبابو له مخي د
اهل خبره رد وغواړي. په دي صورت کښې د طرف د رخواست له
دلایلو سره د څارنوالي غړي ته وړاندې کیږي. د څارنوالي غړي
مکلف دي چه د درخواست د وړاندې کیدو له نیټې څخه په دري
ورځو کښې د نه دننه د هغه په باب تصمیم ونیسي او په هغه
صورت ګښي چه د اهل خبره د رد موجبه اسباب موجود وي د
اهل خبره لاس له کاره ویستل کیږي مګر هله نه چه د عاجل حال
له مخه د څارنوالي غړي د کار د جاري ساتلو مرور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم فصل

## ګرونه (استنطاق)

دوه نوي يمه ماده: مستنطق مکلف دي چه د تورن سره د مخامخ کيدو متصل
د ده هويت ثبت کړي، بياهغه تورچه ده ته ئي نسبت شوی دي
ورته ابلاغوي او د ده اظهارات په محضر کښې قيدوي.

دري نوي يمه ماده: تورن مکلف دي چه که مدافع وکيل ئي نيولي وي د هغه
نوم د څارنوالي غړي ته ووائي مدافع وکيل هم کولي شي چه
خپل نوم د تورن د مدافع وکيل په حيث د څارنوالي غړي ته
ابلاغ کړي.

څلورنوي يمه ماده: که چېرې جرم غير مشهود وي او حالت د دليلنو د ضايع
کيدو د انيښني له درکه معجل نه وي محقق نه شي کولي چه په
جنايت کښې د تورن نه پوښتنه وکړي او يادي له نورو تورنو يا
شهدانو سره مخامخ کړي، مر له هغه وروسته چه د ده له مدافع
وکيل څخه غوښتل شوی وي چه د ګرونې او مخامخ کيدو په
جريان کښې حاضر شي.

پنځه نوي يمه ماده: مدافع وکيل د څارنوالي د اجازي نه پرته په خبرو کښې نه
شي داخليدي.
که چېرې د خارنوالي له خوا د مدافع وکيل د خبروکولو غوښتنه
ونه منله شي دا موضوع په محضر کښې قيديږي.
مدافع وکيل کولي شي چه له مخامخ کيدو او استنطاقه
مخکښې له پاڼو او د تحقيق له جريان څان خبر کړي.

## شپږم فصل

په حاضريدو مکلفول، د نيولو او حاضر ولوامر.

اووه هنوي يمه ماده: د څارنوالي غړي د جرائمو او قباحتو نو په ټولو انواعو
کښې د تورن د حاضرولو امر صادرولي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته نوي يمه ماده: د څارنوالي غړي کولي شي چه د دې قانون په ديرشمه ماده کښې د درج شوی حالت له مخه د تورن د نيولو او حاضرولو امر صادر کړي، دغه شان دي کولای شي چه که جرم جنحه وي پس له هغه چه تورن په حاضريدلو مکلف شي او بې له معقوله عذره د حاضريدلو نه ډډه وکړي دده د حاضرولو امر صادر کړي.

نه نوي يمه ماده: د څارنوالي غړي مکلف دي چه نيول شيو تورن ډير ژر و ګړوي، که چېرې د تورن فوري ګړونه ممکنه نه وي تورن د نظارت لاندي نيول کيږي .

د نظارت لاندي د تورن ساتنه د اتو څلويښتو ساعتونو نه زيات دوام نه شي کولای.

د نظارت مامور مکلف دي چه د اتو څلويښتو ساعتونو له تېريدو وروسته تورن څارنوالي ته وسپاري او څارنوالي مکلفه ده چه ډير ژر تورن و ګړوي او يائي د خوشي کيدوامر صادر کړي.

سلمه ماده: د تورن نوم، کامل شهرت، کسب هستوګن ځاي او ده ته منسوب تورپه هغه امر کښې چه دده د حاضر يدلو دپاره صادريږي ليکل کيږي.

د حاضريدو امر بايد تاريخ ولري د څارنوالي د غړي له خوا امضا شي او د څا رنوالي د اداري رسمي مهر پري و لګيږي. د حاضريدلو په امر کښې بايد هغه تاريخ چه د شخص حاضريدل پکښې په کار دي ذکر شي.

دغه شان د حاضريدلو په امر کښې څارنوالي ته د شخص د حاضرولو او د هغه د نيولو په باب که چېرې په حاضريدو باندې مکلف شوی شخص د امر له منلو ډډه وکړي د امنيه افرادو تکليف څرګنديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسل او یوه ماده: د نیولو او حاضرولو په باب امرونه د صادریدلو له نیټې
ځخه ترشپږو میاشتو پورې چلیږي یا دا چه څارنوالي د یوي بلې
مودي د پاره اوږد کړي وي.

یوسل دوهمه ماده: هغه امرونه چه د څارنوالي له خوا صادریږي د افغانستان
په ټوله سیمه کښې چلیږي.

یوسل دریمه ماده: امرونه د امنیه افرادو په ذریعه تورن ته ابلاغیږي او یو نقل
ئي ورته سپارل کیږي.

## اووم فصل

## د توقیف امر

یوسل ځلورمه ماده: که چیرې د ګړوني (استنطاق ) نه وروسته یاد تورن د
تینښتي په صورت کښې دده د الزام د پاره دلیلونه کافي و ګڼل
شي او پېښه جنایت یا داسي جنحه وي چه جزائي د حبس یوه
داسي موده وي چه له ري میاشتو زیاته وي څارنوالي د احتیاط
د پاره د محاکمي نه مخکښې د توره د توقیف غوښتنه کولي
شي.

یوسل پنځمه ماده: که چیري جرم داسي جنحه وي چه مرتکب ئي ددري کاله
حبس په جزا محکومه یي او تورن په افغانستان کښې یو ثابت
او معلوم هستوګن ځاي و نه لري څارنوالي کولي شي چه دده د
توقیف د امر غوښتنه وکړي.

یوسل شپږمه ماده – که چیري څارنوالي ته د تورن توقیف ضروري ښکاره شي
موضوع د مربوطي ابتدائیه محکمې قاضي ته وړاندې کوي او
دده د توقیف غوښتنه کوي. قاضي د څارنوالي په دلیلونو
باندې د پوهي حاصلولو نه پس لازم امر صادروي او که ضرورت
وي نو د څارنوالي او تورن دوامو خبري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوريدلي شي. قاضي كولي شي چه د توقيف موده يو يا ځو واري اوږده كړي خو په دي شرط چه د توقيف ټوله موده له دري مياشتو زياته نه شي.

يوسل اوومه ماده: كه چېرې تحقيق د توظيف د هغي مودي د پوره كيدلو سره سره چه په پورتنۍ ماده كښې ذكر شوي ده سرته نه وي رسيدلي نو څارنوالي مكلفه ده چه دپېښي پاڼي د ولايت د محكمې رئيس ته وړاندې كړي او دي د ضرورت له مخه دا كولي شي چه توقيف او ږد كړي.

نوموړي رئيس كولي شي چه د توقيف موده يو يا څوواري او ږده كړي خوپه دي شرط چه په هر وار كښې او ږدوالي د پنځو ځلويښتو ورځو نه زيات نه وي.

كه چېرې د ولايت د محكمې رئيس د توقيف جاري ساتنه لاژمه ونه ګڼي نو د كفالت بالمال يا بې له هغي دده د خوشي كيدو امر صادر وي.

يوسل اتمه ماده: د چا چه عمر له د يار لسو كلونو كم وي د هغه توقيف جواز نلري. كه چېرې د حالاتو له مخه د صغير خلاف احتياطي اجراآت ضروري شي څارنوالي كولي شي چه د موضوع ترپريكون پورې يو امانت دار شخص يا يوي خيريه مؤسسي ته د صغير د سپارلو امر صادر كړي چه دي تر خپلي څارني لاندي ونيسي او د غوښتني په وخت ئي څارنوالي ته وښيي اويائي وروسپاري.

د صغير د سپارښتني موده بايد له يوي هفتي زياته نه شي او يا دا چه ابتدائيه قاضي د مودي په اوږديدو موافقه وكړي.

يوسل و نهمه ماده: كه چېرې د حالاتو له مخه د يو داسي صغير نيونه ضرورشي چه عمرئي له دولسو اوښتي وي بايد اصلاحي ښوونځي يا يوي خيريه موسسي يا يو دولتي مقام ته وسپارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسل لسمه ماده: د توقيف د او امرو په ځاي کول د هغو د صادريدلو راهيسي
د شپږ و مياشتو له تيريدو وروسته جواز نه لري او يا دا چه
څارنوالي يو بل ځل د هغو د اوږديدو امر کړي وي.

يوسل يولسمه ماده: د توقيف مامور د توقيف په امر کښې د توقيف د امر په
منلو او د تورن په توقيف کولو مکلفول کيږي او د قانون هغه
ماده بيانيږي چه د تورن په باب تطبيق کيږي.

يوسل دولسمه ماده: بي له توقيف خاني نه په بل ځاي کښې د هيچا توقيف
جواز نه لري.
د توقيف خاني هيڅ يو مامور د واکمنو مقاماتو د امضا شوي
امر نه پرته يو شخص په توقيف خانه کښې نه شي منلي او نه ئي
د ټاکلي ميعاد نه زيات په توقيف خانه کښې ساتلي شي.

يوسل ديار لسمه ماده: د محبس مامورين نه شي کولي چه د امنيي عمومي
وظيفه دارانو ته د څارنو الي دليکلي امر نه پرته د بنديانو سره
د ليدلو کتلو اجازه او موقع ورکړي.
د توقيف خاني مامور مکلف دي چه چاته د څارنوالي د امر له
مخه اجازه ورکړي شوي ده هغه نوم اوورسره د ليدني وخت او
نيټه او د څارنوالي د امر مضمون د محبس په دفتر کښې درج
کړي.

يوسل څوار لسمه ماده: څارنوالي کولي شي چه تورن پخپل امر د نورو بنديانو
سره د تماس او هم د هر چاسره چه څارنوالي لازم و ګڼي د لدلونه
منع کړي، دا وضع دده مدافع وکيل سره د ليدلو کتلو چه
يواځي کيږي مخه نه شي نيولي.

يوسل پنځه لسمه ماده: د څارنوالي غړي کولي شي چه د خپلي و ظيفي په هره
سيمه کښې د توقيف خانو او محبسونو کتني او د توقيفيانو او
بنديانو د دوسيي د صحت په باب د اطمينان حاصلولو اقدام

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. په دي باب د هغو قيودو مراعات کيږي چه د څارنوالي د
چارو د تنظيم په قانون کښې درج شوي دي.

يوسل شپاړسمه ماده: هر توقيف شوي شخص حق لري هر کله چه وغواړي په
خوله يا په قلم د محبس مامورته شکايت و کړي او څارنوالي ته
د دغه شکايت د رسولو غوښتنه وکړي د محبس مامور د دې در
خواست په منلو او په دفتر کښې ئي له در جولو وروسته په
ابلاغ مکلف دي.

يوسل او ولسمه ماده: د چا چه په دي خبره علم ورسيږي چه يو څوك غير
قانون توقيف دي يا دا چه دغه څوك په غير مختص ځاي
کښې توقيف دي کولي شي چه د څارنوالي يو غړي ته خبر
ورکړي، د څارنوالي غړي مکلف دي چه د خبريدو سره سم هغه
ځاي ته لارشي چه توقيف شوي شخص پکښې اوسي او د لازم
تحقيق له اجرا کولو وروسته د هغه چا د خلاصيدو امر صادر
کړي چه په غير قانوني صورت توقيف دي او دا اجراآت وليکي
او محضر ته يي وخيژوي.

## اتم فصل

## موقتي خلاصون

يوسل اتلسمه ماده: څارنوالي هر وخت کولای شي چه د خپل قرار له مخه او يا
د تورن د غوښتني په اساس د کفالت بالمال په قيد يايي له هغه
د محل د آمر په موافقه د هغه د خلاصون امر صادر کړي.

يوسل نو لسمه ماده: د هغه مبلغ اندازه چه د توقيف شوي د موقت خلاصون د
پاره د کفالي لاندي راوستل کيږي د ابتدائيه قاضي يا د ولايت
د قاضي له خوا په خپل خپل قضايي ونډ کښې ټاکل کيږي.

يوسل شلمه ماده: د کفالي په امر کښې دا څرګندول کيږي چه که شخص د
تحقيق يا دعوي اي د حکم د تنفيذ په وخت حاضر نه شي نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ټاکلي مبلغ ئي د ضبطۍ حکم صادریږي او پاتي برخه ئي د دي لاندنیو لګښتونو دپاره تخصیصیږي:

الف: هغه لګښتونه چه د دولت له خوا کیږي.

ب: هغه نقدي جزاوي چه تورن پري کله کله محکومیږي.

که چیرې مالي کفاله بي له تخصیصه اجرا شوي وي نو په هغه صورت ګڼبي د حاضریدو ضمانت او د نورو مماثلو واجباتو په باب چه په ده باندې تحمیلیږي او هم د غه شان د تنفیذ نه د نه تیښتي ضمانت اختسل کیږي.

یوسل یویشتمه ماده: څارنوالي د جنایتونو په باب کولي شي چه د ابتدائیه قاضي له خوا د تورن د خلاصون د امر خلاف له صادریو وروسته په څلیر ویشتو ساعتونو کښې مرافعه و غواړي.

یوسل دوه ویشتمه ماده: د مرافعي در خواست د ولایت د محکمې د رئیس په وړاندې دائریږي او ډیر ژر د غور لاندي نیول کیږي.

د ولایت د محکمې رئیس کولي شي چه د دې قانون د یوسل اوومي مادي د احکامو په اساس د توقیف د اوږدیدو امر صادر کړي.

که چیرې د مرافعي غوښتني د قرار صادریدو نه پس په دري ورځو کښې موضوع د مرافعوي غور لاندي ونه نیوله شي د ابتدائیه قاضي حکم سمدستي عملي کیږي.

یوسل درویشتمه ماده: د کفالي پیسي د تورن له لاسه وي که د بل د لاسه وي قبلیږي، د پیسو ورکړه د محکمې په خزانه د نقدي تحویلۍ او یا د قیمت بها سندونو په شکل کیږي.

یوسل څلیرویشتمه ماده: که چیرې تورن بي له معقوله عذره د مفروضو التزامونو څخه د کوم یوه په تنفیذ کښې اقدام و نه کړي دده د نقدي کفالي لومړۍ برخه پخپله او بي د محکمې له حکمه د حکومت په حساب معامله کیږي او دوهمه برخه ئي که چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعوي په عدم سمع یا د تورن په برائت فیصله شي تورن ته په ستنه ورکوله کیږي.

یوسل پنځویشتمه ماده: که چېرې د څارنوالي غړي ته دا ثابته شي چه تورن نقدي ضمانت ورکولي نه شي کولي شي چه دي د حالاتو د تقاضا د رعایت سره سره د موقت خلاصون په بدل کښې په دي مکلف کړي چه په ټاکلو وختونو به د پولیس دفتر ته پرله پسي حاضري ورکوي.

د څارنوالي غړي له تورن څخه دا غوښتنه کولي شي چه له هغه هستوګن ځاي څخه چه جرم پکښې شوي دي ووځي او په بل ځاي کښې هستوګنه غوره کړي یا دا چه تورن یو ښودلي ځاي ته له تلوراتلو څخه منع کړي.

یوسل شپږویشتمه ماده: که چېرې د تورن خلاف قوي د لیلونه پیداشي، یادي خپل منلي شرطونه مات کړي یابل څه علت منځ ته راشي نو دده د موقت خلاصون د امر صادریدل د قانون د احکامو مطابق دده دبیا ګرفتاری، یا د توقیف د امر د صادریدو مخه نه شي نیولاي.

یوسل اووه ویشتمه ماده: که چېرې تورن د ولایت د محکمې رئیس یا محکمې ته حواله کړي شي که دي د توقیف لاندي وي نو د خلاصون واك یې او که خلاص وي د توقیف اختیار ئې ددغه محکمې پلاس دي چه دي ورته حواله کړي شوي دي، که چیري حواله د جنایاتو محکمې ته شوي وي نه صلاحیت ئې په هغه صورت کښې چه غونډو دوره ئې نه وي شروع شوي د ولایت د محکمې له قاضي سره دي. که چېرې فیصله په محکمه پورې د موضوع د تعلق نه لرلو په شکل صادره شي نو ترڅو چه دعوي مربوطي محکمې ته وړاندي نه کړي شي ترهغې پورې د موقت خلاصون په غوښتنه باندې غور کول د ولایت د محکمې د رئیس په صلاحیت کښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسل اتويشتمه ماده: د تورن د توقيف په باب د مجني عليه يا د حق العبد د مدعي غوښتنه او دغه شان د تورن د خلاصون په باب پخڅو نو کښې دده خبري اوريدل کيږي.

## نهم فصل

## د ضبط شويو شيونو په باب اقدامات

يوسل نهو يشتمه ماده: د ښارنوالي غړي يا د ولايت محکمې رئيس کولي شي چه کوم شبونه د تحقيق په دوران کښې اخستل شوي وي، د حکم نه مخکښې هم په ستنه د هغو دبيرته ورکولو امر صادر کړي خو په دي شرط چه يوبه ددعوي د چلند سره تعلق نه لري او بل دا چه د مصادري د حکم لاندي به نه وي راغلي.

محکمه دا هم کولي شي چه په دعوي باندې دغور کولو په دوران کښې په ستنه د اخستل شويو شيونو د بيرته ورکړي امر وکړي.

يوسل ديرشمه ماده: په ستنه د اخستل شويو شيونو د بيرته ورکړي امر بي له غوښتني هم صادريدي شي. ښارنوال دا نه شي کولي چه د نزاع له موجودگی سره سره په ستنه د اخستل شويو شيونو د بيرته ورکړي امروکړي.

که چېرې د نزاع يا د شيونو د اصل خاوند په باب شك شبهه موجود وي نو موضوع ددواړو خواو د غوښتني په اساس د پريکړي د پاره د ولايت د محکمې رئيس ته وړاندې کيږي.

يوسل يو ديرشمه ماده: هو څوك چه په اخستل شويو شيونو کښې د حق العبد مدعي وي د ښارنوالي نه ددغو شيونو د ورکولو غوښتنه کولي شي، که چېرې ښارنوالي دده غوښتنه ونه مني دي کولي شي چه د ولايت د محکمې قاضي ته شکايت و کړي او د خپلو دليلونو د اوريدو غوښتنه تري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسل دوه ديرشمه ماده: اخستل شوي شيونه هغه چا ته په ستنه ورکول کيږي چه د اخستلو په وخت کښې تري لاس ته راوستل شوي وي.
که چېرې اخستل شوي شيونه داسي وي چه د جرم موضوع يا د جرم د پيښيدو سبب شوي وي نو دغه شيونه په ستنه هغه چاته ورکول کيږي چه د جرم پيښدو په سبب له لاسه وتلي وي خو په دي شرط چه هغه څوك يي د ستاتلو قانوني حق ونه لري چه دغه شيونه تري اخستل شوي وي .
يوسل دري ديرشمه ماده: د ولايت محكمه او د هغي رئيس د اكولي شي چه ددعوي دواړه خواوي د غور د پاره د حقوقو محكمې ته راجع كړي، په دي صورت كښې دا كيدي شي چه اخستل شوي شيونه د څارني لاندي ونيلو شي او يايي د ساتني په باب نور لازم اجراآت وكړي شي.
يوسل څلور دير شمه ماده: د اخستل شويونو په باب په ستنه د بيرته وركولو امر په محكمه كښې د دواړو خوا وو د غوښتني مخه نه نيسي.
كه چېرې دغسي امر د يوي خوا د غوښتني په اساس د مقابل لوري په مخكښې د محكمې له پلوه صادر شوي وي تورن يا د حق العبد مدعي بل ځل په دغه باب غوښنه نه شي كولي.
يوسل پنځه ديرشمه ماده: كه چېرې ددعوي د سورولو د ضرورت نه لرلو يا د پاڼو د ساتلو امر وركړشي نو په كار دي چه په شيونو كښې د تصرف كولو د خبري پريكون وشي . كه چېرې د دعوي په وخت كښې د ضبط شويو شيونوغوښتنه له محكمې شوي وي نو هم دغسي اجراآت كيږي .
يوسل شپږديرشمه ماده: كه چېرې د دعوي خاوندان د دعوي له ختيبدو نه تر دري كلونو پورې د اخستل شويو شيونو غوښتنه ونه كړي بي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چه محکمه پري حکم صادر کړي پخپله د دولت مال گڼل
کيږي .

يوسل اووه ديرشمه ماده: که چيرې اخستل شوي شي دا سي وي چه د وخت په اوښتو خرابيږي يائي ساتنه د هغه د بې هومره تاوان غواړي نو خرڅون بې په دي شرط جواز لري جه دتحقيق دحالا تو له مخه باك ونه لري. په دي صورت کښې دخرڅ شوي شي خاوندپه هغه موده کښې دننه دچه په پور تني ماده کښې ذکر شوه کولي شي چه دهفه دخرڅون نه د نقدو شويو پيسو غوښتنه وکړي .

## لسم فصل
## دتحقيق پاي او ورپسي اجرآت

يوسل اته ديرشمه ماده: که چيرې څارنوالي د تحقيق د سرته رسولو نه پس د دعوي سورو لو د ضرورت احساس ونه کړي نو په دغه باب خپل قرار صادروي او دت وقيف شوي تورن دخلاصون امر که هغه په بل علت دتو قيف لاندي نه وي صادروي په هغه امر کښې جه په دغه باب صادريږي په کار دي چه موجبه اسباب ذکر شي دا امر مجني عليه او د حق العبد مدعي ته ابلاغيږي که چيرې د دوني نه کوم يو مړوي نو د اخبره ئي ورثه وته د هغه په هستوگن ځاي کښې ابلاغيږي.

يوسل نه ديرشمه ماده: مجني عليه او د حق العبد مدعي هريو دا کولي شي چه د دعوي سورولو د نه ضرورت په باب دڅارنوالي له خوا د صادرشوي امر خلاف مرافعه وغواړي خرپه دي شرط چه دغه امر ديو داسي تورپه باب نه وي صادرشوي چه نسبت ئي د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو مامور، يا مستخدم يا يو قضائي فرد ته دهغه جرم له کبله
شوي وي چه ارتکاب يي د وظيفي د اجراء په سبب شوي وي.
د مرافعي غوښتنه مجني عليه او د حق العبد مدعي ته ابلاغ له
نيټې نه پس په سلو ورځو کښې دننه د محکمې د تحريراتو
دفترته د عريضې په واسطه کيږي. د مرافعي غوښتني اعتراض
د ولايت د محکمې رئيس ته وړاندې کيږي او ډير ژر د غور
لاندي نيول کيږي.

يوسل څلويښتمه ماده: څارنوالي دا کولي شي چه په پورتنۍ ماده کښې ذکر شوي امر د صادريدو نه دري مياشتي پس لغو کړي خو په دي شرط چه محکمې به دهغه اعتراض درد په باب چه د دغه امر خلاف ورته وړاندې شوي وي خپله فيصله نه وي صادره کړي.

يوسل يو څلويښتمه ماده: لوي څارنوالي، مجني عليه او د حق العبد مدعي داکولي شي چه ددعوي سورولو د نه ضرورت په باب د څارنوالي د امرخلاف د مجني عليه يا د حق العبد د مدعي د اعتراض متعلق د ولايت د محکمې د رئيس له لوه د صادر شوي امر په سر ستري محکمې ته خپل اعتراض وړاندې کړي.

په دي باب کښې د دې قانون ديوسل اووه شپيتمي او اته شپيتمي مادي حکمونه په ځاي کيږي.

يوسل دوه څلويشتمه ماده: که چېرې څارنوالي د تحقيق نه پس د اجوته کړي چه پيښه جنايت يا جنحه يا قباحت دي او د تورن خلاف کافي د ليلونه راغونډ شوي دي نو دده خلاف جزائي دعوي سوروي.

که چېرې پيښه جنحه يا قباحت وي څارنوالي تورن ته امر کوي چه ابتدائيه محکمې ته حاضر شي. که چېرې پيښه جنايت وي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عوي د هغي دا حالي د امر په اساس د څارنوال يا د هغه د قايم مقام له خوا د ولايت په محكمه كښې سوريږي.

يوسل دري څلويښتمه ماده: څارنوالي د جزائي دعوي له سورولو وروسته د تورن د توقيف يا خلاصون او دده رفتاري په باب كه پخوا گرفتار شوي او بيا خلاص شوي وي د قانون د حكم مطابق اقدام كوي.

يوسل څلور څلويښتمه ماده: هغه امرونه چي د څارنوالي له خواد دي قانون د يو سل اته ديرشمي او يوسل دوه څلويښتمي مادي د حكمونو مطابق صادريږي په كاردي چه د تورن نوم، شهرت عمر، د زيږيد و ځاي، هستوگن ځاي، كسب او د هغي پيښي د قانوني وصف بيان چه تورن ته ئي نسبت شوي د ي پكښې وي .

## يووسلسم فصل
## داحالي قضاء

يوسل پنځه څلويښتمه ماده: احاله يوي محكمې ته دغور د پاره ديوي موضوع سپارتې ته وائې .

دا حالي قضاء د ولايت د محكمې په قضائي ونډكښې د محكمې د رئيس وظيفه ده.

د جناياتو د عوې د دې قانون ديوسل دوه څلويښتمي او يوسل اووه اتيايمي مادي د حكمونو مطابق ددغه رئيس په وړاندې تقديميږي او دي په عام صورت د خپلو نورو هغو صلاحيتونو ته چه په قانون كښې ذكر شوي دي استفاده كوي.

د ولايت د محكمې رئيس كولي شي چه كه ضرورت پيښ شي خپلي غونډي د مهال ويش نه بهر او يا د محكمې له اصلي هستوگن ځاي څخه بيرون منعقدي كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې ضرورت پیښ شي د ولایت په محکمه کښې د ټولونه د
زیات قدمدار قاضي موظفول ددغه محکمې د قضائي ونډ د
احالي په قضیو باندې د غور او د نورو هغو صلاحیتونو نه د
استفادي د پاره چه په قانون کښې د ولایت د محکمې قاضي ته
ورکړشوي دي جواز لري.

یوسل شپږ ځلویښتمه ماده: د ولایت محکمې قاضي مکلف دي چه ورته د
قضیي د دوسیي د رسیدلو سره سم هغه غونډه وټاکي چه قضیه
پکښې دغور لاندې نیوله کیږي او امر صادر کړي چه د قضیي د
غور ورځ تورن او د دعوي نور و خصوموته ابلاغ شي.

یوسل اووه ځلویښتمه ماده: څارنوالي هغه غونډه چه قضیه پکښې د غورلاندې
نیوله کیږي کم نه کم دري ورځي د غونډې له کیدو مخکښې
تورن او ددعوي نورو خصوموته ابلاغوي.

یوسل اته ځلویښتمه ماده: د ولایت د محکمې رئیس د محکمې غونـدې پټ
په پټه منعقد وي او د پاڼوله کتني، د څارنوالي، تورن او نورو
خصومو د اظهاراتوله او ریدو نه پس خپل اوامر صادروي .
د ولایت د محکمې قاضي کولي شي چه محقق محکمې ته
دلاژمو توضیحاتو دوړاندې کولو دپاره راوغواړي .

یوسل نه ځلویښتمه ماده: د ولایت د محکمې قاضي په ټولو حالاتو کښې
داکولي شي چه د تکمیلي تحقیقاتو د اجراء اقدام وکړي او پا
څارنوالي په دغه کار موظفه کړي.
د ولایت د محکمې رئیس د تحقیق د اجراء په وخت کښې عیناً د
تحقیق د قاضي صلاحیت لري. کله چه تحقیق سرته ورسید،
خصومو ته خبر ورکول کیږي چه ځانونه پري پوه کړي، بیا د
غونډې دکیدو نیټه ټاکل کیږي او د اخبره کم نه کم دري ورځي
دغونډې د کیدونه مخکښې خصوموته د هغوي د اظهاراتو د
اوریدو د پاره ابلاغیږي. د محکمې رئیس پاڼي څارنوالي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليږي چه خپلي غوښتني د تورن د توقيف په صورت کښې په
دري ورځوي او د تورن د خلاصون په صورت کښې په لس ورو
ځوکښې دننه دمحکمي رئيس ته ليکلي وړاندې کړي.

يوسل پنځوسمه ماده: که چېرې د ولايت د محکمې قاضي ته ځرګنده شي چه
پيښه د قانون له مخه د جزاوړنه ده، يا د تورن خلاف دليلونه
کافی نه دی نود دعوی سورو لو دنه ضرورت امر صادروی او
توقيف شوی تورن په دی شرط چه په بل علت توقيف نه وی
خلاصوی.

يوسل يوپنځوسمه ماده: که چيری د ولايت د محکمی رئيس و و ينی چه پيښه
جنحه يا قباحت دی نو مربوطی ابتدائيه محکمی ته ئی د
احالی امر صادروی. په دی صورت کښی څارنوالی مکلفه ده
چه ټولی پاڼی محکمی ته وليږی او خـصـــوم پـه دی خبره
محکمی ته ترټولو په نژدی غونډه کښی دحاضريدو دپاره دهغو
ميعادونو سره برابر چه ددی قانون په دوه سوه نهمه ماده کښی
راغلی دی خبر کاندی.

يوسل دوه پنځوسمه ماده: که چيری د ولايت د محکمی رئيس ته دا ثابته شی
چه پيښه جنايت دی او د تور دليلونه هم کافی دی نو دجناياتو
محکمی ته د موضوع د احالی امر صادروی.
د ولايت د محکمی رئيس د جناياتو محکمی ته د موضوع د
احالی امر د قضيی د وصف د ټالکو په غرض صادروی.

يوسل دری پنځو سمه ماده: که چيری پخوا د پيښی په پاب د ابتدائيه محکمی
له خوا د جنايت والی په اساس د نه صلاحيت نهائی حکم صادر
شوی وی بې له دی چه وکتل شی چه پيښه دڅارنوالی يا د ولايت
د محکمی د رئيس يا د تحقيق د قاضی له پلوه دغه ابتدائيه
محکمی ته ارجاع شوی ده د ولايت د محکمی رئيس مکلف دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د نور دلیلونه کافی و گڼبی چه دعوی د جنایاتو محکمی ته
وسپاری. که چیری د ولایت د محکمی رئیس بیا هم پیښه جنحه
یا قباحت وګڼبی کولی شی چه قضیه دجنایاتو محکمی ته د
لاژم حکم د صادرولو دپاره حواله کاندی.

یوسل څلور پنځوسمه ماده: که چیری په تحقیق کښی دیوه نه زیات جرمونه
شامل وی او ټول د صلاحیت له مخه یوه سویه ولری او ټول یو په
بل پوري تړی وګڼل شی دغه ټول جرمونه یوی داسی محکمی ته
چه په مکانی لحاظ واکمنه وی د احالی په یوه امر لیږل کیږی او
که چیری جرمونه دسوئی په لحاظ د مختلفو محکمو په
صلاحیت کښی داخل وی نو بیا تر ټولو او چتی محکمی ته لیږل
کیږی.

یوسل پنځه پنځوسمه ماده: په هغه امر کښی چه د قضیی د احالی دپاره
مربوطی محکمی ته صادریږی تورن ته منسوب شوی جرم، د
هغه ټول ارکان. د جزا د سختولو یا نرمولو موجبات او د قانون
هغه ماده چه تطبیق ئی مطلوب وی ښودل کیږی.

یوسل اووه پنځوسمه ماده: د ولایت د محکمی رئیس هر کله چه و غواړی کولی
شی چه مربوطی محکمی ته د قضیی د احالی په امر کښی تورن
ته دنسبت شوی فعل قانونی وصف واړوی او هغه سختوونکی
حالات چه دی ئی وینی پکښی زیات کړی. دغه شان دی کولی
شی چه په دعوی کښی نوری پیښی او نور نورن کشان هم داخل
کاندی خوپه دې شرط چه دغه پیښی په تحقیق کښی راغلی وی
او دپیښو او تورنو کسانو په باب داسی حکم یا امر نه وی صادر
شوی چه د (محکوم به) شی ارزښت ئی حاصل کړی وی.

یوسل اته پنځوسمه ماده: د ولایت د محکمی رئیس په هغه امر کښی چه
مربوطی محکمی ته ئی د قضیی د احالی باب صادروی د تورن
د توقیف د جاری پاتی کیدو یا خلاصون یا که چیری مخکښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وی گرفتار شوی یا خلاص شوی وی دهغه د گرفتارۍ او توقیف خبره څر گندوی.
که چیری د خلاصون په صورت کښی لومړی د تورن نه د کفالی اخستن نه لاژمه وگڼله شی په کفالی پوری مربوط حکمونه تطبیقیږی.
یوسل نه پنځوسمه ماده: په هغه صورت کښی چه د ولایت د محکمی رئیس د جنایاتو محکمی ته دقضیی د احالی امر صادروی ورسره ورسره د هغو کسانو فهرست چه د شاهدی اوریدنه ئی لاژمه وی د هریوه د نامه او هستوگن ځای سره او د هغو پیښو خبر چه دهغو په باب د دوی د شاهدی اوریدنه په کار ده محکمی ته لیږل کیږی.
یوسل شپیتمه ماده: څارنوالی د جنایاتو محکمی ته د موضوع د احالی امر د صادریدو راهیسی په دری ورځو کښی د ننه د ننه په موضوع باندی خصوم خبروی.
یوسل یو شپیتمه ماده: که چیری د جنایت ي تورن د هغه جنایت په قضیه کښی چه د جنایاتو محکمی ته ئی د احالی امر صادر شوی وی د دفاع وکیل نه وی نیولی د ولایت د محکمی رئیس دی په دی پوهوی چه د وکیل نیولو حق لری او که چیری د دی کار د پاره د مهلت ورکول لاژم شی ده ته مهلت ورکوی.
یو سل دوه شپیتمه ماده: پانی د احالی نه پس سمدستی د جنایاتو محکمی ته لیږل کیږی خوچه کله دتورن مدافع وکیل د دوسیی دکتنی دپاره د مهلت غوښتنه وکړی د ولایت د محکمی رئیس دیوی ټاکلی مودی پوری چه له لسو ورځونه زیاته به نه وی ده ته مهلت ورکوی. پانی په دغه موده کښی د تحریراتو په دفتر کښی ایښو دلي کیږی او مدافع ئی همدغلته په کتنه بوختیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسل دری شپیتمه ماده: دغونډی د انتظام دپاره د ولایت د محکمی رئیس
تول هغه صلاحیتونه لری چه ابتدائیه قاضی ئی لری.

یوسل څلور شپیتمه ماده: که چیری په جنایت باندی دقضیی احاله د تورن نه
پټی شاشوی وی او دی بیاور وسته پخپله حاضر یا ونیول شی
په محکمه کښی په دعوی باندی غور د ده په مخکښی کیږی.

یوسل پنځه شپیتمه ماده: که چیری محکمی ته دقضیی د احالی د امر د
صادریدونه پس د تکمیلی تحقیقاتو د اجراء ضرورت پیښ شی
څارنوال مکلف دی چه هغه اجرا کړی او نتیجه ئی په محضر
کښی درج او محکمی ته ئی وړاندی کړی.

## دولسم فصل

## دمحکمی په صادرو شویو امرونو اعتراض

یوسل شپږ شپیتمه ماده: لوی څارنوال، مجنی علیه او دحق العبد مدعی کولی
شی چه د جزائی دعوی دسورولو دپاره د علت د نشتوالی په
باب د ولایت د محکمی د رئیس له خوا د صادر شوی امر خلاف
ستری محکمی ته خپل اعتراض وړاندی کړی.

یوسل اووه شپیتمه ماده: په پورتنۍ ماده کښی ذکر شوی اعتراض هغه وخت
معتبر ګڼل کیږی چه د اعتراض لاندی راغلی امر د قانون نه په
مخالف اساس یا د قانون په تطبیق او تاویل کښی د اشتباه
پیښیدو په اساس باندی ولاړوی یا پکښی بطلان پیښی شوی
وی او یا په اجراء اتو کښی داسی بطلان پیښ شوی وی چه په
حکم کښی موءثروی. اعتراض او په اعتراض باندی غور د هغو
قاعدو سره سم کیږی چه د اعتراض د موضوع د تنظیم د پاره په
ستره محکمه کښی تطبیقیږی. د څارنوالی او نورو خصومو په
باب د اعتراض موده د امر د صادریدو له نیتی څخه شروع
کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسل اتم شپیتمه ماده: محکمه د څارنوالی او نورو خصومو د اظهاراتو له اوریدو ورسته خپل حکم صادروی، که چیری اعتراض د محکمی په وړاندی ومنل شی نو قضیه یوځل بیا د ولایت د محکمی رئیس ته د هغه جرم له ټاکلو سره چه دیو فعل یا افعالو له کولو جوړ شوی دی په ستنه لیږی.

## دیار لسم فصل

### د نویو دلیلونو د را بر سیره کیدو له کبله د تحقیق جارو تنه

یوسل نه شپیتمه ماده: که چیری د جزائي دعوی د سقوط د میعاد له ختمیدو مخکښی نوی دلیلونه را بر سیره شی هغه امر چه د دعوی سورولو د نه ضرورت په باب د څارنوالی یا د ولایت د محکمی له خوا صادر شوی وی د تحقیق د جاروتنی مخه نه نیسی. د شاهدانو شاهدی، محضرونه او نوری پاڼی چه مخکښی څارنوالی یا د ولایت د محکمی رئیس ته نه وی وړاندی شوی خو ممکنه ده چه د هغو دلیلونو د تقوئي موجب شی چه پخوا نه کافی ګڼبل شوی وو او یا د داسی وضاحت سبب شی چه حقیقت تری څرګند شی د نویو دلیلونو له جملی ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوار لسم فصل
## تحقيق دقاضي په لاس

يوسل اويايمه ماده: كه چېرې لوي څارنوالي د جنايت په فقر و كښې دقضيې تحقيق ديو قاضي په لاس بهتر و ګڼي كولي شي چه د دعوي په هر حالت كښې د ولايت د محكمې له ريس نه غواړي چه دمحكمې يو قاضي ددغه كار دپاره موظف كړي څارنوالي د تحقيق كار دقاضي تر ورتګه پورې جاري ساتي.

يوسل يو اويايمه ماده: د تحقيق قاضي يي دڅارنوالي له غوښتني يا د يوبل داسي مقام له احالي پر ته جه په قانون كښې ښو دل شوي وي ديو ټاكلي جرم په باب د تحقيق دكولو اقدام نه شي كولي.

يوسل دوه اويايمه ماده: كله چه دعوي د تحقيق قاضي ته وسپارله شوه بيا دتحقيق صلاحيت يواځي دي لري اوبي له ده بل هيڅوك د قضي د تحقيق اقدام نه شي كولي.

يوسل يو او يايمه ماده: د تحقيق قاضی بی دڅارنوالی له غوښتنی يا ديو بل داسی مقام له احالی پرته چه په قانون كښی ښودل شوی وی ديو ټاكلی جرم په باب د تحقيق دكولو اقدام نه شی كولی.

يوسل دوه او يا يمه ماده: كله چه دعوی د تحقيق قاضی ته وسپارله شوه بيا د تحقيق صلاحيت يواځی دی لری او بې له ده بل هيڅوك د قضيی د تحقيق اقدام نه شی كولی.

يوسل دری او يا يمه ماده: د تحقيق قاضی په هغه قضيه كښی چه تحقيق ئی ده ته سپارل شوی دی د تحقيق له مقرراتو سره سم دڅارنوالی له لاری د دی فصل د احكامو له رعايت سره اقدام كوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسل څلور او يا يمه ماده: د تحقيق قاضی کولی شی چه دخارنوالی يو
غړی يا د قضائی ضبط يو مامور د خپل صلاحيت په کرښې
کښی د ننه د ځينو چارو په اجرا موظف کړي.

يوسل پنځه او يايمه ماده: که چيري د تحقيق قاضي د ځايونو د حالت د تثبيت
يا د تفتيش د اجراء د پاره پخپله تگ لاژم وگڼی نود دی
موضوع خبر ځارنوالی ته ورکوی.

يوسل شپږ او يايمه ماده: هغه شاهد چه د شاهدی ويلو دپاره د تحقيق قاضی
ته له تللو څخه انکارو کړی او هغه شاهد چه دتحقيق د قاضی
ته له تللو څخه انکار وکړی او هغه شاهد چه د تحقيق د قاضی
په وړاندی حاضريږی خو د سوگند کولونه ډډه کوی يا هغه
شاهد چه ځان معذور ښيي خو په نتيجه کښی دده عذر صحيح
نه خيژی د دی قانون د دوه اتيا يمی، دری اتيايمی او څلور
اتيايمی مادی د حکمونو سره سم په جزا محکوميږی.

يوسل اووه او يايمه ماده: هغه حکمونه چه د پورتنی مادی د حکم سره سم د
شاهدانو خلاف د تحقيق دقاضی له خوا صادريږی د قانون له
حکمه سره سم د اعتراض لاندی راتلای شی.

يوسل اته او يايمه ماده: که چيری شاهد پخپله خوښه يا له هغه وروسته چه
دوهم وار په حاضر يدو مکلف شی دتحقيق دقاضی په وړاندی
حاضر شی او معقول عذرو ښيئی قاضی د ځارنوالی د اظهاراتو
له اوريدو وروسته دی له نقدی جزا معافولی شی او که چيری د
تحقيق د ختميدو نه مخکښی دشاهدی نه ويلو يا سوگند نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولونه واوړی د تحقیق قاضی کولی شی چه د ده ټوله یا څینی جزا عفو کاندی.

یوسل نه او یایمه ماده: د تحقیق قاضی د توقیف د امر له صادرولو نه مخکښی مکلف دی چه د څارنوالی اظهارات واوری.

څارنوالی په هره مرحله کښی دتورن دتوقیف غوښتنه کولی شی.

یوسل اتیایمه ماده: دتوقیف په باب چه د تحقیق قاضی کوم امر صـــــادروی هغه ترپنځلسو ورځو پوری چلیږی. سره ددی هم دی کولی شی چه دڅارنوالی او تور د اظهاراتو له اوریدنی وروسته یوځل یا څوواری د توقیف امر اوږد کړي خوپه دې شرط چه د توقیف ټوله موده له دوومیاشتو وانه وړی.

یوسل یو اتیایمه ماده: که چیرې د تحقیق جریان لاپای ته نه وی رسیدلی او قاضی د توقیف اوږدوالی په پورتنۍ ماده کښی د ذکر شوی میعاد نه تر زیاتی مودی پورې لازم وبلی نو په کار دی چه ددغه میعاد له ختمیدو نه مخکښی دموضوع پاڼی د ولایت د محکمی رئیس ته وسپارلی شی چه دی کوم امر لازم گڼی هغه ددی قانون دیوسل اوومی مادی دحکم سره سم صادر کړی.

یوسل دوه اتیایمه ماده: څارنوالی کولی شی چه په جنایاتو کښی د تحقیق د قاضی له خوا د خلاصون د صادر شوی امر په باب استیناف وغواړی په دی حالت کښی د دی قانون د یوسل یوویشتمی او یوسل دوه ویشتمی مادی حکمونه تطبیقیږی.

یوسل دری اتیایمه ماده: که چیری د ولایت د محکمی د قاضی له خوا د توقیف امر د څارنوالی د استیناف په اثر صادر شوی وی له نوی سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورن د خلاصون امر د ولایت د محکمی درئیس نه پرته بل هیڅوك نه شی صادر ولی.

یوسل څلور اتیایمه ماده: چه کله تحقیق پای ته ورسیږی نو د تحقیق قاضی پاښی څارنوالی ته لیږی. څارنوالی مکلفه ده چه که غوښتنی لری هغه دتورن د توقیف په صورت کښی د دری ورځو دننه دننه او د تورن د خلاصون په صورت کښی دلسو ورځو دننه دننه لیکلی د تحقیق قاضی ته وړاندی کړی. د تحقیق قاضی مکلف دی چه د تحقیق رویداد ټولو خصومو ته ابلاغ کړی چه که په دغه باب څه نظریات لری چه هغه څرگند کړی.

یوسل پنځه اتیایمه ماده: که چیری د تحقیق قاضی ددی خبری احساس وکړی چه پیښه دقانون له مخه دجزاوړنه ده، یا د تورن خلاف دلیلونه کافی نه دی نو د دعوی سورو لو دنه ضرورت امر صادروی او که تورن په بل علت توقیف نه وی هغه خوشی کوی. هغه امر چه په دی باب صادریږی په کاردی چه دموجبه اسبابو ذکر پکښی وی. دا امر مجنی علیه او دحق العبد مدعی ته ابلاغیږی، که چیری د هغوی نه کوم یومړوی نوامر ئی ورثه وته دده په هستو گن ځای کښی رسول کیږی.

یوسل شپږ اتیایمه ماده: که چیری دتحقیق قاضی دا تثبیت کړی چه پیښه جنحه یا قباحت دی نوتورن مربوطی ابتدائیه محکمی ته حواله کوی او څارنوالی مکلفه ده چه ډیر ژر ټولی پاڼی هغی محکمی ته ولیږی او موضوع خصوموته ددی قانون دیوسل نهمی مادی د ذکر شویو میعادونو له مخه په خوار نژدی غونډه کښی دگډون په غرض محکمی ته د حاضریدو د پاره ابلاغ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسل اووه اتیایمه ماده: که چیری د تحقیق قاضی داتثبیت کړی چه پیښه جنایت دی او د تورن خلاف دلیلونه کافی دی دعوی د ولایت د محکمی رئیس ته حواله کوی او څارنوالی دغی محکمی ته د پاڼو ته سمدستی لیږلو مکلفوی.

یوسل اته اتیایمه ماده: څارنوالی، مجنی علیه او د حق العبد مدعی کولی شی چه دهغو امرونو خلاف چه د تحقیق د قاضی له خوا د دعوی سورولو د نه ضرورت په باب صادریږی اعتراض وکړی خو دا هله چه دغه امر یو دولتی مامور یا مستخدم یا دقضائی ضبط یو مامور ته د نسبت شوی تور په باب دهغه جرم په اساس چه دوظیفی د اجراء په وخت یا دوظیفی د اجراء په علت پیښ شوی وی نه وی صادر شوی.

د اعتراض د میعاد او دهغه داجراآتو په باب د دی قانو د یوسل نه دیرشمی مادی حکمونه په ځای کیږی.

دڅارنوالی په باب د اعتراض میعاد د اعتراض لاندی راغلی امر د صادریدو له نیټی څخه حسابیږی.

یوسل نه اتیایمه ماده: څارنوالی هر کله چه وغواړی د تحقیق پاڼی د تحقیق په جریان باندی دځان خبرولو دپاره کتلی شی خوپه دی شرط چه دغه اجراآت د تحقیق په جریان کښی ځنډ رانه ولی.

یوسل نوی یمه ماده: څارنوالی او نور خصوم کولی شی چه لازم دفوع او طلبات د تحقیق قاضی ته وړاندی کړی، دتحقیق قاضی د دری ورځو دننه دنه د موجبه اسبابو بیان سره د موضوع د پریکون اقدام کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم کتاب

## محکمی

## لمړی باب

## صلاحیت

### لومړی فصل

### په جزائی مسئلو کښی د جزائی محکمو صلاحیت

یوسل یو نوی یمه ماده: هر قضیه چه د قانون په مقتضی جنحه یا قباحت گڼل کیږی حل و فصل ئی د ابتدائیه محکمی په صلاحیت کښی دی.

یوسل دوه نوی یمه ماده: هر ه قضیه چه د قانون په مقتضی جنایت گڼل کیږی حل و فصل بی دجنایاتو د محکمی په صلاحت کښی دی.

یوسل دری نوی یمه ماده: دغور د پاره مختصه محکمه د جرم دپیښیدو د ځای یا د تورن دهستوگن ځای او یا دتورن د نیونی د ځای محکمه ده.

یوسل څلور نوی یمه ماده: د جرم د شروع په حالت کښی هر هغه ځای چه پکښی د جرم ارتکاب د شروع له چارو څخه یو چاره پیښه شوی وی د جرم دپښیدو ځای گڼل کیږی.

د مستمرو جرمونو په باب هغه ځای چه پکښی داستمرار حالت جاری وی او د اعتیادی او متوالی جرمونو په باب هغه ځای چه پکښی ددغو جرمونو له چارو څخه دیوی چاری ارتکاب کیږی دجرم دپیښدو ځای گڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسل پنځه نوی دیمه ماده: که چیري د افغانستان نه بهریو داسی جرم پیښ شی چه د افغانی قانون احکام دهغه په باب تطبیقیږی او مرتکب په افغانستان کښی یو ټاکلی هستوګن ځای ونه لری او نه به افغانستان کښی نیول شوی وی که جنایت وء نو دعوی یې د کابل د جنایاتو د محکمی او که جـنحه وه نـــو دعوی ئې د کابل د ابتدائیه محکمی په وړاندی دائریږی.

## دوهم فصل

په هغو حقوقی مسئلو کښی د جزائی محکمو صلاحیت چه دجزائی مسئلو پریکړه ورپوری تړلې وی.

یوسل شپږ نوی یمه ماده: د جرم نه راولاړی شوې د خساری د جبران په باب حقوقی دعواګانی په هره اندازه چه وی د جزائی محکمو په وړاندی د جزائی دعوو سره یوځای دغور دپاره دائر یدلی شی.

یوسل اووه نوی یمه ماده: جزائی محکمه د ټولو هغو قضایا و د پریکون صلاحیت لری چه پریکون ئی د جزائی دعوو سره تړون لری او ددغی محکمی په وړاندی دائرې شوی وی خوپه دی شرط چه دقانون حکمونو صریحا مستثنی کړی نه وی.

یوسل اته نوی یمه ماده: که چیري دیوی جزائی دعوی په باب د حکم صادرونه دیوی بلی جزائی دعوی دفیصلی په نتیجه پوری موقوفه وی نو دلمړی دعوی غور د دوهمی دعوی ترپایه پوری ځنډیږی.

یوسل نه نوی یمه ماده: که چیری دیوې جزائی دعوی فیصله د شخصیه احوالو د موضوعاتو له جملې څخه په یوه موضوع پورې موقوفه وی جزائی محکمه کولی شی چه جزائی دعوی وځنډوی او تورن، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حق العبد مدعی یا مجنی علیه ته دیوی ټاکلی موديې مهلت ورکړی چه موضوع واکنی مرجع ته وړاندی کړی. د دعو و ځنډونه د ضروری او عاجلو تحقیقاتو او اجراآتو مخه نه نیسی.

دوه سومه ماده: که چیري هغه میعاد چه په پورتنی ماده کښی ذکر شوی دی تیرشی او دعوی خپل واکمن مرجع ته نه وی وړاندی شوی محکمه کولی شی چه د دعوی له ځنډنه تیره شی او دهغی د پریکون اقدام و کړي. دغه شان محکمه کولی شی چه که لاژمه ئی و ګڼی دغه میعاد یو وار بیا اوږد کاندی.

دوه سوه یوه ماده: جزائی محکمی دغیر جزائی مسئلو په باب دجزائی ادعا سره دربط په لحاظ د حل و فصل په اقدام کښی د همدغو مسئلو په خاص قانون کښي د اثبات د لارو چارو پیروی کوی.

## دریم فصل

## د صلاحیت جګړه

دوه سوه دوهمه ماده: که چیري دعوی دداسی واحد جرم یا ګڼو جرمونو له کیله وړاندی شوی وی چه دتحقیق یا حکم په لحاظ د ولایت دیوی محکمی په دوه مربوطو مرجعو پوري تعلق لری او دواړو مرجعو د صلاحیت لرلو یانه لرلوپه باب خپلی نهائی فیصلی صادری کړی وی او د غور صلاحیت په هماغو دوو مرجعو پوري منحصر وی د صلاحیت دار مرجع د تشخیص دپاره موضوع د جنحو داستیناف د دیوان په وړاندی چه د ولایت دمحکمی په چوکات کښی واقع دی وړاندی کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه دریمه ماده: که چیري د صلاحیت لرلو یانه لرلو په باب د ولایت په دوه محکمو یا دجنایاتو په دوه محکمو پورې دوه مربوط مرجع نهائی فیصلی صادرې کړی د صلاحیت د ټاکلو موضوع ستری محکمی ته وړاندی کیږی.

دوه سوه څلورمه ماده: د دعوی د خصومو له جملې څخه هر یوکولی شی چه دیو درخواست په ضمن کښی خپل سندونه او دلیلونه بیان او د مربوطی محکمی دټاکلو غوښتنه و کاندی.

دو سوه پنځمه ماده: محکمه په غوښتنه باندی د اطلاع حاصـــلولونـــه وروسته امر کوی چه دموضوع پاڼی دې د تحریراتو په دفتر کښی د نورو خصومو دخبر تیا د پاره کښېښودلی شی چه په لسو ورځو کښی دننه دننه هریو خپل خپل نظریات لیکلی وړاندی کړی. کله چه دموضوع پاڼی د تحریراتو په دفتر کښې کښېښودلی شی د دعوی دغور جریان ځنډول کیږی یا داچه محکمه د دی حکم په عکس باندی امر صادر کړی.

دوه سوه شپږمه ماده: ستره محکمه یا د ولایت محکمه په مربوطو پاڼو باندی د اطلاع حاصلولو نه پس مربوطه محکمه یا هغه مرجع چه باید دعوی وړاندی بوځی ټاکی دغه شان محکمه دهغو نورو محکمو د اجراآتو و حکمونو په باب چه دهغو په صلاحیت لرلوئی حکم کړی دی تصمیم نیسی.

دو سوه اوومه ماده: که چیري د محکمی کښی چه څارنوالی نه وی په یوه داسی نقدی جزا چه مبلغ ئی له پنځه سوه افغانیو نه زیات نه وی محکومیدی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم باب

## د جنحی او قباحت محکمی

## لومړی فصل

### د دوارو جگړه والو خواو خبرونه

دوه سوه اتمه ماده: د جنحو او قباحتونو محکمونه دعوی د ثارنوالی د غړو یا د حق العبد د مدعی په لاس محکمی ته د تورن د حاضریدلو د مکلفیت سره ددی قانون د نهمی مادی په احکامو برابر سپارلی کیږی.

دغه شان د ولایت د محکمی درئیس یا د تحقیق دقاضی د امر په اساس هم دعوی محکمی ته سپارل کیږی.

که چیری تورن پخپله غونډی ته راغی او د ثارنوالی لـه پلوه ورته تور متوجه شو او ده محاکمی ته غاړه کښېښو ده دا اجراء د حاضریدو د مکلفیت قایم قامه ده.

دوه سوه نهمه ماده: محکمی ته په حاضریدلو باندی د دوارو جگړه والو خوا و مکلفیت د قباحتونو په باب له غونډی نه یوه ورځ او د جنحو په باب له غونډی نه دری ورځی مخکښی کیږی. په دی میعاد کښی هغه وخت چه دلاری دمز له دو هلو دپاره په کار دی داخل نه دی. دا مکلفیت د خارنوالی او حق العبد د مدعی له جملې څخه د هریوه دغوښتنی له مخه کیدی شی. د مشهود جرم په حالت کښی محکمی ته د تورن د حاضریدلو مکلفیت بې له مهلته هم جواز لری. خوکله چه تورن محکمی ته حاضر شی او دخپلی دفاع د تیاری دپاره مهلت وغواړی د محکمی له خوا ورنه د پورتنی مادی مطابق مهلت ورکول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه لسمه ماده: تورن ته نسبت شوی تور او هغه مواد چه د جزا په ټاکلو تصریح کوی په احضار پاڼه کښی درجیږی او پخپله تورن یا دهغه هستوګن ځای ته د قانون په حکمونو برابر ابلاغیږی. که چیري. د تورن دهستوګن ځای دلټون کوشش تش لاړشی احضار پاڼشه هغه اداری مرجع ته چه په افغانستان کښی د تورن وروستی هستوګن ځای ورپوری تړون لری سپارله کیږی او دجرم دپیښیدو ځای دتورن تر ټولو وروستی هستوګن ځای ګڼل کیږی خوپه دی شرط چه خلاف ئی ثابت نه شی.

دوه سوه یوو لسمه ماده: د بندیانو ابلاغ د محبس آمریائی قایمقام او دهغو ضابطانو او افرادو ابلاغ چه په اردو کښی په خدمت بوخت وی او د ژاندارم د افرادو او ضابطانو ابلاغ د ژاندارم او اردو مربوطو اداروته کیږی.

دوه سوه دولسمه ماده: خصوم حق لری چه محکمی ته په حاضریدو باندی د مکلفیت سره سمدستی د دعوی په پاڼو باندی ځانو نه خبر کاندی.

## دوهم فصل

## د دواړو جګړه والو خواو حضور

دوه سوه دریار لسمه ماده: دهغی جنحی تورن چه جزائی حبس وی مکلف دی چه پخپله محکمی ته حاضر شی. د نورو جنحو او د قباحتونو په باب تورن کولی شی چه د دفاع دپاره خپل وکیل پخپله نمایندګی راولیږی خو محکمه په هر حالت کښی داکولی شی چه پخپله تورن ته د حاضریدو امرو کاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د دی هم د تورن وکیل یائی قریب یائی یو خپلوان کولی شی چه محکمی ته حاضر شی او د تورن دنه راتلو عذر بیان کړی. که چیری دده عذر د محکمی له خوا و منل شی نو محکمی ته دتورن د حاضریدو د پاره یو میعاد ټاکی او ځارنوالی مکلفه ده چه ددغه میعاد اطلاع تورن ته ورسوی.

دوه سوه څوار لسمه ماده: هر کله چه خصم د قانون مطابق په حاضرید لو باندی د مکلفیت نه پس په ټاکلی ورځ محکمی ته حاضر نه شی او خپل وکیل هم په هغو مواردو کښی چه اعتبار لری راونه لیږی نو که چیری احضار پاڼه پخپله ده ته سپارل شوی وی او داسی عذر ئی هم نه وی وړاندی کړی چه دده دنه حاضریدو باك لری کوی محکمه د دعوی دپریکون اقدام کوی او دا محاکمه قانونا د حضوری محاکمی په حکم کښی ګڼل کیږی.

که چیري احضار پاڼه پخپله تورن ته نه وی سپارل شوی محکمه ابلاغ تکراروی او ده ته خبرداری (اخطار) ورکوی چه که هغی را تلونکی غونډی ته حاضر نه شی چه په موضوع د پریکون اقدام وکړی، دغه وخت محاکمه قانونا د حضوری محاکمی په حکم کښی ګڼل کیږی.

دوه سوه پنځلسمه ماده: که چیري تورن ته پخپله د احضار پاڼی د رسیدو او د محکمی د خبرداری ورکولو سره سره دی حاضر نه شی محکمه مکلف ده چه په دعوی باندی دغور کولو په باب خپلو اجرآتو ته په داسی شان دوام ورکړی چه ګنی تورن حاضر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه شپاړسمه ماده: محکمه هر وخت چه وغواړی کولی شی چه د تورن د
توقیف او هغې غونډې ته ئی د حاضرو لو امر صادرکړی چه
دځنډنه پس په دعوی باندی دغور دپاره ټاکل شوی ده.
دوه سوه اوولسمه ماده: که چیری تورن په دعوی باندی له غوره پس او دغونډې
له پای ته رسیدلو نه مخکښې حاضر شی نو په دعوی باندی
غور د ده په مخکښی بیرته جار ویستل کیږی.

## دریم فصل

### په دعوی باندی غور او د محاکمی په غونډه کښی د اجراآتو لاری چارې.

دوه سوه اتلسمه ماده: د محاکمی غونډه باید ښکاره وی، سره ددی هم محکمه
کولی شی چه د عمومی نظام یا د عمومی آدابو د ساتنی نه د را
پورته شویو ملاحظاتو له مخه امر وکړي چه ټولو دعوی یا د
دعوی یوه برخه دی په پټو غونډو کښی دغور لاندی ونیوله شی.
دغه شان محکمه کولی شی چه د خلکو یوه ټاکلی ډله په غونډه
کښی دګډون کولو نه منع کړی.
دوه سوه نولسمه ماده: دڅارنوالی یوغړی باید چه دجزائی محکمو په غونډو
کښی ګډون ولری او محکمی مکلفی دی چه د ده اظهارات
واوروی او په غوښتنوئی غور وکړی.
دوه سوه شلمه ماده: تورن دڅارنی لاندی غونډې ته حاضریږی.
په دعوی باندی د غور په وخت کښی دڅارن ډډې ته کول
جواز نه لری مګر هله جواز لری چه د غونډې انتظام داسی تس
نس کړی چه ډډې ته کول یی لازم وګڼل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغسې حالت کښې ځو پورې چه غونډېږی ته د ده د حاضریدو
په باب لاز اواره نه شی دمحاکمی اجراآت جاری ساتل کیږی.
محکمه مکلفه ده چه د تورن پشی شائی کوم اجراآت کړی وی
په هغو باندی دی خبر کړی.

دو سوه یویشتمه ماده: په غونډه کښې غور په لور آواز دخصومو او شاهدانو په
نومونو اخستلو شروع کیږی.

د تورن نه دده د نامه، لقب، عمر، کسب، د زیږ یدو دځای او
هستوګن ځای پوښتنه کیږی او هغه تور چه د دعوی د احالی په
امر یا احضار پاڼه کښې پ ده پورې تړل شوی دی لوستل کیږی.

وریسی څارنوالی او د حق العبد مدعی کومی غوښتنی چه لری
ئی وړاندی کوی او بیاد تورن نه پوښتنه کیږی چه دکوم فعل د
ارتکاب نسبت چه ده ته شوی دی دهغه په کولو اعتراف لری که
نه ؟

که چیری تورن د فعل په ارتکاب باندی اعتراف وکړی محکمه
کولی شی چه دغه اعتراف کافی وګڼی او بې شاهدانو د
شاهدی له اوریدلو خپله فیصله صادره کاندی، که چیری تورن
معترف نه وی نو د اثبات د شاهدانو د شاهدی د اوریدلو اقدام
کوی.

د شاهدانو نه لومړی څارنوالی، وروستی مجنی علیه وریسی د
حق العبد مدعی بیا تورن او بنه وروسته د حق العبد مسئول
پوښتنه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څارنوالی او مجنی علیه او حق العبد مدعی په دوهم وارهم د شاهدانو نه دهغو پیښو د توضیح دپاره چه دهغو په باب ئی په خپلو شاهدیو کښی جوابونه ویلی وی پوښتنه کولی شی.

دو سوه دوه ویشتمه ماده: د اثبات د شاهدانو د شاهدی له اوریدنی وروسته د نفی د شاهدانو شاهدی او رید له کیږی، تورن د حق العبد مسئول، څارنوالی او مجنی علیه په ترتیب سره او تر ټولو وروسته د حق العبد مدعی د نفی له شاهدانو پوښتنه کوی.

تورن او د حق العبد مسئول په دوهم وارهم د شاهدانو ته دهغو پیښو توضیح دپاره چه دهغو په باب ئی په خپلو شاهدیو کښی جوابونه ویلی وی پوښتنه کولی شی.

د خصومو له جملی څخه هریو کولی شی چه د هغو پیښو د توضیح یا تحقیق د پاره چه شاهدانو د هغو په باب شاهدی ویلی وی د شاهدانو د شاهدی دبیا اوریدو او یا د دغه مطلب دپاره د نورو شاهدانو د شاهدی اوریدلو غوښتنه وکړی.

دوه سوه درویشتمه ماده: دعوی په هر حالت کښی چه وی محکمه کولی شی هره پوښتنه چه وغواړی د حقیقت د څرگند تیاد پاره د شاهدانو نه وکړی یا خصومو ته دشاهدانو دپوښتنی کولو اجازه وکاندی.

محکمه مکلفه ده چه شاهدانو ته دداسی پوښتنو د مخامخ کیدو مخه ونیسی چه یا په موضوع پوری ربط نه لری او یا ئی مخامخ کیدل جائز نه وی.

دغه شان محکمه مکلفه ده چه هر قسم داسی صریحه خبره یا اشاره او یا تمليح منع کړی چه د شاهد دویرولو یا د افکارو دگډو ډی سبب کیږی. محکمه کولی شی چه د شاهدانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهدی د اوریدلو غوښتنه دهغو پیښو په باب چه د محکمی په وړاندی په کافی اندازه روښانه شوی وی تردید کاندی.

دوه سوه څلیرو یشتمه ماده: د تورن نه په زور جواب غوښتل جواز نه لری.

که چیری په دعوی باندی دغور کولو په وخت کښی داسی پیښی رابر سیره شی چه دهغو په باب د تورن له پلوه د توضیحاتو وړاندی کونه لاژمه وګڼله شی قاضی د ده پام ورته اړوی او اجازه ورکوی چه لاژم توضیحات وړاندی کړی.که چیری تورن پوښتنونه د جواب ورکولونه ځان وژغوری یا په غونډه کښی د ده اظهارات دهغو اظهاراتو سره چه دتور د دلیلونو دټولونی یا د تحقیق په وخت کښی ئی کړی دی مغایرت ولری محکمه کولی شی چه د تورن د لومړنو اظهاراتو د لوستلو امر وکړي.

دوه سوه پنځو یشتمه ماده: د څارنوالی غړی، تورن او د دعوی نور خصوم کولی شی چه د اثبات او نفی د شاهدانو د شاهدی اوریدلونه پس په خبرو پیل وکړی. په هر حال تورن ته په آخر کښي یو ځل بیا دخبرو کولو موقع ورکوله کیږی.

که چیری تورن یا دهغه مدافع وکیل دغور په وخت د خپلو خبروپه دوران کښی د دعوی د موضوع نه ووځی، یا یو مطلب بیاو وائی محکمه کولی شی چه دموضوع نه د وتلو یا د مطلب د تکرارو لو مخه ونیسی.

د دغو پورتنو اجراآتو د پای ته رسیدلو نه پس په دعوی باندی دغور کولو مرحله سرته رسیږی او محکمه دغور او مذاکری نه پس خپل حکم صادروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه شپږ ویشتمه ماده: د محاکمی دغونډی جریان باید ولیکل شی او زیات نه زیات یوه ورځ پس باید دهغه په هر مخ باندی د محکمی درئیس او محرر ا مضاء و اخستله شی. په دی رویداد کښی دغونډی تاریخ، د غونډی پېوالی او ښکاره والی، د قاضیانو، محرر او د څارنوالی د هغه غړی نومونه چه په غونډه کښی ئی ګډون لاره، دخصومو او مدافعو وکیلانو نومـــونه، دشـــــاهدانو شاهـــدی او دخصـــومو اظهارات اخستل کیږی او په رویداد کښی هغو پا ڼو ته چه په غونده کښی لوستل شوی وی. او ټولو هغو اجراآتو ته چه په غونډه کښی شوی دی هم اشاره کیږی.

دغه شان په دی رویداد کښی هغه غوښتنی چه په دعوی باندی دغور کولو په وخت کښی وړاندی شوی او هغه قرارونه چه په فرعی مسئلو کښی اتخاذ شوی او دهغو حکمونو نص چه صادر شوی او دغونډی نور جریانات قیدیږی.

# څلورم فصل
## شاهدان او نور دلیلونه

دوه سوه اووه ویشتمه ماده: شاهدان د خصومو له جملی څخه دیوه د غوښتنی له مخه دیو خبروال په لاس دغونډی دکیدونه کم نه کم څلیرویشت ساعته مخکښی دلاری دمزل له وهلو دپاره د لازم وخت د زیاتو لو سره محکمی ته په حاضر یدو مکلف کیږی. دمشهود جرم په حالت کښی په حاضریدو باندی د شاهدانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکلفیت هر وخت او حتی د قضائی ضبط د یو نفر مامور یا د امنیی د یو فرد دخولی په خبر جواز لری. شاهد کولی شی چی د خصم دغوښتنی په اثر بی د پخوانی اعلان نه غوندی ته حاضر شی. محکمه کولی شی چه په دعوی باندی دغور په وخت د ضرورت له مخی هر څوك ئی چه خوښ وی راو غواړی او دهغه اظهارات و اوری، همدغه شان محکمه کولی شی چه د دغه شخص د جلب او احضار امر صادر کړي محکمه دا هم کولی شی چه دی بلی غونډی ته په حاضریدو مکلف کړي. محکمه کولی شی چه د دعوی د حقیقت د څرګنـد تیا دپاره د هر چا شاهدی چه پخپله خوښه د شاهدی ورکولو د پاره تیاروی واوری.

دوه سوه اتویشتمه ماده: د شاهدانو په نامه په لوړ آواز غږ کیږی او (دبلې) ویلو نه وروسته خپل مخصوص اطاق ته ننوځی او دمحکمی په وړاندی دشاهدۍ ویلو دپاره وار په وار د دغه اطاق نه رواځی. هر شاهد چه د شاهدی ویلونه وزګاریږی دغونډی په غولی کښې په دعوی باندی دغور ترپای ته رسیدو پوری انتظار کوی یا داچه محکمه ورته دغونډی دغولی نه د وتلو اجازه ورکړي. که ضرورت پیښ شی نوو د یو شاهد دشاهدۍ داوریدلو په وخت کښی دبل شاهد ډډی ته کول یا ځینی شاهدان دځینو نورو سره مخ کول جواز لری.

دوه سوه نه ویشتمه ماده: که چیری یو شاهد په حاضریدو باندی د مکلفیت نه پس محکمی ته له حاضریدونه ډډه وکړي دڅارنوالی د اظهاراتو د اوریدونه پس په یوه داسی نقدی جزا چه مبلغ ئی په قباحتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې له سلو افغانيو او په جنحو کښې له زرو افغانيو زيات نه
وی محکوميدی شی. که چيری محکمه د ده د شاهدۍ اوريدنه
لاژمه وګڼی کولی شی چه دی په دوهم وار محکمی ته په
حاضريدو مکلف کړی او په دعوی باندی غور تر بلې غونډۍ
وځنډوی. دغه شان محکمه کولی شی چه د شاهد د ګرفتارۍ او
حاضرولو امر صادر کړي.

دوه سوه ديرشمه ماده: که چيری شاهد په خپله خوښه يا په دوهم وار په
حاضريدو باندی د مکلف کيدونه پس حاضر شی او د منلو لايق
عذر وړاندی کړی محکمه کولی شی چه د څارنوالی د اظهاراتو
د اوريدو نه پس دی د نقدی جزا دور کولونه معاف کړی.
که چيری شاهد په دوهم وار په حاضريدو باندی د مکلف
کيدوسره هم حاضرنه شی دهغه مبلغ په ورکولو باندی چه مقدار
ئی په پورتنی ماده کښی د ذکر شوی جز د زيات نه زيات حدله
دوه چنده څخه زيات نه وی جواز لری. او محکمه کولی شی چه
دده د ګرفتاری او حاضرۍ امر همدغی غونډۍ يا بلی هغی
غونډۍ ته صادر کړی چه په دعوی باندی غور د هغی ترکيدو
پوری ځنډوی.

دوه سوه يو ديرشمه ماده: که چيري شاهد د دعوی په باب د حکم تر صادريدو
پورې محکمی ته حاضر نه شی دی کولی شی چه د نقدی جزا ور
کولو په حکم باندی په معمولو لارو چارو او په هغو حالاتو کښی
چه قانونا جواز لری، اعتراض وکړی.

دوه سوه دوه ديرشمه ماده: که چيري شاهد دخپلی حاضری د امکان ته لرلو په
باب دمنلو وړ عذر وړاندی کړی محکمه کولی شی چه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع باندی دڅارنوالی او نورو خصومو د خبرولونه پس د ده
شاهدی دده په هستوګن ځای کښی واوری او په دی حالت کښی
هم خصوم کولی شی چه پخپله یا دهغوی مدافع وکیلان یا دواړه
حاضر شی او د شاهد نه لاژمی پوښتنی وکړی.

دوه سوه دری دیرشمه ماده: که چیري محکمه د شاهد د شاهدی دپاره انتقال وکړی او د شاهد د عذر عدم صحت څرګند شی محکمه د څارنوالی د اظهاراتو له اوریدونه پس کولی شی چه دی دیوی داسی مودی په حبس چه میعاد ئې له دری میاشتو زیات نه وی او به یوه داسی نقدی جزا چه مبلغ بې له شپږو زرو افغانیو زیات نه وی محکوم کړی.

دوه سوه څلور دیرشمه ماده: هغه شاهدان چه دخپل عمر څوارلسم کال ئې پوره کړی وي مکلف دی چه د شاهدی ویلونه مخکښی په خدای سوګند وکړی چه شـــاهـــدی به په حقه وائی او د حـــق نه پرته په څه نه وائې. که چیري شاهد د (اشهد) په لفظ شاهدی ویله او پوهیده چه په دی تعبیر کښی پخپله سوګند پروت دی نوپه پورتنی عبارت د سوګند کولو ضرورت نشته. د هغو شاهدانو شاهدی اوریدل چه لادعمر څوارلسم کال ئې نه وی پوره کړی یې له سوګنده د معلوماتو حاصلولو دپاره جواز لری.

دوه سوه پنځه دیرشمه ماده: که چیري شاهد د سوګند کولو نه ډډه وکړی او یا دپوښتنو د جواب ویلونه داسی ځان وژغوری چه په قانون کښی جواز نه لری د قباحتونو په باب د حبس په یو داسی موده چه میعاد ئې له یوی هفتی او یا په داسی نقدی جزا چه مبلغ ئی له سلو افغانیو زیات نه وی او د جنحو په باب د حبس به یوه داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موده چه میعاد ئې له دری میاشتو او یا په داسی نقدی جزا چه
مبلغ ئې له شپږو زرو افغانیو زیات نه وی محکومیږی.
که چیري شاهد په دعوی باندی دغور له ختمیدو نه مخکښی د
ځان ژغورنی نه واوړی د ټولی یا ځینی محکوم بها جزا نه معاف
کیږی.

دوه سوه شپږ دیر شمه ماده: د شاهدانو رد د قاضیانو د رد د دلیلونو د مبحث
په اساس جواز نه لری.

دوه سوه اووه دیرشمه ماده: میړه اوښځه که څه هم د دوی د ازدواج رابطه
شلیدلی وی په ټولو حالاتو کښی کولی شی چه دیو بل خلاف د
شاهدی ویلو نه ځان وژغوری.
د تورن اصول او فروع او اقارب او تر دوهمی درجی پورې
خپلوان کولی شی چه د تورن خلاف له شاهدۍ ویلونه ځان
وژغوری خو په دی شرط چه په تورن پوری تړل شوی جرم د
شاهد، یا یو قریب یا د ده دنژدی خپلوان په خلاف نه وی او یا د
دوی له جملې څخه یو –د دغه – جرم د جـزائې اطــلاع مخبر
نه وی او یا دا چه په قضیه کښی له سره نور هیڅ مثبت دلیلونه
موجود نه وی.

دوه سوه اته دیرشمه ماده: په جزائې محکمو کښی د شاهدی نه د شاهد دځان
ژغورنی او د شاهدی ویلونه دهغه د معافولو په باب د حقوقی
اجراآتو قاعدی چلیږی.

دوه سوه نه دیرشمه ماده: که چیري د حق العبد مدعی د خپلی دعوی دکرښی
نه بهر د شاهد په حیث یو مطلب د محکمی غوږ ته رساوه د ده
خبری اوریدلی کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه څلويښتمه ماده: محکمه کولی شی چه دهغی شاهدۍ د لوستلو امرو
کړی چه په لومړنی تحقیق، یا دتور د دلیلونو د راټولونی په
وخت یا د اهل خبره په وړاندی ویلی شوی وی خوپه دی شرط چه
پخپله د شاهد د خولې نه د شاهدۍ اوریدنه دکوم سبب له مخه
مشکله وی او یاتورن او دهغه مدافع وکیل دده د شاهدۍ په
لوستلو سلاشی.

دوه سوه یو څلويښتمه ماده: که چیرې شاهد د خپلی شاهدی د پېښو له جملې
څخه د یوی دریادولو په باب خپل عجز وښیئی نو د تور د دلیلو
نو د ټولونی په وخت کښی د ده د ورکړی شاهدی یا وینا هغه
خاصه برخه لوستل جواز لری.
که چیرې د پخوانی شاهدی یا وینا سره د محکمی دغونډې په
وړاندی د شاهد د شاهدی تناقض څرګند شی د دی مادې د
پورتنی فقرې درج شوی اجراآت کیدی شی.

دوه سوه دوه څلويښتمه ماده: که محکمه مناسب وګڼی کولی شی چه په
دعوی باندی دغور کولو په دوران کښی د هر داسی دلیل د
وړاندی کولو امرو کړی چه د حقیقت د څره ګنده تیا دپاره ئې
لازم و بولی.

دوه سوه دری څلويښتمه ماده: محکمه پخپله خوښه او یا د خصومو په
غوښتنه کو لی شی چه په یوه دعوی کښی یو څو تنه اهل خبره
وټاکی.

دوه سوه څلور څلويښتمه ماده: محکمه پخپله خوښه او یا د خصومو به
غوښتنه کولی ښی چه اهل خبره محکمی ته دهغو نظریاتو په
توضیح وړاندې کولو موظف کاندی چه مخکښی ئې د لومړنی
تحقیق په وخت کښی یا محکمی ته څرګند کړی دی.
تحقیق د محکمی په وړاندی مشکل شی محکمه کولی شی چه
خپل یو غړی د هغه په تحقیق موظف کاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل
## د حق العبد ادعاء

دوه سوه شپږ څلویښتمه ماده: چاته چه دیو جرم نه ضرر واوړی کولی شی چه دهغی محکمی په وړاندی چه په قضیه باندی غور کوی په هره مرحله کښی چه وغواړی اوله هغه مخکښی چه ددی قانون د دوه سوه پنځویشتمی مادی داحکامو مطابق په دعوی باندی غور ختم شی د حق العبد دعوی وړاندې کړی، خوکه چیری جزائی قضیه له ابتدائی محکمی نه تیره شی او دی خپله حق العبدی دعوی سوره نه کړي په استینافی محکمه کښی خپله حق العبدی دعوی نه شی سورولی.

د حق العبد ادعاء تورن ته د خبروال په ذریعه د ابلاغ یا په هغه غونډه کښی چه دعوی پکښی دغور لاندی وی او تورن پکښی حاضر وی دغوښتنی په اساس کیږی. که چیری تورن حاضرته وی د دعوی جریان ځنډیږی او مدعی په دی مکلفیږی چه خپلې غوښتنی تورن نه ابلاغ کړی. که چیری د تحقیق په دوران کښی پخـــوا مدعـــی پـــه دی صــفـت پــیژندل شوی وی نو محکمی ته د جزائی دعوی د احالی په امر کښی حق العبدی برخه هم داخله ګڼل کیږی. که چیری په قضیه کښی د حق العبد د مدعی د اخلیدل د جزائی دعوی د جریان د ځنډ سبب شی محکمه کولی شی چه په دعوی باندی غورئې له حق العبدی برخې نه جاری وساتی او د حق العبد مدعی ته اجازه ورکړی چه خپله دعوی د جزائی حکم له صادریدو نه پس په حقوقی محکمه کښی سوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه اووه څلويښتمه ماده: که چيري هغه څوك چه د جرم نه ورته ضرر
اوښتی دی د دعوی سورو لو د اهليت فاقد وی او قانونی ممثل
ئی هم نه وی هغه محکمه چه جزائی دعوی دهغی د غور لاندی
ده د څارنوالی دغوښتنی له مخه کولی شی چه د ده دپاره قيم
ونيسی چه دده له خوا دحق العبدی د عوی سوره کړي.
د غسی څوك هيڅکله هم دمحاکمی دلګښتونو په ورکولو نه
مکلفيږی.

دوه سوه اته څلويښتمه ماده: د حق العبد دعوی په تورن باندی که بالغ وی او د
ده په قانونی ممثل باندی که د قانونی صلاحيت فاقد وی
سورول کيږی.
که چيری تورن قانونی ممثل ونه لری محکمه مکلفه ده چه د
پورتنی مادی په احکامو برابر د ده د پاره قيم ونيسی.
دغه شان د حق العبد دعوی د حق العبد مسئولينو خلاف هم چه
د تورن دافعالونه را پور ته شوی مادی ضررونه قانونا هغوی ته
متوجه وی سورول کيدی شی.
څارنوالی کولی شی چه د حق العبد د مدعی د نشتوالی په
صورت کښی د حق العبد مسئولين په دعوی کښی داخل
کاندی چه د محاکمی په لګښتونو باندی د دوی د
محکومولو دپاره لارا واره شی. ددی مادی د حکم تطبيق په
هيڅ صورت د جزائی محکمو په وړاندی د ضمان د دعوی
سورولو او دغه شان په دعوی کښی دهغونه غير چه د حق العبد
د عوی پری سوره شوی وی او د حق العبد د مسئولينونه غير
دنور وخلکو د داخلو لو اجازه نه ور کوی.

دوه سوه نه څلويښتمه ماده: د حق العبد مسئول کولی شی چه پخپله خوښه په
جزائی دعوی کښی هری مرحلی ته چه رسيدلی وی ددی قانون د
دوه سوه پنځويښتمی مادی د حکم مطابق په دعوی باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغور دسرته رسید لونه مخکښی داخل شی خو خارنوالی او
دحق العبد مدعی کولی شی چه په دعوی کښی د ده دداخلیدو
له قبولی سره مخالفت وکړی.

دوه سوه پنځوسمه ماده: د حق العبد مدعی دمحکمی د محصول په ورکړه
مکلف دی او دغه شان په دی هم مکلف دی چه کومی پیښبی
دڅارنوالی، یا د تحقیق د قاضی یا د محکمی له پلوه د اهل
خبره او شاهدانو د حق الزحمی او لګښت د پاره تاکل کیږی په
پیشکی ډول امانت کیږدی.

دوه سوه یو پنځوسمه ماده: که چیری د حق العبد ادعا د قانون له مخی
دمنلووړنه وی تورن، د حق العبد مسئول، او څارنوالی هریو دا
کولی شی چه په غونډه کښی د حق العبد د مدعی له قبلیدو
سره مخالفت وکړی.

دوه سوه دوه پنځو سمه ماده: هغه قرار چه د حق العبد د نه قبلیدو په باب د
څارنوالی یا د تحقیق د قاضی له پلوه صادریږی د جزائی
محکمی په وړاندی د حق العبد د ادعا او په حقوقی محکمه
کښی د ده له خوا د حق العبد د دعوی د سوریدو مخه نه نیسی.
د حق العبد د ادعا د قبلیدو په باب د محکمی قرار دهغو
اجراآتو د بطلان سبب کیږی چه په جزائی دعوی کښی د ده له
ګدون نه مخکښی شوی دی. د حق العبد د مدعی د قبلیدو
په باب د خـــــارنوالی یا د تحقیق د قاضی قرار هغه محکمه
ته مقیدوی چه په جزائی دعوی غور کوی.

دوه سوه دری پنځو سمه ماده: د حق العبد دعوی دهغه میعاد په تیریدو
ساقطیږی چه دمعاملاتو په احکامو کښی د حقوقی دعوی
دسقوط په باب د (وخت دتیریدو) د اساس په حیث قبول شوی
دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري جزائی دعوې له سوریدو نه پس د مختصو سببونو له جملې څخه دیوه له کبله ساقطه شی د حق العبد هغه دعوی چه له دغی دعوی سره سوره شوی ده ته ساقطیږی.

دوه سوه څلور پنځوسمه ماده: د حق العبد مدعی کولی شی چه دعوی په هره مرحله کښی پریږدی، د حق العبد مدعی مکلف دی چه د دعوی له پریښودو نه مخکښی لګښتونه ورکړی دعوض غوښتنی په باب د تورن حق که چیري قانونی اساس ولری محفوظ پاتی کیږی.

په دی صورت د دعوی پریښو د نه په جزائی دعوی باندی هیڅ اثر نکوي.

دوه سوه پنځه پنځوسمه ماده: که چیري پخپله مدعی ته دحاضریدو مکلفیت ابلاغ شی او سره د دی هم محکمی ته حاضر نه شی یا خپل وکیل ورته راونه لیږی او خپلی غوښتنی غونډی ته وړاندی نه کړی په دی صفت د ده نه حاضریدل د دعوی پریښود نه ګڼل کیږی.

دوه سوه شپږ پنځوسمه ماده: که چیري د حق العبد مدعی په جزائې محکمو کښی دعوی پریږدی کولی شی چه خپله دعوی په حقوقی محکمو کښی سوره کړي خو په دی شرط چه د کوم حق د حاصلو لو دپاره ئې دعوی سوره کړی ده چه دهغه په پریښو دوئې تصریح نه وی کړی.

دوه سوه اووه پنځوسمه ماده: د حق العبد د مدعی له خوا د دعوی پریښو دنه ددعوی نه د حق العبد د مسئول د ډډی ته کیدلو سبب کیږی خو په دی شرط چه دحق العبد د مسئول په دعوی کښی د حق العبد د مدعی په غوښتنه داخل شوی وی.

دوه سوه اته پنځوسمه ماده: که چیري د جرم له کبله زیان من شوی شخص په حقوقی محکمه کښی دعوض غوښتنی دعوی وکړی او بیا د جزائې محکمی کښی د عوض غوښتنی دعوی و کړی او بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزائې محکمې په وړاندې دعوې سوره شي نو که دې په حقوقي محکمه کښې دعوې برېږدي کولی شي چه دغه دعوې په جزائي محکمه کښې د جزائي دعوې سره غبره ګه سوره کاندې.

دوه سوه نه پنځوسمه ماده: که چېري د حق العبد دعوې په حقوقي محکمو کښې سوره کړې شي نو په کاردې چه پرېکون ئې د هغې جزائي دعوې د فيصلې د نهائې نتيجې تر حاصليدو پورې وځنډول شي چه دهغې نه مخګښې يا دهغې د جريان په وخت په محکمه کښې سوره شوې ده. خو که چېري د جزائې دعوې پرېکون د تورن دليونتوب له کبله وځنډول شي نو دحق العبد دعوې فيصله کيږي.

دوه سوه شپيتمه ماده: دهغو حق العبدی د عوو په پرېکون کښې چه دجزائې محکمو په وړاندې دائرېږې د دې قانون په احکامو عمل کيږي.

دوه سوه يوشپيتمه ماده: تورن کولی شي چه د حق العبد د مدعی نه دهغه تاوان ګالنه چه د حق العبد د دعوې له کبله ورته او ښتې وې د قانون د احکامو مطابق و غواړي.

## شپږم فصل

### د تزوير فرعي دعوې

دوه سوه دوه شپيتمه ماده: څارنوالي او نور خصوم کولی شي چه د دعوې په هره مرحله کښې د قضيې د پاڼو له جملې څخه په هره پاڼه چه په موضوع کښې وړاندې شوې وې دتزوير دعوې وکړي.

دوه سوه درې شپيتمه ماده: دتزوير دعوې دهغې دمدعی د ادعا له مخه کيږي چه دتحقيق په محضر يا د غونډې په محضر کښې قيديږي دغه شان د تزوير دعوې د مدعی له خوا د يو امضاء شوي غوښتن ليك له مخه چه د دعوې په دوسيه کښې ايښودل کيږي هم کيدې شي. د تزوير په دعوې کښې د هغې پاڼې تاکنه چه پرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تزویر دعوی شوی وی د هغی د تزویر له دلیلونو له راوړلو سره ضروری ده.

دوه سوه خلور شپیتمه ماده: که چیري هغه مقام چه قضیه ئې د غور لاندی ده د تزویر د ادعاء په باب د تحقیق کیدنه لازمه وګڼی نو پاڼی څارنوالی ته سپاری. که چیري دغور د لاندی دعوی پریکون په هغه پا ڼه پوری موقوف وی چه دتزویر دعوی پری شوی ده دغه مقام کولی شی چه څوپوری د تزویر د دعوی پریسکون د مربوط مرجع له پلوه کیږی د دعوی جریان وځند وی.

دوه سوه پنځه شپیتمه ماده: که چیري د دعوی جریان وځندولی شی او حکم یا قرار په عدم تزویر باندی صادر شی نو ضروری ده چه په همدغه حکم یا قرار کښی د تزویر مدعی تر دوه نیمو زرو افغانیو پورې په نقدی جزا محکوم شی.

دوه سوه شپږ شپیتمه ماده: که چیري حکم د ټولو یا څینو رسمی پاڼو په تزویر صادر شی نو هغه محکمه چه دغه حکم ئی کړی وی د دغو پاڼو دلغو کولو یا سمولو حکم څنګه چه لازم وی هم صادر وی د اخبره په یو یاد داشت کښی ثبتیږی او دغه پاڼه په نښته کیږی.

## اووم فصل

## په غونډه کښی د انتظام ساتنه

دوه سوه اووه شپیتمه ماده دغوندی اداره او انتظام د غونډی د رئیس په واك کښی دی. د غونډی رئیس کولی شی چه څوك دغونډی انتظام خرابوی هغه دغونډی دغولی نه وباسی، که چیري دغه شخص دده امر ونه منی محکمه کولی شی چه سمدستی تر اتو څلویښتو ساعتو نو پورې د ده د بندی کولو یا تردری سوه افغانیو پوری دد ه جریمه کولو حکم صادر کاندی. د محکمی د احکم سمدستی په ځای کیږی او استیناف پری نه شی کیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري دغونډی وران کاری د محکمی د کاروالو څخه وی
محکمه کولی شی چه دغونډی په وخت کښی دی دقضائی قوی
د کاروالو د تادیب د قاعدو سره سم تادیب کاندی. محکمه
دغوندی دختمیدو نه مخکښی خپل صادر کړی حکم لغو کولی
شی.

دوه سوه اته شپیتمه ماده: که جری څوك په غونده کشی د جنحی با قباحت
ارتکاب وکړی محکمه کولی شی چه په همدغه غونډه کښی د
تورن خلاف دعوی سوره کاندی او دڅارنوالی او تورن د
اظهاراتو اوریدلونه پس خپله فیصله صادره کړی په داسی حالت
کښی د دعوی سورول په هغه غوښتنه پورې چه ددی قانون په
دریمه او څلور مه ماده کښی ذکر شوی ده مربوط نه ده. که
چیري په غونډه کښی جنایت پیښ شی د محکمی رئیس
څارنوالي ته د تورن د سپارلو امر کوی. د احکم ددی قانون
دائمی مادی د حکم په تطبیق کښی خلل نه اچوی.
د محکمی رئیس په ټولو حالاتو کښی دپیښی محضر ترتیبوی او
که ضرورت پیښ شی د تورن د گرفتاری امر صادروی.

دوه سوه نه شپیتمه ماده: که چیري د وظیفی په وخت یا د وظیفی په علت د
مدافع وکیل نه یوداسی حرکت وشی چه دغونډی په انتظام
کښی خلل اچول و گڼل شی او یا د جزا وړوی دغونډی رئیس
دپېښی محضر ترتیبوی. که چیري د مدافع عمل د تادیب وړوی
دی د تادیب دپاره د محکمی رئیس ته حواله کوی او که د جزا
وړوی نوڅارنوالی ته یی د تحقیق د اجراء د پاره سپاری. په هر
حالت کښی په دعوی باندی دغور کولو دغونډی په هیئت کښی
دهغی غونډی د رئیس او غړو گډون جواز نه لری په کومه غونده
کښی چه دغه حادثه پیښه شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه اویا یمه ماده: په هغو جرمونو لاندی غور چه په غونډه کښی پیښیږی او محکمه دهغو په باب دغوندی د کیدو په وخت کښی دعوی نه سوروی دعادی احکامو مطابق کیږی.

## اتم فصل
## حکم

دوه سوه یو اویایمه ماده: هغه څه چه د لومړی تحقیق په پاڼو او د دلیلونو د ټولونی په محضرونو کښی درج دی محکمه په هغو مقیده نه ده بی له هغه چه د قانون نص بالعکس تصریح کړی وی.

دوه سوه دوه اویایمه ماده: په قباحتونو کښی لیکلی محضرونه دهغو پیښو په باب چه د مربوطو مامورینو له پلوه پکښی ثبتیږی ترڅو پورې چه ددغو پیښو نفی ثابته شوی نه وی حجت ګڼل کیږی.

دوه سوه دری او یایمه ماده: قاضی په دعوی کښی دهغی عقیدی سره سم چه ددلیلونو له مخه ورته پیدا کیږی په پوره ازادی حکم صادروی خو سره د دی هم دی په داسی دلیل باندی خپل حکم بناء کولی نه شی چه د ده په وړاندی راوړل شوی نه وی.

دوه سوه څلوراو یا یمه ماده: دحکم صادرونه په ښکاره غونډه کښی کیږی که څه هم په دعوی باندی غور په پټه غونده کښی شوی وی. د حکم علنیت دغونډی په محضر کښی ثبتیږی او د محکمی د رئیس او محرر له خوا امضاء کیږی.

محکمه داسی تدبیر نیولی شی چه هغی غونډی ته د تورن حاضری تضمین کړي چه د حکم د نطق دپاره ټاکل شوی ده او تورن ونه کړی شی چه په حکم باندی د نطق نه مخکښی د غونډی له غولی ووځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو تدبیرونو کښې د تورن د توقیف او ګرفتاری امر هم شامل دی خوپه دی شرط چه پیښه له یو داسی قسمه وی چه د تورن د توقیف جواز ورکوی.

دوه سوه پنځه او یا یمه ماده: که چیري پیښه ثابته نه وی یا په قانون کښې د جزا وړ نه وی محکمه خپل حکم د تورن په برائت صادروی او دی په دی شرط چه په یواځې په همدی پیښه کښې توقیف وی خلاصوی.

که چیري پیښه ثابته او فعل د جزا وړ وی محکمه د مقرری جزا په ټاکنه خپل حکم صادروی.

دوه سوه شپږ او یا یمه ماده: که چیري ابتدائیه محکمی ته دا ثرګنده شی چه پیښه د جنایت له نوعی ده نوپه موضوع ګښې د پریکون د صلاحیت په نه لرلو باندی خپل حکم صادروی او قضیه د لاژمو اجرءاتو دپاره خارنوالی ته ارجاع کوی.

دوه سوه اووه او یایمه ماده: تورن ته په داسی پیښه چه د تورن د احالی په امر یا د احضار په پاڼه کښې داخله نه وی او دغه شان د تورن نه غیر بل داسی چاته چه دهغه خلاف دعوی نه وی سوره شوی جزا ورکول جواز نه لری.

دوه سوه اته او یایمه ماده: محکمه کولی شی چه په خپله هغه فیصله کښې چه صادر وی ئی تــــورن ته دنســــبت شوی تور قـــانونی وصف وګر ځوی، دغه شان محکمه کولی شی چه د تورن تورد جزا سختولو د موجباتو زیاتو لو له لاری چه دغونډی په تحقیق یا غور کښې تثبیت شوی وی که څه هم د تورن د احالی په امر یا د احضار په پاڼه کښې درج شوی نه وی تعدیل کاندی.

محکمه کولی شی چه دهری عادی خطاء د سمون او د هری داسی سهوی د راګرځولو اقدام وکړی چه د احالی په امر یا احضار پاڼه کښې د درج شوی اتهام په عبارت کښې موجود وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمه مکلفه ده چه په وارد کړی تغییر باندی تورن خبر کړی او که تورن وغواړی نوورته مهلت ورکړی چه د جرم د وصف گرځولو یا د اتهام د تعدیل په مقابل کښی خپله دفاع تیاره کړي.

دوه سوه نه او یایمه ماده: د دی قانون د دوه سوه شپږ څلویښتمی مادی دوروستی فقری د حکم له رعایت سره سره د جزائی دعوی په باب چه هر حکم صادریږی باید چه د حق العبد د مدعی د غوښتنو او د تورن له خوا د غوښتل شوی عوض په باب د محکمی په تصمیم باندی مشتمل وی.

که چیري د تورن له پلوه د عوض د غوښتنی په باب تصمیم نیولو د جزائی دعوی په باب د حکم په صادرولو کښی ځنډ پیښاوه محکمه کولی شی چه په دغه غوښتنه باندی د غور کولو په دوران کښی د حزائی د عوی په باب خپل حکم صادر کړی. په دی حالت کښی د عوض دعوی په حقوقی محکمو کښی بې د محصول له ورکولو سورول کیدلی شی.

دوه سوه اتیایمه ماده: د حکم سره یو ځای باید موجبه اسباب ذکر شی. که چیري حکم په الزام باندی بنـا شوی وی نو دا ضروری ده چه په دغه حکم کښې هغه پیښه چه د جزا مستوجبه ده او دهغی کوایف او هغه قانونی نص بیان شی چه د حکم د صادریدلو باعث شوی دی.

دوه سوه یو اتیایمه ماده: محکمه د هغو غوښتنو په پریکون چه د خصومو له خوا وړاندی شوی دی د حکم د موجبه اسبابو د بیان سره مکلفه ده.

دوه سوه دوه اتیایمه ماده: حکم او اسباب ئی د صادریدو له نیټی نه لس ورځی پس لیکل کیږی، د محکمی رئیس پری مهر لگوی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمی رئیس او محررئی امضا کوی. که چیري رئیس د یو عذر له مخې ونه کړی شي چه هغه مهر او امضاء کړی د هغو قاضیانو نه یو چه له ده سره ئی د حکم په صادرولو کښی ګډون کړی دی هغه مهر او امضاء کوی. او که چیري د ابتدائیه محکمی له پلوه صادر شوی وی او ددغی محکمی قاضی د حکم اسباب پخپل خط لیکلی وی خو دیو عذر له مخه ئی دهغه امضاء کول له واکه نه وی پوره شوی د ولایت د محکمی رئیس کولی شی چه پخپله د اصل حکم نسخه مهر او امضاء کړی یا دمحکمی یوغړی دهغه په مهر او امضاء موظف کړي. که چیري ابتدائیه قاضی د حکم اسباب پخپل خط نه وی لیکلی حکم له دی کبله چه د اسبابو ذکر پکښی نشته باطلیږی.

دلسو ورځود ټاکلی میعاد نه د حکم د امضاء کولو ځند د قوی موجباتو نه پرته جواز نه لری. خو په هر حال هغه حکم چه له صادر یدونه پس په دیر شوور ځو کښی دننه مهر او امضاء نه شی باطل ګڼل کیږی بی لی دی چه حکم په برارت صادر شوی وی. د محکمی د تحریراتو دفتر مکلف دی چه د دعوی ذیدخل شخص ته دهغه د غوښتنی له مخه تصدیق ورکړی چه دغه حکم په ټاکلی میعاد کښی مهر او امضاء شوی نه دی.

دوه سوه دری اتیایمه ماده: که چیري محکمه په صغیر تورن باندی حکم صادر کړی او بیا ولیدل شی چه د جزا تطبیق له هری نوعی چه وی د محکوم علیه د حال سره مناسب نه دی محکمه هر وخت کولای شی چه د لوی څارنوال په غوښتنه په هغه باندی له نوی سره غور وکړی.

له نوی سره دغور کولو په وخت کښی په صغارو پوری د مختصی جزا نه پرته حکم کول جواز نه لری.

دوه سوه څلور اتیایمه ماده: که چیري محکمه په تورن باندی په دی خیال چه عمرئی له پنځلسو کلونوا و ښتی دی خپل حکم حکم صادر کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا د رسمی پاڼوله مخه د هغه خلاف څرګندشی څارنوالی کوی شی چه موضوع محکمی ته له نوی سره د غور کولو دپاره وړاندی کړی، په دی حالت کښی د محکمی د حکم چلونه ځنډیږی خود دی قانون په یوسل اتمه ماده کښی ذکر شوی احتیاطی تدبیر کول جواز لری، که چیری د تورن خلاف د محکمی حکم په صغارو پوری د مختصو جزاګانو له جعلی څخه وی او بیا در سمی پاڼو له مخه ځرګنده شی چه د محکوم علیه عمر له پنځسو کلونو او ښتی دی لوي خارنوالی کولی شی چه د حاکمي محکمی نه وغواړی چه په خپل صادر کړی حکم باندی له نوی سره غور وکړی او د قانون له احکامو سره سم حکم وکړی.

## نهم فصل

## د دعوی لګښت

دوه سوه پنځه اتیایمه ماده: هغه تورن چه د جرم د ارتکاب له کبله محکوم علیه واقع شی محکمه کولی شی چه هغه د محاکمی د ټول یا ځینی لګښت په ورکولو مکلف کړی.

دوه سوه شپږ اتیایمه ماده: که چیري د استیناف په مرحله کښی د ابتدائیه محکمی حکم تائید شی د مستانف تورن مکلفیت په ټول یا خینی لګښت جواز لری.

دوه سوه اووه اتیایمه ماده: ستره محکمه کولی شی چه که اعتراض د قبلیدو یا اوریدلو وړ واقع نه شی معترض تورن دټول یاځینی لګښت په ور کولو مکلف کاندی.

دوه سوه اته اتیایمه ماده: که چیري د تورنو یوه ډله د یو جرم له کبله د جرم د فاعلینو یا مشترکینو په حیث په یوه حکم کښی محکوم علیهم واقع شی د محکوم بها لګښتوو په ور کولو یوشان مکلفیږی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی شرط چه لګښت په اصل حکم کښی بل شان نه وی ویشل شوی او یا محکومین دهغه په تضامنی ورکړه نه وی مکلف شوی.

دوه سوه نه اتیایمه ماده: که چیری تورن دټول لکښت په ورکولو نه وی محکوم شوی په کاردی چه هغه مقدار چه دی پری محکوم شوی دی په حکم کښی څرګند کړی شی. که چیري د محکمی په حکم کښی د محکوم علیه له طرفه دلګښتو نو د وکړی هیڅ ذکر نه وی شوی دی دلګښت په ورکړه مکلف ګڼل کیږی.

دوه سوه نوی یمه ماده: د حق العبد مدعی هم د قانون مطابق مکلف کیدی شی چه د محکمی لګښت دولت ته ورکړی، د دی لګښت د اندازه کولو او د هغه د تحصیل دلارو چارو په باب د قضائی محصولاتو د قانون احکام او په هغه پوری مربوط مقررات تطبیقیږی.

دوه سوه یو نوی یمه ماده: که چیري د جرم د ارتکاب له مخه د تورن په الزام باندی حکم صادر شی نو په کار دی چه تورن دهغه لګښت په ورکړه هم مکلف کړی شی چه د حق العبد مدعی ورکړی دی. او محکمه صلاحیت لری چه د دغو لګښتو نو هغه برخه چه ورته د حق العبد د مدعی له خوا بی موجبه لګیدلې ښکاره شی کمه کړي.

خوکه چیري محکمی د حق العبد مدعی د ادعا په یوه برخه کښی هم محکوم له نه کړ نو د محاکمی لګښت د مدعی له خوا ورکول کیږی او که چیري د حق العبد مدعی د دعوی په ځینو بر خو کښی محکوم له شی محکمه کولی شی چه دی د محاکمی په ځینو لګښتونو محکوم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه دوه نوی یمه ماده: هغه مقررات چه د حق العبد د دعوی دلګښتونو په باب په تورن تطبیقیږی هماغه مقررات د حق العبد په مسئول باندی هم تطبیقیږی.

دوه سوه دری نوی یمه ماده: که چیري تورن د جزائی دعوی په ټول یا ځینی لګښت محکوم شی د حق العبد مسئول هم له ده سره د محکوم بها لګښت په ورکړه مکلفیږی. محکوم بها لګښت په دی صورت ګښی له دوی ځخه په تضامنی ډول تحصیلیږي.

## لسم فصل
## د قاضی اجتناب او رد یی

دوه سوه ځلور نوی یمه ماده: که چیری جرم پخپله د قاضی په مقابل کښی شوی وی، یا قاضی د دعوی په باب د قضائی ضبط د مامور، دڅارنوالی یا دخصومو له جعلي ځخه دیوه د دفاع وظیفه اجرا کړی وی، یا ئی په دغه باب شاهدی ویلی یائی د اهل خبره وظیفه په ځای کړی وی د دعوی په غور کښی ګډون نه شی کولی.

که چیري قاضی د دعوی تحقیق کړی وی د حکم په صادرولو کښی ګډون نه شی کولی. هغه قاضی چه د اعتراض لاندی راغلی حکم ئی صادر کړی وی په استینافی غور کښی ګډون نه شی کولی.

دوه سوه پنځه نوی یمه ماده: خصوم د پورتنی مادی په ذکر شو یو حالاتو کښی او د ردپه نورو حالاتو کښی چه د حقوقی اجراءاتو په باب احکامو کښی ذکر کیږی د قاضیانو د رد حق لری. د څارنوالی د غړو او د قضائی ضبط د مامورینو رد جواز نه لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سوه شپږ نوی یمه ماده: کله چه د ابتدائیه قاضی د رد له اسبابو څخه یو سبب منځ ته را پریوځی دی ددی خبری نه د ولایت د محکمی رئیس خبروی او که چیری رد د ولایت د محکمی کوم غړی ته متوجه و موضوع همدغی محکمه ته وړاندی کیږی. که چیری د قاضی په وړاندی په قانون کښی د رد د ذکر شویو حالاتونه غیر داسي اسباب را بر سیره شی چه قاضی د هغو له مخه په دعوی باندی غور کول د ځان د پاره مناسب نه ګڼی، دی کولی شی چه په دعوی باندی له غور کولو څخه د ځان د ژغورنې موضوع د ولایت د محکمی رئیس یا دغی محکمی ته وړاندې کړی.

دوه سوه اووه نوی یمه ماده: د قاضی د رد غوښتنه هغی محکمه ته وړاندې کیږی چه دعوی ئی دغور لاندی ده او دهغی په باب حقوقی او تجارتی احکام تطبیقیږی. د تحقیق د قاضی یا د ابتدائیه قاضی د رد غوښتنه د ولایت محکمی ته وړاندی کیږی.

په غوښتنه باندی د غور کولو په وخت د قاضی، استنطاق یا ورته سوګند ورکول جواز نه لری.

که چیری د تحقیق قاضی یا د ولایت د محکمی غړی د رد له غوښتنی سره موافقه وکړی او یا بې له غوښتنی پخپله د غور نه ځان ژغورنه مناسب وګڼی او د رد غوښتنه یا دځان ژغورنی تصمیم د ولایت د محکمی د رئیس له پـلوه او که د ولایت د محکمی غړی وی د ولایت د محکمی له پلوه تائید شی نو قاضی د غور نه ځان ډډی ته کوی. ددی حالت نه غیر د رد په غوښتنه قانون سره سم غور کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوو لسم فصل
## د بطلان مواد

دوه سوه اته نوی یمه ماده: په اساسی اجراآتو کښې د قانون د احکامو مراعات نکول د اجراآتو د بطلان موجب دی.

دوه سوه نه نوی یمه ماده: که چیري د محکمې د تشکیل په باب یائی د حکم په صادرونه کښې د ولایت په باب یا دهغه جرم د نوعیت له حیثه چه د محکمې د غور لاندی دی د محکمې د صلاحیت په باب یا د نظام عامه په نورو مربوطو مواردو کښې دقانون د حکمونو د نه رعایت له کبله بطلان پیښ شوی وی د دعوی په هر حالت کښې پری تمسك کیدی شی. په د غسی حالت نو کښې محکمه مکلفه ده چه په دغه باب کښې بی له غوښتنی هم په بطلان باندی حکم صادر کړی.

دری سومه ماده: په پورتنی ماده کښې د درج شو حالاتونه پرته که چیری د جنایاتو او جنحو په باب د دلیلونو د ټولونی یا لومړی تحقیق، یا په غونډه کښې د تحقیق مختص اجراآت د تورن د مدافع وکیل په مخکښې شوی وی او ده پری اعتراض نه وی کړی د اجراآتو د بطلان په اساس د تورن د دفع ویلو حق سوځی. په قباحتونو کښې که چیري اجراآت د تورن په مخکښې وشی او دی پری اعتراض ونه کړي که مدافع وکیل ورسره هم نه وو د بطلان په اساس د دفع ویلو حق ئی سوځی. دغه شان که چیری څارنوالی د اجراآتو د کیدو په وخت کښې اعتراض ونه کړی د بطلان په اساس د دفع ویلو حق ئی سوځی.

دری سوه یوه ماده: که چیري پخپله تورن یا دهغه وکیل په غونډی کښې حاضر شی د احضار پاتی په بطلان تمسك نه شی کولی خودا کوی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د احضار پاتی په بطلان تمسك نه شی کولی خو دا کولی شه
چه د احضار پاڼی د سمونې غوښتنه وکړي او یا په غور باندی
دلاس پوری کولونه لومړی دفاع ته دځان تیارولو د پاره وخت
وغواړی، محکمه دده دا غوښتنی منی .

دری سوه دوهمه ماده: قاضی کولی شی چه د اجراآتو دهری هغه برخې دسمولو اقدام وکړی دکومی بطلان چه ده ته څرګند شی، که څه هم دا کار یواځی ده مناسب ګڼلی وی.

دری سوه دریمه ماده: کله چه د اجراآتو دیوی برخې بطلان تثبیت شی ځومره آثار چه پری مرتب شوی وی هغه هم باطل ګڼل کیږی. باطل اجراآت چه څه وخت ممکن شی باید بیرته وګرځول شی.

دری سوه څلورمه ماده: که چیري په هغه حکم یا امر کښی چه د تحقیق د قاضی یا د ولایت د محکمی د رئیس له پلوه صادر شوی وی مادی خطاء پیښه شوی وی او بطلان ته نه وی رسیدلی هماغه مقام چه دغه حکم یا امرئی صادر کړی دی دخپله ځانه یا له خصومو څخه د یوه دغوښتنی له مخه په حاضری باندی د دوی د مکلفولونه پس د هغی د سمولو اقدام کوی. د سمونی اجراآت د خصومو دویناء داوریدلونه پس کیږی او د صادر شوی حکم یا امر په حاشیه کښی د هغه امر یا دونه کیږی چه ددغو اجراآتو نه وروسته صادریږی.
د تورن د نامه او لقب د سمونی په باب هم دغی اجراآت کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم فصل

## ليونی تورن

دری سوه پنځمه ما ده: که چيري د توقيف شوی تورن د عقلی حالت تثبيت لاژم وګڼل شی د تحقيق قاضی يا ابتدائيه قاضی او دغه شان هغه محكمه چه دعوی ئی دغور لاندی ده كولی شی چه د څارنوالی د غوښتنی له مخه دڅارنوالی د اظهاراتو د اوريدو نه پس امرو كاندی چه تورن دې د دی مقصد د پاره په يو رسمی مختص محل كښی يو يا څو واری معاينه كړی شی. د دی قسم معاينو ټوله موده له پنځه څلويښتو ورځونه زياتيدی نه شی. كه چيري تورن توقيف نه وی په هر بل مناسب ځای كښی معاينه كيدی شی.

دری سوه شپږ مه ماده: كه چيری ثابته شی چه تورن دهغه عقلی ګډوډی له كبله چه د جرم د پيښيدونه پس ورته پيښه شوی ده دخپل ځان د دفاع قدرت نه لری په محكمه كښی د ده خلاف د دعوی سورونه د ده تر په سد كيدو پوری ځنډيږی. كه چيري پيښه داسی جنايت يا جنحه وی چه جزائی حبس وی نو د تحقيق قاضی يا ابتدائيه قاضی او يا د ولايت هغه محكمه چه دعوی ئی دغور لاندی ده كولی شی چه د عقلی ناروغيو د علاج په يوه مرجع كښی تر په سد كيدو پوری د ده نظر بندی امر وكاندی.

دری سوه اوومه ماده: د ضروری او عاجلو اجراآتو له كولونه مخكښی د دعوی ځنډول جواز نه لری.

دری سوه اتمه ماده: ددی قانون د دری سوه پنځمی او دری سوه شپږمی مادی په مندرجو حالاتو كښی هغه موده چه تورن ئی د معاينی يا نظر بندی لاندی تيروی د محكوم بها جزاله جملې څخه حسابيږی.

دری سوه نهمه ماده: كه چيري د دعوی سوررولو په نه ضرورت امر يا د تورن په برائت حكم صادر شی او د حكم د صادريدو باعث د تورن د عقل ګډوډی وی نو كه چيری پيښه داسی جنايت يا جنحه وه چه جزائی حبس وی هغه مقام چه دغه امر يا حكم صادر وی د عقلی ناروغيو د علاج په يوه مرجع كښی دده د نظر بندی او په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کښې چه مربوط مقامات ئی لاژم وګڼی دده د آزادو
پرېښودلو حکم صادر وی.

## دریم باب
## د جنایاتو محکمې
## لومړی فصل

دجنایاتو د محکمه جوړونه او دغونډو دورې ئې

دری سوه لسمه ماده: په هره ولایت محکمه کښې د جنایاتو یوه یا څو محکمې
جوړیږی چه په هره یوه کښې ئی د ولایت د محکمې دری تنه
قاضیان وی.

دری سوه یوولسمه ماده: د ولایت د محکمې لویه غونډه د هرکال په لومړی
میاشت کښې د محکمې د رئیس په غوښتنه د خپلو غړوله
منځه د جنایاتو د محکمو قاضیان ټاکی. که چیري یو قاضی ته
چه د جنایاتو د محکمې په غړیتوب ټاکل شوی دی دکال په
دوران کښې کوم مانع را برسیره شی د ولایت د محکمې رئیس د
ده په ځای بل شخص ټاکی.
په عاجلو حالاتو کښې د ولایت د محکمې رئیس کولی شی چه
دده وظیفه اجرا کړي.

دری سوه دولسمه ماده: قاضی القضات د ضرورت په وخت کښې د ولایت د
محکمې د رئیس د پیشنهاد له مخه کولی شی چه د ابتدائیه
محکمو له قاضیانو څخه یو په خدمتی طور د جنایاتو د
محکمې په غړیتوب وټاکی. دا ټاکنه دیوی دوری یا د هغی نه د
زیاتی مودی د پاره کیدی شی.

دری سوه دیار لسمه ماده: د جنایاتو محکمه د هری ابتدائیې محکمې په
قضائی ونډ کښې غونډیږی او د هغی قضائی ونډ د ابتدائیه
محکمې قضائی ونډ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ضرورت پیښ شی د جنایاتو محکمه د ولایت د محکمی د
رئیس په غوښتنه او د قاضی القضات په منظوری په بل ځای
کښی هم خپله غونډه کولای شی.
دری سوه څوار لسمه ماده: د جنایاتو محکمی په میاشت کښی یو ځل غونډه
کوی بې له د ی چه قاضی القضات ورته د دی خلاف امر وکړی.
په هره میاشت کښی د جنایاتو د محکمی د غونډې موده د
انعقاد د دوری په نامه یادیږی.
دری سوه پنځلسمه ماده: د جنایاتو د محکمی د انعقاد د دوری د افتتاح نیټه
کم نه کم یوه میاشت مخکښی د قاضی القضات نیټه کم نه کم
یوه میاشت مخکښی د قاضی القضات د قرار او د ولایت د
محکمی د رئیس د غوښتنی له مخی ټاکل کیږی او په رسمی
جریده کښی خپریږی.
دری سوه شپاړ سمه ماده: د هری دوری قضا یا چه د غور د پاره د جنایاتو
محکمی ته رسیږی د را رسیدلو په ترتیب په فهرست کښی
نیولی کیږی او په فهرست کښی د داخلو قضایا وو د غور
ترختمیدو یورې خپلی غونډی جاری ساتی.
عاجلی قضیې د هغو د خاصو مقرراتو مطابق د غور لاندی
نیولی کیږی.
دری سوه اوو لسمه ماده: د جنایاتو محکمی ته د دعوی احاله د ولایت د
محکمی د رئیس د امر له مخې کیږی.

## دوهم فصل

## د جنایاتو د محکمو په وړاندی اجراآت

دری سوه اتلسمه ماده: د جنایاتو د محکمی رئیس مکلف دی چه د دوسیې
له را رسیدلو نه پس هغه غونډه وټاکی چه دغه قضیه پکښی
د غور لاندی نیوله کیږی. دغه شان د جنایاتو د محکمی رئیس
مکلف دی چه د انعقاد له دورو څخه د هری دوری د قضیو په
فهرست باندی نظر واچوی، د قضیو پا ېی د محکمی غړوته
ولیږی او امر صادر کړی چه په قضیه باندی دغور کولو ورځ دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورن او نورو خصومو او شاهدانو د حاضریدو مکلف د غوندی
د کیدو نه باید کم نه کم اته ورځی مخکښی وشی.
دری سوه شلمه ماده: د جنایاتو په محکمو کښی د جنحو او قباحتونو د قضیو
په غور پورې ټول مربوط احکام تطبیقیږی بې له دی چه قانون
ئی په خلاف تصریح کړی وی.
دری سوه یو یشتمه ماده: د جنایاتو محکمه کولی شی چه کوم شاهد یې د
معقوله عذره محکمی ته له راتللو ډډه وکړی او دغه شان هغه
شاهد چه د سوګند کولو نه ئې ځان ژغور لی او یائې د محکمی
پوښتنو ته دهغو حالاتو نه بهر چه قانون ورته اجازه ورکړی ده د
جواب ویلو نه انکار کړی وی د یوی داسی مودی په حبس چه
میعاد ئی له شپږو میاشتو زیات نه وی او یا په نقدی جریمه
ورکولو چه مبلغ ئی له لسو زرو افغانیو زیات نه وی محکوم
کړی. په دی حالت کښی هم د دی قانون د دوه سوه نه ویشتمی
مادی د احکامو مطابق د شاهد د ګرفتاری او حاضر ولو په باب
د محکمی حق خوندی دی.
دری سوه دوه ویشتمه ماده: هر خصم داکولی شی چه هغه شاهدان چه نومونه
ئی د جنایاتو د محکمې د رئیس په ترتیب کړی فهرست کښی
نه وی درج شوی پخپل مصرف د محکمی د تحریراتو دفتر ته
د هغو د نك راتګګ دلګښتونو په مخکښی ورکولو جلب
کړی، خوپه دی شرط چه د دوی د اظهاراتو اوریدنه مفیده
وګڼله شی.
د نورو وخصومو له جملی نه هریو دا کوی شی چه دهغوی د
شاهدی له اوریدنې سره که بیځا یه وی مخالفت وکاندی.
دری سوه درویشتمه ماده: که چیري د موجبه اسبابو له مخه په قضیه باندی د
غور ټالول ضروری شی نو باید چه د ټالولو دوره که هغه روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوره وی او که راتلونکی دوره وی تر اتو کاملو ورځو پوری وټاکله شی.

دری سوه څلیر ویشتمه ماده: یواځې هغه مدافع وکیلان دجنایاتو د محکمی په وړاندی وظیفه اجرا کولی شی چه د ستری محکمی یا د استیناف یا د ولایت محکمو په وړاندی د دفاع د وکالت کولو اهلیت لری.

دری سوه پنځویشتمه ماده: مدافع مکلف دی چه د تصدیق شوی عذر یا مانع لرلو د حالت نه پرته غونډی ته حاضر شی او د تورن دفاع ورکړی او یا ددی وظیفی د پاره خپل قایمقام و ټاکی که داسی نه وی نو دی د جنایاتو د محکمی له پلوه د یوی داسی نقدی جزا په ورکولو محکومیږی چه مبلغ ئی له پنځو زرو افغانیو نه زیات نه وی. دا حکم د ضرورت په وخت کښی مدافع ته د تادیب ورکولو مخه نه نیسی او محکمه کولی شی چه دی د نقدی جزا د ورکړی نه معاف کړی.

دري سوه شپږ ویشتمه ماده: که چیري مدافع وکیل د قانون په احکامو برابر د محکمی له خوا د فقیر تورن په دفاع کولو موظف شوی وی دی کولی شی چه د دولت نه د اجرت غوښتنه وکړی، محکمه د اجرت په اندازه کولو کښی خپلواکه ده اوپه دغه باب دهغی په قرار باندی اعتراض نه شی کیدی.

دری سوه اووه ویشتمه ماده: که چیري محکمی ته داخبره جوته شی چی لکه د احالی په امراو په غونډه کښی دغورنه اول ویل شوی دی قضیه جنحه ده کولی شی چه د صلاحیت نه لرلوپه باب خپل حکم صادر او قضیه ابتدائیه محکمی ته حواله کاندی. که چیري دا خبره په غونډه کښی دغور لاندی د قضیی دراوستلونه پس جوته شی نو محکمه د هغی دپریکړي اقدام کوی.

دری سوه اتویشتمه ماده: که چیري هغه جنحه چه د جنایت سره تړون لری د جنایاتو محکمی ته حواله کړی شی او محکمه په قضیه باندی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غور کولونه مخکښی دا جوته کړی چه دغه تړون بیځایه دی نو
جنحه د جنایت نه بیلوی او مربوطی ابتدائیه محکمی ته ئی
سپاری.

دری سوه نه ویشتمه ماده: د جنایاتو محکمه د اعدام حکم د رایو د اتفاق نه
پرته نه شی صادرولی.

## دریم فصل

### هغه اجراآت چه د جنایاتو په مسئلو کښی دغایب تورن په باب عملی کیږی.

دری سوه دیرشمه ماده: که چیري په جنایت باندی د تورن د احالی امر د
جنایاتو محکمی ته صادر شی او دی دغونډی په ورځ سره له دی
چه د احالی د امر او احضار پاڼی له مخه موضوع پخپله ده ته
ابلاغ شوی وی حاضر نه شی حکما حاضر ګڼل کیږی او محکمه
کولی شی چه دده پشی شا خپل حکم صادر کاندی. محکمه دا
هم کولی شی چه دعوی وځالوی او دوهم وار په حاضریدو باندی
د ده د مکلفیت امر او یائی د ګرفتاری او حاضر ولو امر صادر
کړی.

دری سوه یوه دیر شمه ماده: که چیري تورن د افغانستان نه بهر هستوګ نه لری
نو دده د احضار پاڼې دسپارلو امر دده پخپل هستوګنځی کښی
که چیري معلوم وی دهغه میعاد نه چه په دعوی باندی دغور
کولو د غونډی د پاره ټاکل شوی دی کم نه کم یو میاشت
مخکښی د مزل د وهلو د پاره د مناسب وخت د زیاتو لو سره
سره سپارل کیږی. که چیري تورن غونډی ته حاضرنه شی او دا
خبره ثابته شی چه احضار پاڼه او د احالی امر پخپله ده ته ابلاغ
شوی دی حکما حاضر ګڼل کیږی او محکمه کولی شی چه خپل
حکم د ده پشی شا صادر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری سوه دوه دیرشمه ماده: ددی قانون د دوه سوه دیار لسمی مادی د وروستی
فقری د حکم د رعایت سره سره هیڅوك دا نه شی کولی چه د
قانونی صلاحیت نه پرته محکمی ته حاضر شی او دغایب تورن
دفاع یا نیابت و کاندی.

دری سوه دری دیرشمه ماده: په غونډه کښی لومړی د احالی امر او بیا تورن ته
د ابلاغ دا ثبات پاڼی لوستل کیږی.
څارنوالی او د حق العبد مدعی که څه اظهارات او غوښتنی لری
په خبر ولاس پوری کوی او بیا که لازمه وی محکمه د شاهدانو
شاهدی اوری او ورپسی د دعوی د پریکړی اقدام کوی.

دری سوه څلور دیرشمه ماده: هرڅوك چه د محکمی حضور له مخی په جزا
محکوم شی پخپل مال کښی د تصرف کولو، دهغه د اداره کولو
او په خپل نامه باندی د دعوی سورولو د اهلیت نه بالتبع منع
کیږی.
دغه شان د قانون د حکم له مخه د ده هر قسم تصرف او التزام
باطل دی.
د ولایت هغه محکمه چه د محکوم علیه مال دهغی په قضائی
وند کښی دننه دی دڅارنوالی یا دیو بل ذیعلاقه مقام په
غوښتنه د دغو مالونو دڅار دپاره یو شخص ټاکی. محکمه هغه
څوك د ضمانت په ورکولو مکلفو لی شی چه د محکوم علیه د
مال دڅارنی دپاره ئې ټاکی. د اشخص د مال

د څارنی او د حساب وړاندی کولو د ټولو چاروو په باب د محکمی په وړاندی
جوابده دی. مثبت مالی و جایب د قانون د احکامو مطابق د
محکوم علیه د مال څخه ادا کیږی.

دری سوه پنځه دیرشمه ماده: که چیري د تورن د حاضرید لونه پس په موضوع
کښی حکم صادر شی او یا تورن د شخصیه احوالو د قاعدو
مطابق حقیقتا یا حکما مړ ثابت شی د محکوم علیه د مال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځارنه ختميږي، څارونی د څارنی د پای ته رسيدونه پس د
حساب په وړاندی کولو مکلف دی.

دری سوه شپږ دير شمه ماده: هغه جزا چه د حکمی حضور له مخه په صادر شوی حکم کښی درج ده د امکان تر حده پوری تطبيقيږی.

دری سوه اووه ديرشمه ماده: د تضميناتو په باب دشوی حکم تطبيق د هغه د صادريدو له وخته جواز لری.

د حق العبد مدعی د کفالی په ورکولو مکلفيږی او يا دا چه قانون د دی په خلاف تصريح کړی وی او يا د ولايت د محکمی له خوا دهغی د ورکړی څخه معاف شوی وی.

کفاله د حکم د صادريدو راهيسی د پنځو کلونو په تيريدو ختيميږی.

دری سوه اته ديرشمه ماده: په جناياتو کښی چه د جناياتو د محکمی له پلوه د تورن پشی شا کوم حکم صادر شوی وی هغه د زمانی په اوښتو نه ساقطيږی، محکوم بها جزا د زمانی په مرور ساقطيږی او دهغی د سقوط له مخه حکم قطعی کيږی او هر وخت چه تورن حاضر شی محاکمه ئی جار ويستل کيږی.

دری سوه نه ديرشمه ماده: که چيري پشی شا محکوم عليه د زمانی په اوښتو باندی د جزا له ساقطيدو نه مخکښی حاضرا و يا گرفتار شی نو په خواجه چه د جزا يا تضميناتو په باب کوم حکم صادر شوی دی باطليږی او په دعوی بـــانـــدی غور د محکمی په وړاندی له نوی سره جارويستل کيږی.

که چيري دتضميناتو په باب مخکښی صادر شوی حکم نافذ شوی وی محکمه دټول ياځينی مبلغ په بيرته ور کولو حکم کوی. که چيري غيابی محکوم عليه ومری د تضميناتو حکم د ورثه و په وړاندی جارويستل کيږی.

دری سوه څلويښتمه ماده: ديو نفر تورن غياب په دعوی کښی د نورو ورنو په باب د حکم د صادريدو د ځنډيدلونه باعث کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری سوه یوڅلویښتمه ماده: که چیري دهغی جنحی تورن غایب شی چه د جنایاتو محکمی ته وړاندی شوی د ده په باب د جنحو په باب دغور د واکمنی محکمې معمول اجراآت تطبیقیږی.

## دریم کتاب
## په حکم باندی د اعتراض لاری چاری
## لومړی باب
## استنیاف

دری سوه دوه څلویښتمه ماده: تورن او څارنوالی هر یو دا کولی شی چه د هغو احکامو د استیناف اقدام و کړی چه د ابتدائیه محکمی له پلوه د جنحی د جرایمو په باب په جزائی د عوو کښی صادر شوی وی.

هغه احکام چه د ابتدائیه محکمی له پلوه د قباحتونو په باب صادریږی استیناف ئی په دی شرط جواز لری چه:

الف: مستانف تورن د لګښتونو د ورکړی یا د نقدی جزا نه پرته په بله جزا محکوم شوی وی.

ب: څارنوالی چه د استیناف غوښتنه ئی کړی ده د ابتدائیه محکمی نه ئی د نقدی جزا یا دلګښتو نو دور کړی د جزانه پرته د بلې جزا غوښتنه کړی وی خو دمحکمی حکم د تورن په برائت صادر شوی وی او یائی په هغه څه حکم نه وی صادر کړی چه څارنوالی ئی غوښتنه کړی وی.

د دی دووحالتونو نه پرته تورن یا څارنوالی د استیناف غوښتنه نه شی کولی بی له دی چه د اعتراض لاندی راغلی حکم د قانون په مخالفت کولی ئی له دی چه د اعتراض لاندی راغلی حکم د قانون په مخالفت او یائی تاویل او تطبیق په خطا باندی بنا شوی وی او یا په حکم کښی بطلان پیښ شوی وی او یا په اجراآتو کښی بطلان راغلی وی او په حکم ئی تاثیر اچولی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری سوه دری څلویښتمه ماده: د حق العبد مسئول چه محکمی د ده تدخل د
دی قانون د دو سوه نه څلویښتمی مادی د حکم مطابق منلی
وی کولی شی چه د تورن په نفع دهغه حکم استیناف و غواړی
چه په جزا ئی دعوی کښی دده خلاف صادر شوی وی.
دری سوه څلور څلویښتمه ماده: په هغو جرائمو کښی د صادر شوی حکم
استیناف چه یوله بله د نه بیلیدونکو جرائمو په باب صادر
شوی وی که څه هم مستانف یوائې د دی جرایمو د یوی برخی
په باب د استیناف حق لری جواز لری.
دری سوه پنځه څلویښتمه ماده: هغه حکمونه چه د عدم صلاحیت په باب صادر
شوی وی استیناف پری کیدی شی.
د صلاحیت په باب د صادر شوی یو حکمونو استیناف په دی
شرط جواز لری چه حاکمه محکمه په دعوی کښی د حکم کولو
ولایت ونه لری.
دری سوه شپږ څلویشتمه ماده: د دری سوه پنځه څلویښتمی ماده د حکم د
رعایت سره سره د تحضیر او تمهیدی احکامو استیناف او
دهغو حکمونو استیناف چه په لومړنیو مسایلو کښی صادر
شوی دی د موضوع د دعوی د پریکون نه مخکښی جواز نه
لـــــری. هر کله چه په اصـــــل موضـــوع کـښی د صادر
شوی حکم استیناف وشی د دی قسم احکامو استیناف ورسره
پخپله کیږی.
دری سوه اووه څلویښتمه ماده: د صغیر تورن دهغه حکم استیناف نه قبلیږی
چه د ده خلاف د توبیخ یا پلارو مور یا ولی ته دده د سپارلو په
باب صادر شوی.
دری سوه اته څلویښتمه ماده: دهغو حکمونو استیناف چه د حقوقی دعوی په
باب د جنحې یا قباحت په قضیو کښی د ابتدائیه محکمی له
پلوه صادر شوی وی دحق العبد مدعی، د حق العبد مسئول یا
تورن له پلوه یوائې د قضیی د حق العبد په باب په دی شرط

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواز لری چه غوښتل شوی عوضونه د هغه نصاب نه زیات وی
چه د ابتدائیه محکمی د نهائی حکمونو دپاره ټاکل شوی دی.

دری سوه نه څلویښتمه ماده: د حکم استیناف د حکم د اعلام نه وروسته په لسوور څو کښی د ننه دننه دهغی محکمی د تحریراتو دفتر ته چه حکم ئی صادر کړی دی دغوښتن لیك په وړاندی کولو کیږی.

لوی څارنوال کولی شی چه د حکم د صادریدونه پس په دیر شوو رځو کښی دننه دننه دهغه د استیناف اقدام وکړی. دی داهم کولی شی چه داستیناف غوښتنه دهغی محکمی د تحریراتو دفترته وړاندی کړی چه داستیناف په غوښتن لیك باندی دغور کولو واك لری.

دری سوه پنځو سمه ماده: دهغو حکمونو د استیناف نیټه چه دمحکوم علیه د حکمی حضور له مخه صادریږی د هغه وخت نه حسابیږی چه حکم ده ته اعلام شوی وی.

دری سوه یو پنځو سمه ماده: که چیری یو خصم دلسورو څو په موده کښی د ننه دننه چه داستیناف دپاره ټاکل شوی ده د حکم داستیناف اقدام وکړی نو دده دداسی مقابل لوری د استیناف نیټه چه داستیناف حق لری د دغولسو ورځو د ختیمدونه پس پنځه ورځی اوږدیږی
.

دری سوه دوه پنځو سمه ماده: استیناف هغه ولایت محکمی ته لیږل کیږی چه حاکمه محکمه ئی په قضائی وند کښی واقع وی. د محکمی د تحریراتو دفتر مستانف ته د استیناف په غوښتن لیك باندې د غور کولو نیټه ښیی. دا نیټه د دری کاملو ورځو تیریدونه مخکښی نه شی کیدی. څارنوال د دعوی ټول خصوم ټاکلی شوی غوندی ته په حاضریدو باندی مکلفوی.

دری سوه دری پنځوسمه ماده: د دی قانون ددوه سوه دیارلسمی مادی نه د دوه سوه اووه لسمی مادی تر آخره پورې احکام هغی محکمی ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصومو د حاضریدلو په باب چه په استیناف غور کوی هم
تطبیقیږی.

دری سوه څلور پنځوسمه ماده: که چیري تورن بندی وی څارنوال مکلف دی چه
دی په یو مناسب وخت کښی د هغی سیمې محبس ته ولیږدوی
چه د ولایت محکمه پکښی واقع ده په دی صورت کښی د
استیناف غوښتن لیك په عاجل صورت د غور لاندی نیول
کیږی.

دری سوه پنځه پنځوسمه ماده: دهغه دیوان یو غړی چه په استیناف کښی حکم
صادر وی د استیناف د غوښتن لیك په باب راپور جوړوی او دا
لاندی ټکی پکښی شاملوی:

الف – د دعوی دپیښو لنډیز.

ب – د اثبات او نفی دلیلونه.

ج: ټولی هغه مسئلی چه په ضمنی صورت په قضیه کښی د
بحث لاندی راغلی دی.

د – هغه اجراآت چه تر دغه وخته په قضیه کښی شوی دی.

دارپوټ دتیاروونکی له خوا امضاء کیږی او په ټاکلی غونډه
کښی دهغه دلوستل کیدونه پس لومړی د مستانف خبری او
دلیلونه اوریدل کیږی، ورپسی پاتی خصوم خبری کوی او په آخر
کښی تورن ته دویناوار ورکول کیږی. دینه پس د رپوټ
تیاروونکی او یا د دیوان نور غړی خپلی رائی څرگندوی او په
پای کښی محکه د قضیی د پاڼو دلوستلو او په موضوع باندی
د لاژم غور نه وروسته خپل حکم صادروی.

دری سوه شپږ پنځوسمه ماده: استینافه محکمه پخپله یا دهغه یو قاضی په
واسطه چه ددی مقصد دپاره ټاکل کیږی دهغو شاهدانو شاهدی
اوری چه د لومړی محکمی په وړاندی ئی اوریدل په کارو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان دا محکمه د بلې هری هغی نیمگړتیا دپوره کولو اقدام
کوی چه د تحقیق په اجراآتو کښی پیښه شوی وی.
استینافیه محکمه په ټولو حالاتو کښی د دی خبری واك لری چه
د تحقیق دپوره کولو او د شاهدانو د شاهدی اوریدو د پاره چه
کوم امر لازم وگڼی صادرئی کړی.
بې د محکمی له امره هیڅ شاهد په حاضر یدلو نه شی
مکلفیدلی.

دری سوه اوو پنځو سمه ماده: که چیري د استیناف غوښتن لیك د ځارنوال له
پلوه وړاندی شوی وی بې له دی چه وکتی شی چه حکم د تورن
په ښه صادر شوی که په بده محکمه کولی شی چه هغه تائید
کړی یائی لغو یا تعدیل کړي.
د محکوم به جزا سختول یا د برائت د حکم لغو کول بی له دی
چه د محکمی د ټولو قاضیانو د رایو په اتفاق صادر شی اعتبار
نه لری.
که چیري د استیناف غوښتن لیك د ځارنوال نه غیر له بله پلوه
وړاندی شوی وی نو د محکمی واك اختیار د حکم په تائید یا د
مستانف په گټه دهغه په تعدیل پوري منحصر دی.

دری سوه اته پنځوسمه ماده: که چیري لومړی محکمی په اصل موضوع حکم
صادر کړ ی وی او استنیافی محکمی ته جوته شی چه په حکم یا
اجراآتو کښی بطلان و جود لری نو بطلان سموی او په اصل
دعوی کښی حکم کوی.
خو که چیري لومړی محکمی خپل حکم په نه صلاحیت یا دیوی
داسی فرعی دفعی په منلو صادر کړی وی چه د هغی په نتیجه
کښی ددعوی روان تگ ځنډیږی او استینافی محکمه خپل حکم
د محکمی د حکم په الغاء او صلاحیت یا د فرعی دفعی په رد
او په دعوی باندی د غور کولو په باب صادروی نو په کار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دغه محکمه قضیه لومړی محکمه ته په اصل موضوع کښې
د حکم صادرولو د پاره جار باسی.
دری سوه نه پنځوسمه ماده: که چیري استینافی محکمی ته جوته شی چه پیښه
جنایت دی نو په نه صلاحیت حکم کوی او دعوی د لا زمو
تدبیرونو د کولو د پاره څارنوالی ته لیږی.
دری سوه شپیتمه ماده: که چیري مستانف دا سی تورن وی چه دآزادۍ په
تحدید وونکی حکم باندی محکوم شوی وی او جزاء د قانون له
مخه واجب التنفیذ وی اودی د حکم د تطبیق د پاره مربوط مقام
ته دعونډی د شروع کیدونه مخکښې حاضرنه شونو د استیناف
غوښتن لیك ئی ساقطیږی.
دری سوه یوشپیتمه ماده: که چیري د عوض ورکولو په باب حکم لغو شی خو د
لغو کیدو نه مخکښې په موقت صورت نافذ شوی وی عوض په
ستنه جارویستل کیږی.

دوهم باب

په حکم باندی دستری محکمی په وړاندی اعتراض

دری سوه دوه شپیتمه ماده: څارنوالی، محکوم علیه، د حق العبد مدعی او د
حق العبد مسئول هر یو په لاندنیو حالاتو کښې د جنایت او
جنحی په باب د وروستی محکمی له خوا د صادرو شویو نهائی
احکامو خلاف د ستری محکمی په وړاندی اعتراض کولی شی:
الف: په هغه حالت کښې چه د اعتراض لاندی راغلی حکم د
قانون په مخالفت، یا د قانون په تطبیق یا تاویل کښې په خطاء
باندی بنای شوی وی.
ب: په هغه حالت کښې چه په حکم کښې بطلان پیښ شوی وی.
ج: په هغه حالت کښې چه په اجراآتو کښې یو داسی بطلان پیښ
شوی وی چه په حکم ئی تاثیر اچولی وی.
د : په هغه حالت کښې چه حکم د چا په مرګ صادر شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري د چا په مرگ باندی صادر شوی حکم دپورتنو فقرو له جملې څخه د یوی په اساس هم د غور د پاره ستری محکمی ته وړاندی نه کړی شونو څارنوالی د قانون د حکم له مخه مکلفه ده چه دغه حکم د غور د پاره ستری محکمی ته وړاندی کړی.
د حق العبد د مدعی او د حق العبد د مسئول له پلوه اعتراض یواځی د قضیبی د حق العبد په باب کیدی شی.
محکمه د احالت چه اجراآت د دعوی په جریان کښی د قانون مطابق شوی دی اصلی حالت پیژنی خوسره د دی هم ذیدخل شخص دا کولی شی چه دا ثابته کړي چه دا اجراآت یا اهمال شوی او یا د قانون خلاف شوی دي، خو په دی شرط چه په محضر کښی داسی یو تذکر موجود وی د دغو اجراآتو د خلاف اثبات یوازی د تزویر د اعتراض په لار کیدی شی.

دری سوه دری شپیتمه ماده: څارنوالی، د حق العبد مدعی او د حق العبد مسئول هریو کولی شی چه د خپل اختصاص په برخه کښی په هغه حکم باندی د ستری محکمی په وړاندی اعتراض وکړی چه د جنایاتو د محکمی نه د جنایت په تورن باندی پشی شا صادر شوی وی.

دری سوه څلور شپیتمه ماده: هغه حکمونه چه د موضوع دپریکړی نه مخکښی صادریږی دستری محکمی په وړاندی د اعتراض لاندی نه راځی بې له دی چه ددغو حکمونو په نتیجه کښی د دعوی روان تگ وځنډیږی.

دری سوه پنځه شپیتمه ماده: که چیري صغیر تورن په توبیخ، یا پلار و مور یا ولی او یا یو امانتگرو شخص ته په سپارلو محکوم شوی وی په دی حکم باندی د ستری محکمی په وړاندی دده اعتراض نه اوریدل کیږی.

دری سوه شپږ شپیتمه ماده: په حکم باندی اعتراض د حاکمی محکمی د تحریراتو دفتر ته په غوښتن لیك وړاندی کولو کیږی، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتن لیك باید د حضوری حکم له نیتېی یا محکوم علیه ته د غیابی حکم د اعلام له نیتېی نه پس په څلویښتو ورځو کښی دننه دننه وړاندی کړی شی هغه دلیلونه چه اعتراض پری بنا شوی دی هم باید په دغه موده کښی دننه وړاندی کړی شی سره د دی هم که چیري حکم په برائت صادر شوی وی او معترض د حکم له صادریدو څخه پس په دیر شو ورځو کښی د ننه دننه د تحریراتو دفتر ته هغه د نه سپارل کیدو تصدیق حاصل کړی اعتراض له دلیلونو سره دهغه نیتېی نه پس چه دتحریراتو په دفتر کښی دحکم سپارل کید نه ده ته اعلان شوی ده په لسو ورځو کښی د ننه دننه منل کیږی. په دی حالت کښی معترض مکلف دی چه د دغه تصدیق حاصلو لو دپاره کوم غوښتن لیك ورکوی په هغه کښی د محکمی په هستوګنځی کښی پر ځای د دی دپاره و ټاکی چه ده ته پکښی د حکم سپارل ابلاغ شی که داسی نوی نو ده ته د تحریراتو په دفتر کښی د حکم ابلاغ معتبر ګڼل کیږی.

دری سوه اووه شپیتمه ماده: که چیري په پورتنی ماده کښی درج شوی اعتراض د څارنوالی له خوا شوی وی نو په کار دی چه دلیلونه ئی کم نه کم د څارنوال له خوا امضاء شوی وی.

دری سوه اته شپیتمه ماده: د ستری محکمی په وړاندی دهغو دلیلونو غیر چه د دری سوه اووه شپیتمی مادی په درج شوی موده کښی دننه دننه ئی ذکر شوی دی په نورو دلیلونو تکیه نشی کیدی سره د دی هم ستره محکمه د خپل قناعت له مخه دا کولی شی چه یو حکم د تورن په ښیګړه مات کړي خوپه دی شرط چه دا جوته کړی چه حکم د قانون په مخالفت یا دهغه په تطبیق او تاویل کښی په خطاء باندی بنا شوی دی یا دا چه حاکمه محکمه د قانون د احکامو مطابق تشکیل شوی نه ده یا د دعوی دپریکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایت نه لری او یا دا چه د حکم نه پس د داسی قانونی اعتراض مورد پیښ شوی دی چه د دعوی په پیښنه کښی تطبیق کیږی.

دری سوه نه شپیتمه ماده: محکمه د اعتراض په باب خپل حکم په هغه رپوټ باندی د قناعت نه وروسته صادروی چه د اعضا وو له جملی څخه د یوه له خوا په دغه باب تیارشوی دی. محکمه کولی شی چه که لازمه وی د څارنوالی، خصومو یا د هغوی د مدافعینو ویناوی واوری.

دری سوه او یایمه ماده: که چیري اعتراض یا دلیلونه د خپلی مقرری نیتیی نه وروسته وړاندی کړی شول محکمه دهغو په نه منلو حکم کوی.

که چیري اعتراض ومنل شی او د دری سوه دوه شپیتمی مادی دمندرج لومړی حالت په اساس بناوی نو محکمه خطاء سموی او د قانون مطابق خپل حکم صادروی، او که چیري اعتراض د دغی مادی د مندرج دوهم، دریم یا څلورم حالت په اساس بناوی نو محکمه حکم ماتوی او دعوی حاکمی محکمی ته جار باسی چه پکښی د داسی قاضیانو له پلوه حکم صادر شی چه اکثریت ئي د لومړنو قاضیانو نه غیروی. سره د دی هم ستره محکمه کولی شی چه که لازمه وګڼی دعوی بلی محکمی ته وسپاری.

که چیري مات شوی حکم د استینافی محکمی یا د جنایاتو د محکمی له پلوه د داسی جنحی په باب صادر شوی وی چه د محکمی په غونډه کښی پیښنه شوی وی نو دعوی هغی محکمی ته لیږل کیږل چه اساساً په هغی باندی د غور کولو صلاحیت لری او دغه محکمه دعادی قواعدو مطابق په دعوی باندی غور کوی.

دری سوه یو او یایمه ماده: که چیری د حکم اسباب په قا نون کښی په خطاء باندی مشتمل وی او یا د قانونی متن په ذکر کښی خطاء پیښنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وی په هغه حالت کښې چه محکوم به جزا د جرم د جزا د
قانون مطابقه وی نو دحکم ماتول جواز نه لری بلکه ستره
محکمه پیښه شوی خطاء سموی.
د حکم ماتول یوازی په هغه برخه کښې کیږی چه په هغو دلیلونو
پوری مربوط وی چه معترض پری استناد کوی بی له دی چه د
حکم ویش ناممکن ښکاره شی.

دری سوه دوه او یا یمه ماده: که چیري اعتراض د څارنوالی له پلوه نه وی
وړاندې شوی حکم یواځی د معترض په باب ماتیږی بی له دی
چه د اعتراض دلیلونه د نورو تورنو سره هم تړون ولری، په دغه
حالت کښې که څه هم ددوی له خوا اعتراض نه وی وړاندی
شوی محکمه د دغو تورنو په باب هم دحکم د ماتولو حکم
صادروی.

دری سوه دری او یا یمه ماده: که چیري د حکم ماتو نه د څارنوالی نه غیر د
جګړه والو خواو له جملی څخه دیوه د غوښتن لیك له مخه شوی
وی د اماتونه دده په اعتراض باندی تاثیرنه کوی.

دری سوه څلور او یایمه ماده: که چیري د هغی محکمی په حکم باندی چه
دعوی ورسپارل شوی ده په دوهم وار اعتراض وشی ستره
محکمه په اصل موضوع کښې حکم صادروی او په دی حالت
کښې دهغو قاعدو پیروی کیږی چه د ارتکاب شوی جرم په
محاکمه کښې تطبیقیږی.

دری سوه پنځه او یایمه ماده: که چیري د اعتراض لاندی راغلی حکم د یوی
داسی قانونی دفعی په قبول باندې شوی وی چه د دعوی دروان
تګ مخه نیسی او ستری محکمی داحکم مات کړ او دعوی ئی
حاکمی محکمی ته د غور د پاره وسپارله نو حاکمه محکمه د
ستری محکمی د حکم په عکس باندی حکم نه شی صادرولی.
دغه شان هغه محکمه چه په اصل موضوع کښې حکم صادروی
په هیڅ حالت کښې دانه شی کولی چه دهغه څه په عکس چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزائی دیوانو عمومی هیئت په ستره محکمه کښې مقر کړی دی حکم صادر کړی.

دری سوه شپږ او یا یمه ماده: که چیري اعتراض د موضوع په لحاظ رد کړی شی معترض په هیڅ حالت کښې دا نه شی کولی چه په عین حکم باندی بل اعتراض د هر دلیل سره چه وی وړاندی کړی.

دری سوه اووه او یایمه ماده: که چیري معترض د آزادی په تحدیدوونکی جزا باندی محکوم وی او د غونډې د شروع نه مخکښې د حکم د تنفیذ د پاره مربوط مقام ته حاضر نه شی اعتراض ساقطیږی. که چیري معترض دا شرط په ځای کړی او اعتراض د محکمې د غور لاندی وی محکمه کولی شی چه معترض په کفاله خوشی کړی.

دری سوه اته اویایمه ماده: د دی باب د پورتنو مادو د احکامو د رعایت سره سره که چیري حکم په حضوری صورت د اعدام په جزا صادر شوی وی څارنوالی مکلفه ده چه قضیه ستری محکمې ته د حکم په باب د خپلو لیکلو نظر یا تو سره د دری سوه اووه ویشتمی مادی په درج شوی موده کښې د ننه د ننه ستری محکمې ته وړاندی کړی. محکمه د دی قانون د دری سوه اته شپیتمی مادی د دوهمی فقری او د دری سوه او یایمی مادی د دوهمی او دریمی فقری مطابق خپل حکم صادروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم باب
## نوی نظر

دری سوه نه او یایمه ماده: په لاندینو حالاتو کښې د جنایت او جنحې په قضیو کښې د جزا په باب صادر وشو یو حکمونو باندې د نوی نظر غوښتنه کیدی شي:

الف: په هغه حالت کښې چه تورن د قتل په جرم کښې محکوم علیه شي او بیا هغه څوك ژوندی و موندل شي چه د وژلو ادعائي شوی ده.

ب: په هغه حالت کښې چه په یو چا باندی دیوی پیښې له در که حکم صادر شي او بیا د همدغی پیښې له در که په بل چا باندی حکم صادر شي او د دواړو حکمونو تر منځه داسې تناقض موجود وی چه ترینه د دواړو محکوم علیه له جملې څخه دیوه برائت معلوم وی .

ج: په هغه حالت کښې چه شاهدان یا اهل خبره د دروغو د شهادت ویلو له در که د قانون مطابق په جزا محکوم شي یا په هغه مستند تزویر باندی حکم صادر شي چه په دعوی باندی دغور کولو په وخت وړاندی شوی وی، په دغو دواړو حالتونو کښې دا شرط ده چه د شاهدانو شاهدی یا د اهل خبره و رپوټ یا ذکر شوی مستند تزویر په حکم کښې موثر واقع شوی وی.

د: په هغه حالت کښې چه جزائي حکم د یوی حقوقي محکمې نه په صادر شوی حکم باندی بنا شوی وی او د دغی حقوقي محکمې نه په صادر شوی حکم باندی بنا شوی وی او د دغی حقوقي محکمې حکم لغو کړی شي.

هـ: په هغه حالت کښې چه د حکم نه وروسته د اسې پیښې حادثې یا څرګندی شي یا داسې پاڼې وړاندی کړی شي چه د محاکمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وخت کښې معلومې نه وي او امکان لري چه دغه پيښې يا
پاڼې د محکوم عليه برائت ثابت کاندي.

دري سوه اتيايمه ماده: د دري سوه نه او يايمې مادې په مندرجو لومړنو څلورو حالتونو کښې لوی څارنوال او محکوم عليه او که دی پخپله مفقود يا د اهليت فاقد وي نو دده قانوني نماينده او که مړوي نود ده اقارب يا زوج کولی شي چه دنوي نظر غوښتنه وکاندي.
که چيري د نوي نظر غوښتنوال د څارنوالۍ نه غير بل څوك وي نو په کاردی چه غوښتن ليك لوی څارنوال ته وړاندی کړی، په دی غوښتن ليك کښې هغه حکم چه پری د نوي نظر غوښتنه شوی د نوي نظر د ليلونو سره ذکر کيږی او هغه مستندات چه نوي نظر تائيد وی ورسره يوځای کيږی.
لوی څارنوال د نوي نظر غوښتن ليك بی له دی چه وګوری چه پخپله د ده له خوا وړاندی شوی يا دبل چاله پلوه دشويو تحقيقاتو سره يو ځای د رپوټ په ملتيا ستری محکمی ته وړاندی کوی او پکښې خپله نظر په او دليلونه څرګند وی.
څارنوالی مکلفه ده چه د نوي نظر غوښتن ليك د رسيدو د نيټی نه پس په دری مياشتو کښې د ننه دننه ستری محکمی ته وړاندی کړی.

دری سوه يو اتيايمه ماده: د دری سوه نه او يا يمې مادې په درج شوی پنځم حالت کښې د نوي نظر غوښتنه کول که دا غوښتنه ځانله د ده له خوا شوی وی که د ذيدخلو اشخاصو د مراجعی له مخه، يوائی د لوی څارنوال په صلاحيت کښې دی. که چيري لوی څارنوال د نوي نظر غوښتنه لازمه وګڼې نو د نوي نظر غوښتن ليك د هغو تحقيقاتو سره چه کړی ئی دی هغی ټولنی ته وړاندی کوی چه د ستری محکمی د يو غړی او د استيناف محکمی له دوو غړو څخه جوړه ده او د مربوطو محکمو د عمومی ټولنې له خوا ټاکل کيږی. لو څارنوال پخپل غوښتن ليك کښې هغه پيښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا هغه ليکلي مستند چه تکيه پرى شوى ده بيانوى. دغه ټولنه د پاڼو له کتنى او که لازم ئى وګڼى د تحقيق له پوره کولو ورسته دغوښتن ليك په باب تصميم نيسى ا و که هغه و منى نوغښتن ليك سترى محکمى ته سپارى.

په هغه تصميم باندى چه د لوى څارنوال يا د ذکر شوى ټولنى له خوا د نوى نظر دغوښن ليك د منلو يا نه منلو په باب نيول کيږى اعتراض نه شى کيدى.

درى سوه دوه اتيايمه ماده: څارنوالي مکلفه ده چه د جګرى دواړه خواوې هغې غونډى ته د حاضريدو د پاره چه د نوى نظر په غوښتن ليك باندى د سترى محکمى په وړاندى د غور په باب ټاکل شوى ده کم نه کم درى ورځى دغوندى دکيدونه مخکښى خبرى کړي.

درى سوه درى اتيايمه ماده: ستره محکمه د څارنوالي او دواړو جګره والو خواو د ويناو له اوريدو او د هغه تحقيق د کيدو نه پس چه اجرائى پخپله يا د نورو کسانو په لاس لازمه وګڼى دغوښتن ليك په باب خپل تصميم نيسى. که چيري محکمه غوښتن ليك و منى نو حکم لغو کوى او که چيري د تورن برائت په ډاګه وى نو دى برى الذمه کوى او که چيري دده برائت په ډاګه نه وى نو دعوى حاکمى محکمى ته سپارى چه دغه محکمه د نورو قاضيانو په واسطه په موضوع کښى حکم صادر کړى.

ستره محکمه پدى حالت کښى هم کولى شى چه پخپله په اصل موضوع کښى حکم صادر کړى.

که چيري د محاکمى جارويستنه له دى کبله ممکنه نه وى چه يا محکوم عليه مړوى يا معتوه وى يا جزائى دعوى د زمانى په اوښتو ساقطه شوى وى يا نور داسى څه وى نو ستره محکمه د دعوى په موضوع غور کوى او يوازې هغه حکم لغو کوى چه خطاء ئى د محکمى په وړاندى څرګنده وى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری سوه څلور اتیایمه ماده: که چیري محکوم علیه ومری او د نوی نظر غوښتن لیك د ده د اقاربو یا زوج له خوا وړاندی کړی شوی نه وی محکمه دعوی دهغه شخص په مخکښی چه دمړه د حیثیت د دفاع دپاره ئی ټاکی د غور لاندی نیسی او که لاژمه شی نو د هغه څه په لری کولو باندی حکم کوی چه د مړه حیثیت ئی خرپړ کړی دی.

دری سوه پنځه اتیایمه ماده: د نوی نظر د غوښتن لیك په نتیجه کښې د حکم تنفیذ نه ځنډول کیږی بې له دی چه حکم د چاپه مرګ صادر شوی وی.

دری سوه شپږ اتیایمه ماده: هر حکم چه د نوی نظر دغوښتن لیك په نتیجه کښی د تورن په برائت صادر شی د دولت په لګښت په رسمی جریده او یوه بله هغه جریده کښی چه ذیدخل شخص یې و ټاکی نشریږی.

دری سوه اووه اتیایمه ماده: که چیري د اعتراض لاندی راغلی حکم لغو کړی شی نو د عوض هغه مقدار چه ادا شوی دی اعاده کیږی. دا حکم د زمانی په اوښتو د حق په ساقطیدو پوری د مربوطو قاعدو درعایت سره سره عملی کیږی.

دری سوه اته اتیایمه ماده: که چیري د نوی نظر غوښتن لیك و نه منل شی نو له نوی سر د هغه بیا وړاندی کول د عین هغو پیښو له مخه چه مخکښی پری استناد شوی دی نه شی کیدی.

دری سوه نه اتیایمه ماده: هغه حکمونه چه دنوی نظر د غوښتن لیك له مخه د دعوی په موضوع کښی د ستری محکمی نه غیر صادریږی په ټولو قانونی لارو د اعتراض لاندی راتلای شی. د نوی نظر د غوښتن لیك له مخه تورن په هیڅ صورت دهغی جزا نه چه مخکښی ورته ټاکل شوی ده په زیاته سخته جزا نه شی محکومید لی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم باب

## د قطعي حکمونو ارزښت

دری سوه نوی یمه ماده: جزائي د عوی دهغه تورن په باب چه پری سوره شوی او دهغو پیښنو په باب چه ده ته ئی نسبت شوی دی دبرائت یا الزام د قطعي حکم په صادر یدلو پای ته رسیږی. کله چه دیوی جزائي دعوی په موضوع کښی حکم صادر شی په هغې باندی له نوی سره غور کول بی د اعتراض د هغو لارونه چه په قانون کښی ټاکلی شوی دی جواز نلری.

دری سوه یو نوی یمه ماده: د یوی جزائي دعوی په باب د قطعي حکم د صادر یدو نه پس بیا دنویو دلیلونو یا حالاتو د راښکاریدو یا د جرم د قانوني وصف د تغییر په اساس هغه د غور لاندی نه شی نیول کیدی.

هغه جزائي حکم چه د جزائي دعوی په موضوع کښی د جزائي محکمی له پلوه به برائت یا الزام صادریږی د حقوقي محکمو په وړاندی په هغه دعوی کښی چه لاخو په قطعي صورت حل و فصل شوی نه ده د جرم دپیښې، د جرم د قانوني وصف او مرتکب ته دهغه د نسبت په لحاظ د محکوم به شی ارزښت لری.

په دې باب د برائت په حکم کښی دا دواړه اړخونه شامل دی چه د تور د نفی په اساس او که د دلیلونو د نه کفایت له مخه صادر شوی وی خوکه چیري حکم په دی اساس صادر شوی وي چه د تور لاندی راغلی فعل د جزا مستوجب نه دی نو بیا جزائي حکم د محکوم به شی ارزښت نه حاصلوی.

دری سوه دری نوه یمه ماده: هغه حکمونه چه دحقوقي محکموله پلوه د مالي معاملو په مسئلو کښی صادریږی د جزائي محکموپه وړاندی د جرم د پیښې او مرتکب ته د نسبت په لحاظ د محکوم به شی ارزښت نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری سوه څلور نوی یمه ماده: هغه حکمونه چه د شخصیه احوالو په باب د حقوقی محکموله پلوه صادریږی د جزائی محکمو په وړاندی په هغو مسئلو کښې چه د دعوی پریکون وریوری مربوط دی د محکوم به شی ارزښت لری.

## څلورم کتاب

## لومړی باب

## واجب التنفیذ حکمونه

دری سوه پنځه نوی یمه ماده: هغه جزا چه په قانون کښی ټاکل شوی ده بی له هغه حکمه چه دیوی واکمنی محکمی له پلوه صادر شوی وی د هیڅ جرم په باب تطبیقیدلی نه شی.

دری سوه شپږ نوی یمه ماده: د جزائی محکمو له خوا صادر شوی حکمونه چه څوپوری قطعیت ونه مومی نه تطبیق کیږی بی له هغو مواردو چه قانون ئی صریحا اجازه ورکاندی.

دری سوه اوونوی یمه ماده: په جزائی دعوو کښی د صادرو شویو حکمونو تطبیق ددی قانون په حکمونو برابر دڅارنوالی دغوښتنی له مخه کیږی.

دری سوه اته نوی یمه ماده: د حق العبد په دعوی کښی دصادر شوی حکم تطبیق د حقوقی اجراآتو د قاعدو مطابق د حق العبد د مدعی د غوښتنی له مخه کیږی.

دری سوه نه نوی یمه ماده: څارنوالی مکلفه ده چه د جزائی د عوو په باب دصادرو شویو واجب التنفیذ حکمونو د په ځای کولو دپاره اقدام وکړی، څارنوالی په دی لاره کښی د امنیه قواو نه کومك غوښتنی شی.

څلور سومه ماده: د نقدی جزا او لګښتو نو په باب صادر شوی حکمونه که څه هم استیناف ئی شوی وی بې له ځنده واجب التنفیذ دی. دغه شان دغلا یا د غلاپه ارتکاب باندی د شروع کولو له مخه د حبس په باب صادر شوی حکمونه او هم د متکرر تورن یا دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په خلاف صادر شوی حکم چه په افغانستان کښې يو ټاکلی هستوګنځی نه لري بې له ځنډه واجب التنفيذ دی او دغه شان د تورن د حبس په باب د محکمې حکم په تولو حالاتو کښې واجب التنفيذ دی او دغه شان د تورن د حبس په باب د محکمې حکم په تولو حالاتو کښې واجب لتنفيذ دی او يا دا چه تورن کفاله ورکړي چه د حکم د استيناف او د هغه د ميعاد تيريدو په صورت کښې به د حکم د تنفيذ نه غاړه نه غړوي او چه کله د حکم استيناف وشي دی به غونډې ته حاضريږي او د صادر شوي حکم نه به مخ نه اړوي. هغه مبلغ چه په داسې حالاتو کښې ئې د کفالې په حيث وړاندې کونه واجب ده د حبس د جزا په حکم کښې ټاکل کيږي.

که چيري تورن په توقيف کښې وي محکمه کولی شي چه د حکم د موقت تنفيذ امر صادر کړي.

څلور سوه يوه ماده: هر کله چه ددې قانون د څلور سومې مادې د حکم مطابق د حبس جزا نافذه شوه د آزادی تحديدوونکی جزاوې هم چه د حبس له جزا سره يوځای د محکمې په حکم کښې شاملې شوې دي تنفيذ کيږي.

څلورسوه دوهمه ماده: دارالتاديب يا بل ځای ته د تورن دليږلو يا د پلار يا ولي نه غير بل چاته دهغه دسپارلو حکم که استيناف ئې هم شوی وي واجب التنفيذ دی.

څلور سوه دريمه ماده: که چيري تورن په توقيف کښې وي او حکم د تورن په برائت يا په داسې جزا شوی وي چه تطبيق حبس ئې نه غواړي او يا په صادر شوي حکم کښې د تنفيذ د ځنډولو امر شوی يا تورن په توقيف کښې محکوم بها موده پوره کړي وي تورن سمدستي خوشې کيږي.

څلور سوه څلورمه ماده: ددې فصل په پورتنو مادو کښې د درج شويو حالاتونه پرته ددې قانون په درې سوه نه څلويښتمه ماده کښې د درج

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی استیناف غوښتنی په میعاد او په دغه موده کښی د ننه په غوښتل شوی استیناف باندی دغور په دوران کښی د حکمونو تطبیق ځندیږی.

څلور سوه پنځمه ماده: محکمه په هغه وخت کښی چه د حق العبد مدعی ته د تضميناتو وروکولو په باب خپل حکم صادروی که څه هم استیناف ئی شوی وی کولی شی چه د ټول محکوم بها یا دکفالی له ورکړی سره د ځینی محکوم بها مبلغ د موقت تنفیذ امر وکړی او محکمه کولی شی چه محکوم له دکفالی د ورکړی نه معاف کړي.

## دوهم باب

## د اعدام د جزا تنفیذ

د شخص د مرګ د حکم د قطعیت د پاره د تمیز د مربوط د یوان د غړو د رایو اتفاق شرط دی.

څلور سوه شپږ مه ماده: کله چه د شخص د مرګ حکم ددی قانون د احکامو مطابق قطعیت و مومی د قضیئی پاڼی له فیصلی سره د هغی له صادریدو نه پس په یوه هفته کښی دننه د قاضي القضات په واسطه با چاته وړاندی کیږی، په هغه صورت کښی چه با چا د محکوم علیه د ښښني یا دده د جزا دتبدیل امر صادر نه کړی او فیصله امضا کړي حکم په ځای کیږی.

څلورسوه اوومه ماده: په مرګ محکوم علیه د خارنوالی په امر د عدل د وزیر د لارښودنې لاندی د حکم تر تطبیقه پوری په محبس کښی ساتل کیږی.

څلور سوه اتمه ماده: په مرګ باندی د محکوم علیه اقارب کولی شی چه د حکم د تطبیق نه تریوی ورځی پخوا پوری له ده سره لیدل کتل وکړی. دمحبس اداره مکلفه ده چه په موضوع باندی د محکوم علیه اقارب خبر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثلورسوه نهمه ماده: که چیري د محکوم علیه دین د مذهبی و اجباتو د اجرا ایجاب کاوه نو لاژمی اسانتیاوی ورته برابر ولی شی.

ثلورسوه لسمه ماده: د مرګ جزا په محبس کښی دننه یا په یو بل پټ ځای کښی د ثارنوالی دلیکلی غوښتنی له مخه چه ددی قانون د ثلور سوه اوومی مادی د مندرجو اجراآتو په کولو مشتمله وی تطبیقیږی.

ثلورسوه یوو لسمه ماده: د مرګ جزا دثارنوالی دیو غړی، د محبس د آمر، د محبس د ډاکتر یا دیو بل داسی داکتر په مخکښی چه دثارنوالی له خوا موءظف شوی وی تطبیقیږی.

د مرګ دحکم د تنفیذ په وخت کښی دحق العبد مدعی او د محکوم علیه مدافع وکیل ته هم د حاضریدو اجازه ورکول کیږی د تنفیذ په وخت کښی باید چه د مرګ په باب د صادر شوی حکم متن او هغه تور چه په محکوم علیه باندی د مرګ د حکم د صادریدوباعث شوی دی د حکم د تطبیق په ځای کښی حاضرینو ته ولوستل شی.

که چیري محکوم علیه څه ویل غواړی نو د ثارنوالی غړی هغه لیکی او په محضر کښی ئی درجوی.

کله چه تنفیذ پای ته ورسیږی د ثارنوالی غړی موضوع په محضر کښی قیدوی او د محکوم علیه د و فات او د وفات د پیښیدو د ساعت په باب د ډاکتر تصدیق اخلی.

ثلور سوه دولسمه ماده: د مرګ د جزا تنفیذ د عامی رخصتی په ورځو کښی جواز نه لری.

ثلور سوه دیار لسمه ماده: که چیري په مرګ محکوم علیه یوه حامله ښځه وی دهغی د جزا تطبیق د حمل د زیږیدو نه ته تر دوه میاشتی وروسته مودی پوری ځنډیږی.

ثلورسوه ثوار لسمه ماده: که چیري په مرګ محکوم علیه داسی اقارب ونه لری چه دده د کالبوت د سپارلو غوښتنه وکړی نو کالبوت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت په لګښت دشریعت په احکامو برابر خښیږی. خښول باید چه بې له احتفاله پای ته ورسیږی.

دریم باب

دآزادۍ د تحدیدوونکو جزاګانو تنفیذ

څلور سوه پنځلسمه ماده: د آزادۍ د تحدید وونکو جزاګانو احکام د څارنوال د امر له مخه د عدل د وزیر په لارښو نه تنفیذیږی.

څلور سوه شپاړسمه ماده: هغه څوك چه دمحکوم بها حبس موده ئی له دری میاشتو زیاته نه وی کولی شی چه ددی قانون د څلور سوه اته پنځوسمی مادی او ورپسی موادو په احکامو برابر غوښتنه وکړی چه له ده څخه دی د زندان نه بهر کار و اخستل شی خو په دی شرط چه د قانون احکامو دی د داسی غوښتنی کولو نه محروم کړی نه وی.

څلورسوه اوو لسمه ماده: هغه ورځ چه تنفیذ پکښی شروع کیږی د محکوم علیه د جزا په موده کښی حسابیږی. محکوم علیه د جزا د مودی د ختم د ورځی په سباله د بندیانو د خلاصون په ټاکلی ساعت خوشی کیږی.

څلور سوه اتلسمه ماده: که چیري د تورن د محکوم بها حبس موده څلیرویشت ساعته وی د هغی تنفیذ د ده د ګرفتارۍ په دوهمه ورځ د بندیانو د خلاصون په ټاکلی ساعت پای ته رسیږی.

څلور سه نولسمه ماده: د آزادۍ د تحدیدوونکی جزا د مودی شروع د واجب التنفیذ حکم له مخه دتوقیف د مودی او ګرفتارۍ د مودی د مجرا کولو د رعایت سره سره د ګرفتارۍ د ورځی نه شروع کیږی.

څلور سوه شلمه ماده: که چیري تورن د هغه جرم ته دکوم له کبله چه توقیف شوی دی برائت حاصل کړی دده توقیف موده دهغه بل جرم په محکوم بها موده کښی چه ده ئی د توقیف په دوران کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتکاب کړی دی یا په دغه دوران کښې د هغه په باب له ده نه
تحقیق شوی دی مجری کیدی شی.
څلورسوه یویشتمه ماده: که چیري د آزادی تحدیدوونکی جزا دګڼو جرمونو له
کبله وی نو دتوقیف د مودی طرح لومړی له جزاګانو کیږی.
څلورسوه دوه ویشتمه ماده: که چیري د آزادي په تحدید وونکی جزا باندی
محکوم شوی شخص یوه داسی ښځه وی چه د شپږمی میاشتی
یا دهغی نه دزیاتی مودی حمل یې په ګیډه وی نو د حمل د
زیږولونه تر دوو میاشتو وروستو مودی پورې دهغی د جزا د
تنفیذ تالول جواز لری او په دی صورت کښی د محکوم علیه
سره ددغې مودی ترتیریدو پوری د توقیف شوی شخص په څیر
معامله کیږی.
څلورسوه درویشتمه ماده: که چیري د آزادي په تحدید وونکی جزا یاندی
محکوم شوی شخص په داسی ناروغی اخته وی چه پخپله دغه
ناروغی یا د جزا د تنفیذ له کبله دهغه ژوند په خطر کښی اچوی
نو دجزا دتنفیذ تالول جواز لری.
څلور سوه څلیرویشتمه ماده: که چیري د آزادي په تحدید وونکی جزا باندی
محکوم شوی شخص لیونی شی د جزا تنفیذ دده تر په سد کیدو
پوری ځنډول کیږی او څارنوالی کولای شي چه دعقلی ناروغیو
د علاج یو مرجع ته دده دلیږدولو امر صادر کړي. په دی حالت
کښې دکتنی او علاج موده له محکوم بها موده څخه طرح
کیږی.
څلور سوه پنځو یشتمه ماده: که چیري ښځه او میره دداسی مودی په حبس
محکوم شی چه له یوه کاله زیاته نه وی که څه هم دغه حکم د
مختلفو جرمونو په اثر صادر شوی وی که چیري مخکښی نه وی
محبوس شوی او که څه هم د دواړو جرمونه یو له بله مختلف وی
د دوی دواړو له جملې څخه د یوه د جزا د تنفیذ تالول دبل
ترخلاصون پوری جواز لری خو په دی شرط چه دوی د یو داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

صغیر متکفل وی چه عمر ئی له پوره پنځلسو کلونونه اوښتی نه وی او په افغانستان کښی د هستوګنی یو ځرګند ځای ولری.

څلورسوه شپږ ویشتمه ماده: په هغو حالاتو کښی چه د محکوم علیه د جزا د تنفیذ ټالول جائز وی ځارنوالی کولی شی چه د محکوم علیه نه دداسی نغدی کفالې غوښتنه وکړی چه دټالولو د سبب دپورته کیدونه وروسته له تنفیذ څخه ونه تښتی، دنقدی کفالی مبلغ د ټالولو په امر کښی ټاکل کیږی.ځارنوالی د محکوم علیه د تیښتی دمخ نیوی دپاره د احتیاط له مخه نور هغه شرایط چه لاژم ئی وګڼی په محکوم علیه باندی ایښودی شی.

څلور سوه اووه ویشتمه ماده: په قانون کښی د درج شویو حالاتونه پرته دجزا دمحکوم بها مودی له تیرولونه اول د محکوم علیه خلاصون جواز نه لری.

څلور سوه اتویشتمه ماده: د هغو محکوم علیهم صغیرانو خلاصون چه د ځارنوالی د غوښتنی له مخه دارالتادیب یا بل ځای ته سپارل شوی دی د دارالتادیب یا بل ځای د آمر د رائی له اخستلو پس کیږی.

څلور سوه نه ویښتمه ماده: په هغو کسانو باندی دازادی د تحدیدوونکی جزا تنفیذ چه د خپل عمر اوولسم کال ته نه دی رسیدلی په خاصو ځایونو کښی او د نورو محکوم علیه نه بیل کیږی.

## څلورم باب

## مشروط خلاصون

څلور سوه دیرشمه ماده: کله چه د آزادی د تحدیدوونکی جزا په قطعی حکم محکوم شوی شخص د خپلی جزا دری ربعې په محبس کښی تیرې کړی او په محبس کښی دده ګوزاره دهستوګنی په موده کښی دده دنفس د اصلاح کیدو ډاډ ورکوی نو د ده مشروط خلاصون جواز لری بې له دی چه دده خلاصون عامه امنیت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطره راولاړه کاندی. هغه موده چه محکوم علیه ئی باید په زندان کښی تیره کړی په هیڅ صورت باید له نهو میاشتو کمه نه وی.
که چیري جزا عمری بندوی نو د محکوم علیه مشروط خلاصون په زندان کښی له پنځلسو کلونو تیرولونه مخکښی جواز نه لری.

څلورسوه یو دیرشمه ماده: که چیري هغه جزاګانی ګښی وی چه شخص پری دهغو جرمونو له کبله محکوم شوی دی چه زندان ته له ننو تلو مخکښی یی د هغو ارتکاب کړی وی نو مشروط خلاصون ئی د جزا د پاتی ټول وخت او د هغی جزا د مودی څخه حسابیږی چه د دغه جرم کولوله کبله پری محکوم شوی دی.

څلور سوه دوه دیرشمه ماده: که چیري د آزادی په تحدیدوونکی جزا باندی محکوم علیه په توقیف کښی داسی موده تیره کړی وی چه د محکوم بها مودی نه د طرح کولو قابله وی نو په دی صورت کښی، مشروط خلاصون د ټولی محکوم بها مودی له مخه کیږی. د عفوې دصادریدو له مخه د جزا تخفیف دهغی مودی په حساب کښی نه شی نیول کیدی چه تیرول ئی د مشروط خلاصون د پاره ضروری دی.

څلور سوه دری دیرشمه ماده: مشروط خلاصون تر هغه وخته پوری جواز نه لری چه څو محکوم علیه ټول هغه محکوم بها مالی التزامونه تحویل کړی نه وی چه د ابتدائیه محکمی له خوا پری د جرم له کبله محکوم شوی دی. خو په دی شرط چه د محکوم علیه له وا که د دغو مالی التزامونو تحویلی محاله ونه کڼله شی.

څلور سوه څلور دیرشمه ماده: مشروط خلاصون د داخله وزارت د محبسونو د لوی آمر په پیشنهاد او د عدل دوزیر په موافقه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور سوه پنځه دیرشمه ماده: هغه شرطونه چه مشروط خلاصیدونکی باید د هغو مراعات وکړی د عدل د وزیر له خوا ټاکل کیږی.

د غه شان هغه شرطونه هم چه لکه په ټاکلی ځای کښی د اوسیدو، د معیشت د طرز، د ښې ګوزاری د ضمانت ورکولو په باب په ده ایښودل کیږی د عدل د وزیر په امر کښی څرګند ښودل کیږی.

څلورسوه شپږ دیرشمه ماده: بندی د مشروط خلاصون د امر سره مربوطی اداری ته سپارل کیږی چه د دغه امر د اجرا کولو او هم د یوی داسی تصدیق پاڼی د ورکولو په باب چه د محکوم بها جزا نوم، د هغی موده، د هغی د تیریدو ټاکلی نیټه او د مشروط خلاصون نیټه پکښی درج شوی وی اقدام وکړی، هغه شرطونه چه باید مشروط خلاصیدونکی ئی رعایت وکړی او هغه واجبات چه په ده باندی ایښودل شوی دی هغه هم په تصدیق پاڼه کښی درج کیږی او په هغی کښی ده ته اخطار ورکول کیږی چه که د دغو شرطونو لوواجباتو رعایت ونه کړي یا داسی څه وکړی چه دده په بده ګوزاره دلالت وکړی مشروط خلاصون لغو کیږی او دی د لاندینی مادی د حکم سره سم زندان ته په ستنه پیول کیږی.

څلور سوه اووه دیرشمه ماده: که مشروط خلاص شوی د خلاصون د شرطونو رعایت ونه کړی او خپل واجبات په ځای نه کړي، مشروط خلاصون لغو کیږی، او شخص بیرته زندان ته بیول کیږی چه خپله پاتی موده پکښی تیره کړي په دې حالت کښی د خلاصون لغو کول د ځارنوالی په پیشنهاد او د عدل د وزیر په امر کیږی.

په دې باب چه کوم پیشنهاد دکیږی باید موجبه اسباب پکښی ذکر شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور سوه اته دیرشمه ماده: که چیري د مشروط خلاصون لغو کول لازم وګڼل شی څارنوالی کولی شی چه په خپل تشخیص یا د مربوط مقام په پیشنهاد د خلاص شوی شخص د ګرفتاری او توقیف امر د عدل د وزیر ترقراره پوری صادر کړي. په دی صورت کښی دا په کاردی چه دتورن د بند موده له پنځلسو ورځو زیاته نه شی او یا دا چه د لوی څارنوال امر حاصل کړی شی او هر کله چه د مشروط خلاصون امر لغو کړی شی نو هغه موده چه تورن په دی صورت زندان ته د بیرته راوستلونه پس تیره کړی ده د واجب التنفیذ مودی نه تخفیفیږی.

څلور سوه نه دیرشمه ماده: که چیري مشروط خلاصون د محکوم بها جزا د مودی تر اخره پوری لغو نه کړی شی نو پسی قطعی کیږی

که چیري محکوم پها جزا عمری بند وی نو د مشروط خلاصون د دری کاله تیریدونه پس دخلاصون امر قطعی کیږی.

سره ددی هم که چه مشروط خلاص شوی دیو داسی جنایت یا جنحی د ارتکاب له کبله چه دده پخوانی جرم ته ورته وی دپورتنی فقری په موده کښی د ننه دننه یوځل بیا محکوم علیه شی نوکه چیري په دوهم حکم دری کاله نه وی تیر شوی د مشروط خلاصون لغو کول جواز لری.

څلورسوه څلویښتمه ماده: که چیري دمشروط خلاصون قانوني شرطونه موجود وی، د بندی مشروط خلاصون په دوهم وارهم کیدی شی، په دی حالت کښی د محکوم بها جزاء پاتی موده د محکوم بها جزا ټوله موده ګڼل کیږی:

که چیري محکوم بها جزا عمری بند وی نو مشروط خلاصون د دری کالو د تیرولو نه مخکښی جواز نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور سوه یوڅلویښتمه ماده: څارنوالی د مشروط خلاصون په باب شکایتونه دغور لاندی نیسی او د هغو د لری کولو د پاره لازم اجراآت کوی.

پنځم باب
دنقدی تادیاتو د احکامو تنظیم

څلور سوه دوه څلویښتمه ماده: د هغو مبلغو نو چه دنقدی جزا له درکه ئی دولت مستحق دی او دهغو مبلغو نو چه باید بیرته ورکړل شی او د دعوی د لګښت او تعویضاتو د تسوئی له کیدلو وروسته څارنوالی مکلفه ده چه مقدار ئی له تنفیذه مخکښی محکوم علیه ته ابلاغ کړی خوپه دی شرط چه دغه مقدار په حکم کښی نه وی څرګند شوی.

څلور سوه دری څلویشتمه ماده: حکومت ته د قابل تادیه مبلغ تحصیل د هغو حقوقی اجراآتو قاعدو مطابق چه په حقوقی مسایلوتطبیقیږی او د دولتی مالونو د تحصیل په اداری لارو چارو جواز لری.

څلورسوه څلورو څلویښتمه ماده: که چیري تورن قابل تادیه مبلغ دولت ته ور نه کړی څارنوالی د دې قانون د څلور سوه نه څلویښتمی مادی اوورپسی موادو د احکامو مطابق د تورن د توقیف امر صادروی.

څلور سوه پنځه څلویښتمه ماده: که چیري دنقدی جزاء او د هغه څه چه اعاده ئی لازمه ده او د تعویض او د دعوی د لګښتونو په ورکړه یوځای حکم صادر شی او د محکوم علیه مال د هغو ټول د پوره کولو د پاره کافی نه وی هغه مبلغ چه لاس ته راشی په دی ترتیب په مستحقینو ویشل کیږی:

اول: هغه لګښتونه چه باید دولت ته ورکرل شی.

دوهم: هغه مبلغ چه باید دحق العبد مدعی ته ورکړل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم: د نقدی جزا مبلغ او هغه څه چه د تعویض په نامه یا د
اعادی له لاری باید دولت ته ورکړل شی.

څلور سوه شپږ څلویښتمه ماده: که چیري شخص توقیف شی او په نتیجه کښی
یوائی په نقدی جزا محکوم شی نو محکوم علیه ته د هری
ورځی توقیف په سرکښی پنځوس افغانی مجری ورکول کیږی.
که چیري په حکم کښی نقده جزا او حبس دواړه وی او توقیف
موده ئی د محکوم بها حبس له مودی زیاته وی نو محکوم علیه
ته د زیاتو ورځو په سرکښی د پورتنی فقری مطابق د دغه مبلغ
نه مجری ورکول کیږی.

څلور سوه اووه څلویښتمه ماده: ابتدائیه قاضي په استثنائی حالاتو کښی د
تورن د غوښتنی او د څارنوالی د موافقی له مخه کولی شی چه
محکوم علیه ته د دولت مستحقه مبلغ د ورکولو په باب مهلت
ورکړی او یائی د ورکړی د پاره قسطونه وټاکی خوپه دی شرط
چه دمهلت یا قسطونو ټوله موده له نهو میاشتو
زیاته نه شی.
د دغسی غوښتنی د منلو یانه منلو په باب صادر شوی امر د
استیناف وړنه دی. که چیري تورن د یو قسط تحویل وځنډوی
نوقسطونه له منځه ځی او قاضی که لازمه وګڼی د قسط د لغو
کولو امر صادر ولی شی.

## شپږم باب
## د حکم د تنفیذ په غرض توقیف

څلور سوه اته څلویښتمه ماده: دهغه مبلغ د تحصیل د پاره دمجرم توقیف جواز
لری چه د جرم د ارتکاب له کبله د هغه په ورکړه محکوم شوی
دی.
توقیف یوه ورځ د پنځو سو محکوم په افغانیو په مقابل کښی
تطبیق کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قباحتو نو په باب د توقیف موده د نقدی جزا د تحصیل د پاره له اوو ورځو او ددعوی دلګښت او دهغه څه چه اعاده ئی لاژمه ده او د تعویض دپاره له اوو ورځو زیاتیدلی نه شی. د جنحو او جنایتونو په باب د توقیف موده د نقدی جزا د تحصیل دپاره له درو میاشتو او ددعوی د لګښت او هغه څه چه اعاده ئی لاژمه او د تعویض د پاره له درو میاشتو زیاتیدلی نه شی.

څلور سوه نه څلویښتمه ماده: په هغو محکوم علیهم باندی د توقیف په شکل تنفیذ نه شی کیدی چه د جرم د ارتکاب په وخت کښی یی عمر له پنځلسو پوره کلونو اوښتی نه وی او یا د حبس په جزا باندی د جزا د څنګ سره محکوم شوی وی.

څلور سوه پنځو سمه ماده: ددی قانون دڅلور سوه یوویشتمی او څلور سوه خلیرو ویشتمی مادی حکمونه د تنفیذ په برخه کښی دتوقیف په وسیله تطبیقیږی.

څلور سوه یوپنځوسمه ماده: که چیري احکام متعدد وی او ټول د قباحتونو، یا جنحو یا جنایتو نو په باب صادر شوی وی تنفیذ د ټول محکوم بها مبلغ له مخه کیږی.

په دی حالت کښی باید چه دتوقیف موده د جنحو او جنایتونو د جزا د اخریني حد نه او د قباحتونو په باب له یویښتو ورځو زیاته نه شی، خو که چیري جرائم مختلف النوع وی نو دهر جرم د جزا حدا کثر په نظر کښی نیول کیږی خو البته دتوقیف موده په هیڅ حالت کښی د نقدی جزا د تحصیل دپاره له شپیږو میاشتو او دلګښتونو، او دهغه څه چه اعاده ئی لاژمه وی ا و دعوض د تحصیل دپاره له شپږو میاشتونه زیا تبدیلی نه شی.

څلور سوه دوه پنځوسمه ماده: که چیري محکوم فیها جرائم مختلف وی نوهغه مبلغ چه ورکړ شوی دی یا د محکوم علیه په شتمنی باندی د حکم د تطبیق په لاره تحصل شوی دی نولو مړی په جنایتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې بیا په ځنځو او ورپسې په قباحتونو کښې د محکوم بها مبلغ نه طرح کیږی.

څلور سوه دری پنځو سمه ماده: د توقیف په لار تنفیذ د څارنوالی د امر له مخه د عدل د وزیر دلاربنودنی مطابق کیږی. اوله هغه وروسته چه دا خبره تورن ته ددی قانون د څلور سوه دری څلویشتمی مادی مطابق ابلاغ کړی شوه او د آزادی تحدیدوونکی موده هم تیره شوی وه شروع کیدای شی.

څلور سوه څلور پنځو سمه ماده: څه وخت هغه چه مبلغ چه تحصیل یی مطلوب دی د هغه دطرحی نه پس چه یا محکوم علیه ورکړی او یا دده په شتمنی باندی دحکم د تطبیق له لاری تحصیل شوی دی په پورتنو موادو کښې دراغلی سنجش له مخه د هغه مودی سره مساوی شی چه محکوم علیه په توقیف کښې تیره کړی ده، نو توقیف پای ته رسیږی.

څلورسوه پنځوسمه ماده: محکوم علیه دلګښتونو دعوض او دهغه څه له ورکړی څخه چه اعاده ئی لازمه ده او دغه شان د توقیف په لار د نقدی جزا له ورکړی څخه یواځی په هغه صورت معافیدلی شی چه دهرو پنځوسو افغانیو په سر یوه ورځ په توقیف کښې تیره کړی. که چیري د جنحو هغی محکمی ته چه دمحکوم علیه دهستوګنی ځای دهغی په قضائی ونډکښې دننه وی دا جوته شی چه محکوم علیه په ورکړه قادر دی او محکمی پری دور کړی حکم هم کړی د خو تعلل کوی کولی شی چه په ده باندی د توقیف په لار د تنفیذ امر صادر کاندی، په دغسی حالت کښې دتوقیف موده له درو میاشتو زیاتیدلی نشی او په دغه حالت کښې د توقیف په بدل کښې د عوض د مبلغ نه هیڅ مقدار نه طرح کیږی. د محکوم له پلوه په معموله طریقه دعوی اقامه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورسوه شپږ پنځو سمه ماده: محکوم علیه کولی شی چه د توقیف د امر له صادریدو نه مخکښی هر وخت د څارنوالی نه غواړي چه دکوم مبلغ حکم په ده شوی دی هغه دی په یوداسی لاې او یا صنعتی کار باندی چه دی ئی اجرا کړي بدل کړي.
څلور سوه اووه پنځوسمه ماده: محکوم علیه دپورتنۍ مادی ذکر شوی کار د یوی دولتی اداری د پاره بی مزدوری دهغی مودی په اندازه برابر چه دتوقیف له لاری دتنفیذ له مخه په ده باندی راتله اجرا کوی.
څلور سوه اته پنځوسمه ماده: دهغه قسم کار ونو دانو اعو ټاکنه چه ددې قانون دڅلور سوه شپیږ پنځوسمی مادی مطابق پرې دی محکوم علیه بوختیدنه جواز لری او دغه شان هغه اداری مربوط مراجع ټاکل چه دغه انواع تثبیتوی د مربوطه وزارت د وزیر د قرار له مخه کیږی.
څلور سوه نه پنځو سمه ماده: په کار باندی د څلور سوه شپږ پنځوسمی ماده د حکم مطابق د محکوم علیه بوختیدنه دهغه ښار یا ولسوالی نه بهر چه دی پکښی او سی جواز نه لری.
څلور سوه شپیتمه ماده: هغه محکوم علیهم چه دڅلور سوه شپږ پنځوسمی مادی د حکم مطابق ئی په کار باندی بوختیدنه ټاکل شوی وی خو هغه ځای ته چه د دوی د کار د پاره په ګونه شوی دی بی دکم معقوله عذره نه ورځی یا د کارد کولو ته پتیږی یا د یوی ورځی د ټاکلی اندازی کار نه پوره کوی توقیف ځای ته لیږل کیږی چه دقانون مطابق د توقیف په لار د تنفیذ امر پری تطبیق شی.
محکوم علیه نه دهغو ورځو مجرا و رکوله کیږی په کومو کښی چه ده مطلوب کار اجرا کړی دی.
څلور سوه یوشپیتمه ماده: همدغه شان د توقیف د لاری نه دتنفیذ حکم په هغو محکوم علیهم باندی هم تطبیق کیږی چه کار په توقیف غوره وګڼی خو داسی کار پیدانه شی چه په هغه باندی د دوی په بوختید نه څه ښیګره په لاس راغلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور سوه دوه شپیتمه ماده: د هری ورځی دکار په سر دهغه مبلغ له جملې نه
چه ورکړه ئی دولت ته لازمه ده لکه د تعویض جزا، هغه څه چه
اعاده ئی لازمه ده او د دعوی لګښت پنځوس افغانی طرح
کیږی.

## اووم باب
## د تنفیذ اشکال

څلور سوه دری شپیتمه ماده – هر قسم اشکال چه د محکوم علیه له پلوه د
تنفیذ په مقابل کښې را ولاړشی هغې محکمې ته وړاندې کیږي
چه د تنفیذ محل د هغې په قضائی وند کښې د ننه وي

څلور سوه څلورشپیتمه ماده: نزاع بې له ځنډه دڅارنو نوالی په لاس محکمې ته
وړاندې کیږي، ذي علاقه کسان مکلف کیږي چه د نزاع د
پریکړې دپاره کمه غونډه ټاکل کیږي چه هغې ته حاضر شي.
محکمه چه د څارنوالی او ذي علاقه اشخاصو بیان واوری نو د
موضوع د پریکون اقدام کوي. په دغه باب د محکمې قرار
نهائی دی.
محکمه که لازمه وګڼي کولای شي چه لازم تحقیقات وکړی او د
دي خبری واك لري چه د نزاع د پریکړی تر نتیجې پورې د تنفیذ
د ځنډولو امر صادر کړي.
دغه شان څارنوالي کولای شي چه که لازمه وګڼي محکمې ته د
نزاع له وړاندي کیدونه مخکښې په موقت صورت د حکم تنفیذ
ځنډوي.

څلورسوه پنځمه شپیتمه ماده: که چېرې د محکوم علیه د شخصیت په سر نزاع
پېښه شي نو پریکړه ئی د دوو پورتنو مادو د احکامو مطابق
کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورسوه شپږ شپېتمه ماده: که چېرې د محکوم علیه په شتمنی باندې د مالي احکامو د تنفیذ په حالت کښې د تنفیذ لاندې راغلو مالونو په باب د محکوم علیه نه پرته د بل چاله پلوه نزاع را ولاړه شي نو دا موضوع د حقوقو محکمی ته د حقوقي اجرااتو د قاعدو مطابق وړاندې کیږي .

## اتم باب

## د محکوم علیه د مړيني له کبله د حکم سقوط

څلور سوه اووه شپېتمه ماده:که چېرې محکوم علیه د حکم د قطعیت نه وروسته ومړی نو حکم ساقطیږي .

څلورسوه اته شپېتمه ماده: د محکوم علیه د مړيني له کبله د حکم سقوط د ده په متروکه باندې د عوض دور کړی، د هغه چه څخه دور کړی چه اعاده ئې لازمه ده او د دعوی د لګښت په باب د مالي جزا د حکم د نافذ کیدو مخه نه نیسي .

## نهم باب

## د حیثیت جارویستنه

څلورسوه نه شپېتمه ماده: هر څوك چه په جنایت یا جنحه کښې محکوم علیه واقع شي هغه ته د حیثیت جارویستنه جواز لري .

څلورسوه اویایمه ماده: د حیثیت د جارویستنی حکم د محکوم علیه د غوښتني له خه د جنایاتو د مربوطي محکمې له پلوه د صادریږي .

څلور سوه یو اویایمه ماده: حیثیت د جارویستنی په باب ددې شرطونو رعایت کیږي .

۱: جزا باید یه مکمل صورت نافذه شوی یا یی عغو صادره شوی وي .

۲: که چېرې جزا د جنایت له کبله وي نو د تنفیذ له تاریخه په ئی شپږ کاله او که د جنحی له کبله وي د تنفیذ له تاریخه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې کاله تیر شوي وي. اوکه چېرې دغه حکم د جرم د تکرار په اثر صادر شوی وي نو پورتنی موده یو په دوه کیږي .

ځلورسوه دوه اویایمه ماده: که چېرې محکوم علیه د اصلي جزا د زغملو نه پس د پولیس د څارنی لاندې نیول شوی وي نو د حیثیت د جارویستني موده پولیس د څارنی د ختمیدو له وروستی ورځی نه حسابیږي .

ځلورسوه دری اویایمه ماه: که چېرې محکوم علیه په مشروط ډول خلاص شوی وي د حیثیت د جارویستلو موده د جزا د ختمیدو د ټاکلي تاریخ او یا له هغه تاریخ چه مشروط خلاصون نهائي شکل غوره کوي حسابیږي .

ځلورسوه ځلور اویایمه ماده: د حیثیت د جارویستنی حکم هغه وخت صادریدلی شي چه محکوم علیه نقدي جزاء هغه څخه چه اعاده ئی لازمه ده او عوض او د دعوی لګښت پوره پوره ورکړی وي .

که چېرې محکوم علیه خپله نشتمنی ثابته کړي نو محکمه کولای شي چه د حیثیت د جارویستلو په باب د محکوم بها مبلغ دور کړي د شرط نه تیر شي .

که چېرې د عوض، د هغه څه چه اعاده ئې لازمه ده او د لګښت محکوم له پیدا نه شي او یا د محکوم به اخیستلو نه ځان وژغوري نو محکوم علیه مکلف دی چه د حقوقي اجزاآتو د قاعدو مطابق هغه امانت کیږدی .

که چېرې محکوم له ئې په پنځو کالو د ننه غوښتنه و نه کی نو د محکوم علیه له خوا د هغه بیرته اخستنه جواز لري .

که چېرې په محکوم علیه باندې د تضامن په اساس حکم صادر شوی وي نو یوائې د پور د هغې برخې پریکون چه په ده پورې تعلق لري کافي دی او که لازمه شي هغه برخه چه دی ئې باید پریکړی د محکمې له خوا ټاکل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څلورسوه پنځه اويایمه ماده: که چېرې د حيثيت د جارويستنی دغوښتنوال په باب ګڼ حکمونه صادر شوي وي نو ترڅو پورې چه ده د هر حکم په باب په پورتنو مادو کښې درج شوی شرطونه پوره کړی نه وي تر هغې پورې د ده د حيثيت جارويستنه جواز نه لري او په دي حالت کښې د مودی د سنجش په باب د وروستی حکم تاريخ اعتبار لري.

څلورسوه شپږ اويايمه ماده: د حيثيت د چارويستنی غوښتنه په يوه عريضه کښې څارنوالی ته وړاندې کيږي، په دي غوښتن ليك كښې بايد د غوښتنوال د هويت په باب، د هغه حکم تاريخ په باب چه دده خلاف صادر شوی او د هغو ځايونو په باب چه د حکم نه وروسته پکښې اوسيدلی دی لازم بيان درج وي .

څلورسوه اووه اويايمه ماده: څارنوالی د غوښتنوال په باب دخپل اطمينان حاصلولو دپاره د حکم د صادريدو نه پس په هر ځای کښې دده د اوسيدنی د مودی او نېټې، د ده دګوزاری او معيشت دوسيلو په حقله او د نورو لازمو معلوماتو د لاس ته راوستلو دپاره خپل تحقيقات کوي، څارنوالي دغه تحقيقات د حيثيت د جارويستنی د غوښتن ليك په ملتيا د خپلی نظر يې او د هغې د موجبه اسبابو د ذکر سره د غوښتن ليك د وړاندې کيدو نه پس په درو مياشتو کې دننه دننه محکمې ته وړاندې کوي او دا پاڼی هم ورسره يو ځای کوي:

١: د هغه حکم يو نقل چه د غوښتنوال خلاف صادر شوی دی .

٢: د ده دسوابقو ريوټ .

٣: په محبس کښې د غوښتنوال د ګوزاری ريوټ .

څلورسوه اته اويايمه ماده: د حيثيت د جارويستنی غوښن ليك د محکمې له پلوه د غور لاندې نيول کيږي، محکمه د څارنوالی او غوښتنوال بيان اوريدلی شي او هم په دغه باب هر قسم معلومات حاصلولی شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنوال کم نه کم د غونډی د کیدونه اته ورځې مخکښې محکمې ته په حاضریدو مکلف کیږي .
هغه حکم چه محکمه یې په دغه باب صادر وي یو اځې د ستری محکمې له خوا د قانون په تطبیق یا تاویل کښې د خطاء د پیښیدو په اساس پرې له نوی سره غور کیدی شي .
څلورسوه نه اویایمه ماده: که چېرې محکمې ته څرګنده شي چه د غوښتنوال ګوزاره د حکم د صادریدو له وخته راهیسی دده د ځان د اصلاح په باب د ډاډ وړ ده او د دې قانون د څلور سوه څلور اویایمی مادي دوه شرطونه هم موجود وی نو محکمه د حیثیت د جارویستنی په باب خپل حکم صادر وي .
څلورسه اتیایمه ماده: دحیثیت د جارویستني د حکم یونقل د څارنوالي له پلوه هغې محکمې ته چه د جزا حکم ئې صادر کړی دی د اصلي حکم په حاشیه د قید کولو د پاره لیږل کیږ ی .
دغه شان د سوابقو په دفتر کې د حیثیت د جارویستنی د حکم د قیدولو امر صادر وي .
څلورسوه یو اتیایمه ماده: محکوم علیه ته د حیثیت د جارویستنی په باب د حکم صادرونه فقط یو ځل جواز لري .
څلوسوه دوه اتیایمه ماده: که چېرې د حیثیت د جارویستنی غوښتن لیك د محکوم علیه د ګوزاري له مخه قبول نه کړي شي نو د غه غوښتن لیك د دوه کاله تیریدونه مخکښې تازه کیدی نه شي .
په نورو حالاتو کښې که چېرې لازمه شرطونه راجمع شي نو غوښتن لیك تازه کیدی شي .
څلور سو ه دری اتیایمه ماده: که چېرې دا څرګنده شي چه د محکوم علیه خلاف نور داسې حکمونه صادرشوی دي چه محکمه ئی له صادریدو نه خبره نه وه پس د یو داسې جرم دار تکاب له کبله په جزا محکوم شي چه د دغه حکم د صادریدونه مخکښې پیښ شوی وي نو محکمه کولای شي چه د حیثیت د جارویستنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم لغو کړي . د الغاء حکم د څارنوالي د غوښتنی له مخه د
هغې محکمې له خوا صادریږي چه د حیثیت د جارویستنی
حکم ئی صادر کړی وي .

څلورسوه څلور اتیایمه ماده: که چېرې په دې لاندنیو مودو کښې په محکوم
علیه باندې د جنایت یا جنحي له کبله داسې جزائی حکم صادر
نه شي چه دده په سوابقو کښې باید قید شي نو دده حیثیت د
قانون په حکم جار وځي:

او ل – د جنایت یا جنحي له کبله په جزا باندې د محکوم علیه
په باب پدې لاندنیو جرمونو کښې د جزا یه تنفیذ باندې د
دولسو کلونه پس:

الف – غلایا د غلا کړو شیو نو پټ ساتل .

ب – حیله جوړول یا په امانت کښې خیانت کول .

ج – تزویر .

د – په دغو پورتنو جرمونو باندې یا د زراعتي پیداوار یا
زراعتي کروندې یا د ونو په تلفولو پورې مربوطو جرایمو او یا د
حیواناتو په تلفولو پورې مربوطو جرایمو باندې شروع .

دوهم – په پورتنۍ فقره کښې د ذکر شوي جنحي نه پرته جنحي
له کبله په جزا باندې د محکوم علیه په باب د جزا به تنفیذ یا
عفو باندې د اتو کلونو له تیریدونه پس. که چېرې محکوم علیه
په صادر شوی حکم کښې متکرر پیژندل شوی وي دا موده یو په
دوه کیږي .

څلورسوه شپږ اتیایمه ماده: د حیثیت د جارویستنی د حکم صادریدو نه د
آینده په باب د محکوم علیه د الزام د حکم د محوه کیدو موجب
کیږي او ددې حکم ټول آثار لکه د اهلیت زوال، د مدنې حقونو
نه محرومیدل او نور له منځه باندې د بل چا خلاف د هغو حقونو
په باب چه د الزام د حکم په نتیجه کښې ئی حاصل کړی دی
مخصوصاً د هغه په باب چه اعاده یی لازمه ده او د عوض په
باب تکیه نه شي کیدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عمومي احکام

### لومړۍ برخه هغه اجراآت چه د پاڼو او حکمونو دور کیدو په صورت کښې کیږي

څلور سوه اته اتیایمه ماده: که چیرې اصل حکم د تنفیذنه مخکښې او یا د تحقیق اوراق د قرار د صادریدو نه مخکښې ټول یا ځینې ورك شي د دې برخې د لاندې مادو حکمونه تطبیقیږي .

څلور سوه نه اتیایمه ماده: که چیرې د حکم مثنی و موندله شي د اصل قایمقامه ګڼل کیږي .

که چیرې مثنی د یو شخص یا یو مقام تصرف کښې څارنوالي د هغې محکمې نه د هغه شخص یا مقام دپاره چه د مثنی د سپارلو امر ئی ورته کړی دی د بلی مثني لیکلی امر حاصلوي او هغه څوك چه مخکښې ترې اخستل شوی ده بی د محصول له ورکړی د یو نقل مستحق دی .

څلور سوه نوی یمه ماده: د حکم د اصلي نسخي ورکیدل په هغه صورت کښې چه د اعتراض قانونی مراحل پرې تیر شوی وي د محاکمي د جارویستنی موجب کیدی نه شي .

څلور سوه یو نو یمه ماده: که چیرې قضیه د ستری محکمی د غور لاندې وي او د حکم د مثنی لاس ته راوستل ناشونی وي نوکه چیرې په حکم باندې د اعتراض ټول مراحل تیر شوي وي نو ستره محکمه د محاکمی د جارویستنی امر کوي .

څلورسوه دوه نوی یمه ماده: که چیرې د تحقیق پاڼې د تحقیق په باب دقرار له صادریدو نه مخکښې ټولی یا ځینې ورکی شي د تحقیق هغه برخه بیا نوی کیږي چه ورکی شوی پاڼی ورپورې تعلق لري . که چیرې فضیه د محکمې دغور لاندې نوي نو لازمه تحقیق د محکمی له پلوه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور سوه دري نوی یمه ماده: که چېرې د تحقیق پانې تړولی یا ځینې ورکې شي
او د محکمی حکم موجود وی او قضیه په ستره محکمه کښې
دغور لاندې وي نو د اجراآتو هېڅ یوه برخه هم نه نوی کیږي بی
له دي چه ستره محکمه ئی لاژمه و ګڼی .
څلورسوه څلور نوی یمه ماده: په دې قانون کښې د ټولو درج شویو میعادونو
سنجش په افغانستان کښې د رواج شمسی هجري تقویم له مخه
کیږي .
څلور سوه پنځه نوي یمه ماده: د جنایت، جنحی او قباحت د اصطلاحاتو تعریف
د مامورینو د جرمونو او د عامه امنیت او منفعت خلاف د
جرمونو د جزا د اصولولنامي د مشمولو جرمونو په باب په
اتلسمه، نولسمه، شلمه او دوه ویشتمه ماده کښې شوی دي.
د سایرو جرمونو په باب ددې قانون د مقاصدو دپاره دغه
اصطلاحات دا معناوي لري:
الف: هغه جرمونه چه د اسلامي شریعت د حنفي فقهي د احکامو
مطابق د حد یا د قصاص یا د نفس د دبت یا د اعدام د تعزیر
موجب وي جنایت ګڼل کیږي .
ب: نور هغه اعمال چه د ذکر شوی فقهي د احکامو مطابق جرم
ګڼل شوی وي جنحه بلل کیږي بی له دی چه څارنوالی په خپله
غوښتنه د هغه د مر تکب د پاره د یوي میاشتی نه د کمی مودی
حبس وغواړي چه په دی حالت کښې جرم قباحت بلل کیږي .
څلورسوه شپږ نوی یمه ماده: د اساسي قانون د یو سل او دوه ویشتمی او د
قضائی تشکیلاتو او صلاحیت د قانون د سلمي مادی د
احکامو له مخه هغه و ظایف چه ستری محکمی ته سپارل شوی
دی د دغې محکمی تر جوړیدو پورې د ۱۳۴۳ کال د عقرب د
۶ مې نېټې ۱۰۲۰ پر ۱۳۸۱ ګڼې باچایی فرمان په موجب د
تمیز د محکمی د مربوطو دیوانونو له خوا اجرا کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورسوه اووه نوي یمه ماده: د انتقال په دوره کښې څارنوالۍ د جرمونو
دتعقیب او تحقیق په برخه کښې خپل وظایف چه ددې قانون
دمندرجاتو مطابق ورسپارل شوی دی د څارنوالۍ د چارو
دتنظیم د قانون د احکامو مطابق د پولیس په ملګرتیا اجرا
کوی.

څلور سوه اته نوی یمه ماده: د عدل وزارت مکلف دی چه ددی قانون د احکامو
دتنفیذ دپاره لاژمی تعلیماتنامی جوړی کړی.

څلورسوه نه نوی یمه ماده: هغه قوانین چه ددی قانون له احکامو سره مغایرت
لری لغوشوی ګڼل کیږی.

پنځه سومه ماده: داقانون په رسمی جریده کښی د نشریدو له نیټې څخه
نافذیږی.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library